# دتدريس اصول او ميتود

# Teaching Techniques and Methods

ميتود يوه يوناني اصطلاح ده چې له Meta او Hodes دوه کلمو څخه اخستل شويده  ميتا د دننه، په منځ کې او د دوام مانا ګانې لري او د هودس مانا "لاره" ده. په عنعنوي توګه ميتود هغه جوته شوې، ډاډمنه او لنډه لاره ده چې خلک پرې تللي وي او کولای شي ژر تر ژره ځان ورباندې هدف ته ورسوي.

هر انسان د يو کار د سرته رسولو لپاره ځانګړي هدفونه لري او هغوی ته درسيدلو لپاره ډول ډول لارو او چارو څخه کار اخلي. دا لارې چارې چې د يو هدف د ترلاسه کولو لپاره کارول کيږي،ميتود نوميږي.دتدريس ميتودونه هم همداسي منطقي او منظمې لارې چارې دي چې ښوونکي دهغې په کارولو سره خپل درسي بهير په ټولګي کې پرمخ بيايي چې دی او زدهکوونکي يې به ډاډمنه، اغيزمنه او آسانه توګه درسي هدفونه ترلاسه کړي. ځيني علماً د تدريس ميتود په هکله داسې ليکي:

ميتود د يوناني Methodus کلمې څخه اخستل شوې چې معنايې اصول، روش او ديوې مسٔلې دحل کولو لارې چاري دي، يا داچي د ښوونيزو کارونو داجرا کولو له پاره يو سيستماتيک او ثابت دستور او يا ددرس دهر ډول عملياتو رهنمايي کولو ته ميتود وايي. په دی ډول ښه ميتود هغه ميتود دی چې دزده کړې هدفونوته ژر او آسانه رسيدل تضمين کړي. او ځينې اثارو کې د تدريس اصول په هکله داسې ليکي:

دتدريس اصول ددوو کلمو اصول او تدريس څخه ترکيب شوی دی، لازمه ده چې ددريو په شکل ... معلومات وړاندې کړو.

Ketabton.com

اصول داصل د کلمې جمع ده چې دريښې، بنسټ، اساس، قاعدهاو قانون به معنې دي، خو به اصطلاح کې ديو لړ قواعدو، مقرراتو او قوانينو څخه عبارت دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې دلوړو مقاماتو له خوا د ټولنيزو امورو او مسايلو د تطبيق له پاره وضع کيږي.
تدريس په لغت کې درس ورکولوته وايي او په اصطلاح کې تدريس دزده کونکو د پيژندنې او په فردي او اجتماعي توګه د هغوی له لارښوونې څخه عبارت دي. له دې تعريف څخه داسې نتيجه اخلو چې ښوونکی خپله زده کړه، تجربه او پوهه په منظمه توګه زده کوونکو ته انتقالوي چې د ټولني دغوښتنی سره سم يو سالم او فعال فرد ټولنې ته وړاندې کړي ترڅو په ټولنه کې د خدمت مصدر وګرځي.

**دتدريس اساسی هدفونه:**

- دښوونې او روزنې ټاکل شويو هدفونو ته رسيدل.
- دمطلوبوهدفونو د لاس ته راوړلو په خاطرد ټاکل شوي تعليمي نصاب او پروګرام ترتيب او تنظيم.
- دزده کوونکو د سويې او استعداد په پام کی نيولو سره يو تعليمي نصاب تطبيقول.
- دعملي او تطبيقي زده کوې له باره ګټور او اغيزمن شرايط برابرول.
- دفردی او ټولنيزو مسؤليتونو پيژندل.
- دټاکل شويو هدفونو له مخې دزده کوونکو ارزول.
- دپورتنيو معلوماتونو په لرلو سره د تدريس اصول داسې تعريفوو:

**تعريف:** دتدريس اصول د يولړ هغو منظمو، ښوونيزو او روزنيزو فعاليتونو څخه عبارت دي، چې زده کوونکي او ښوونکي دواړه دتدريس هدف ته رسوي. په بل عبارت دتدريس اصول د ښوونکو اوزده کوونکو هغه متقابل عملونه دي چې په ټولګي کې دښوونيزو او روزنيزو فعاليتونو د سرته رسولو له پاره کارول کيږي دمثال په توګه:

ښوونکي يوه موضوع بيانوي                زده کوونکي يې اوري

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| ښوونکي سوال کوي | زده کوونکي ځواب ورکوي |
| ښوونکي هدايت او دنده ورکوي | زده کوونکي يي تطبيقوي. |
| زده کوونکي پوښتنه کوي | ښوونکي يي رهنمايي کوي. |

برسيره پردې د ښوونې او روزنې پوهانو د تدريس اصولو ته لاندي تعريفونه هم ورکړيدي.

- دتدريس اصول يولړ منظمې او معمولې لارې دی چې ښوونکی ورڅخه د تدريس په عمليه کې کار اخلي.
- دتدريس اصول يوه عملي طريقه ده چې هدف ته درسيدلو له پاره ټاکل کيږي.
- دښوونې او روزنې بنيادي لار ښوونو ته د تدريس اصول وايي.
- دزده کړې له پاره دزده کوونکو اماده کول دتدريس اصول دي.
- دتدريس طريقه بايد داسې وي چې زده کوونکي به آسانۍ موضوع درک او په معني او مفهوم يې پوه شي.

دتدريس په اصول مو يوڅه ځان پوه کړ غواړو چې ددرسي پروګرام سره دزده کړې د ميتود او اصول اړيکې ترکتنې لاندې ونيسو:

دتدريس يا زده کړې هدف دداسي لارو او وسايلو برابرول دي چې دهغی به واسطه زده کوونکي وکولای شي مطلوب معلومات ترلاسه کړي. دزده کوې به چارو کې دهر ښوونکي برياليتوب په ځينو عواملو پوري تړلی دي چې په ښوونکې پورې اړوند عوامل دادي.

- دښوونې اوروزنې په اصولو، تخنيکونو او اساساتو پوهيدل.
- په خپله خاصه او اختصاصي رشته کې بشپړه معلومات درلودل.
- په دې پوهيدل چې زده کوونکی ولی، دڅه دپاره او په څه ډول زده کړه کوي او يابې نه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په واقعت کې دا درې واړه خواوې يو دبل بشپړونکي اجزاوې دي. په کومه اندازه چې د زده کونکو توجه ښې په همغه اندازه ښايي چې ښوونکي دښوونې او روزنې د اصولو او اساساتو څخه ښه خبر وي.

اوس هغه وخت تيرشوی دی چې يو چا يه دښوونځي درسونو څخه يوازې يو څو قاعدې او محدود معلومات حافظې ته سپارل او معينه دوره به يي پای ته ورسوله او په پاي که به دښوونځي څخه فارغ شو.

څرنگه چې په ننۍ نړۍ کې دعلم پرمختگونه او په فنونو او اصولو کې چټک تغيراتو دخلکو په ژوند اثر اچولی، دانسان دژوندانه په هکله يې خاصې او ټولنيزې نوې اړتياوې رامنځ ته کړي دي چې ددې اړتياوو دلرې کولولپاره زيات علم، پوهې، بصيرت او مهارت ته اړتياده.

دهرښوونکي ډيره مهمه دنده دښوونيز او روزنيز هدفونو تشخيصول دي. تردي، ټولنيز او بشري اړتياوته پاملرنه هم دښوونې او روزنې اساسي هدف ټاکي. په دی ترتيب دښوونيزو او روزنيزو هدفونو دتشخيص سره سم دزده کوونکو دهلو ځلو، علتونو او مفهوم مندلو او دښوونکو هلې ځلې نتيجې ته ونه رسيږي يو علت به يي داوي چې خپله هدف تشخيص شوی نه دی.

ددي لپاره چې ښوونکی په خپل ټولگي او زده کوونکو پوره تسلط ولري او دزده کوونکو هڅې او کوښښونه ددرس په وخت کې په سمه لاره برابر کړي، برسيره پردې چې په خپله رشته کې پوره معلومات ولري بايد دښوونې او روزنې په اساساتو، او د پوهنې په اساساتو او دتدريس په عمومي او اجتماعي اصولوو پوهيږي. ددي معلوماتو په لرلو سره ښوونکی کولاي شي ددرس ورکولو ديو مناسب ميتود په خوښولو کې دخپل درک او استقلال څخه کار واخلي، خودا استقلال او درک په دي معني ندی چې هر ښوونکي به بې له کوم قيد او شرط څخه چې وغواړي، وکړي بلکه دښوونې او روزنې دهدف د پرمخ بيولو په وخت کې په هرومرو د مقرراتو او تعهداتو رعايت کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ښوونه او روزنه:**

دښوونې او روزنې معني د هغې دهرې برخې څخه کیږي. ښوونه زده کولو، یادلو او ښودلو ته وایي او روزنه دساتلو، لویولو، پاللو او څارنو په معني راغلې ده چې په مجموعه کې ددواړو لفظونو اصطلاحي معني داسې راغلې ده چې ښوونه او روزنه دهڅو او کوښښونو هغه مجموعه ده چې دهغې په مرسته د ماشوم وده او تکامل دمهمو اهدافو پرخوا سم او برابریږي په بل عبارت:

دښووني او روزنې کلمه Education له لاتینې کلمې څخه اخستل شویده یعنی Education Educare یا Educere. د Education یاEducare معنا روزل، منځته راوړل او پالل دي. په داسی حال کې چې د Educere معنا لارښودنه کول دي. دلومړنۍ معنا څخه مطلب دادی چې ښوونه او روزنه یو باندیني شی دي چې له بهر څخه تحمیل کیږي یا له بهر څخه راوړل کیږي،ددوهمي معنا څخه مطلب داخلي وده (رشد) ده. دجان دیوې په نظر ښوونه او روزنه دژوند هغه بهیردی چې دتجربو له پرله پسې جوړښت څخه لاس ته راځی. دده په نظر ښودنه او روزنه په فرد کې دټولو هغو استعدادونو وده ده چې دهغې په مرسته وکولای شی خپل چاپیریال کنترول او خپل مسؤلیتونه تر سره کړي. ددې څخه مطلب دادی چې ځینی یې طبیعي استعدادونه لري، دغو استعدادونو ته دټولنې دغوښتنې سره سم باید وده ورکړشي. ښوونه او روزنه ساکنه پدیده نده بلکه دا یوه پرله پسې او دژوند تر پایه پورې دوام لري ژوند ته دراتللو سره سم پیل کیږي. انسان دبیلا بیلو تجربو تراغیزې لاندی راځي یو ډول یا بل ډول سلوک زده کوي.

**دښوونې او روزنې هدفونه:**

ښوونه او روزنه یو داسې تغیر او تحول دي چې په زده کوونکو کې دښوونکی د لارښوونې او دزده کوونکي دهلوځلو په وجه دده په جسمي، ذهني او اخلاقي وده او ټولنیزو کړووړوکې راځي. داتغیر او پرمختګ دده دځانګړې، ټولنیزو

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرمختګونو سبب کیږي او زده کوونکي ته قدرت ورکوي چې خپلې فردي او ټولنیزې اړتیاوې لرې کوي.

دښوونې او روزنې له دندو څخه یوه هم داده چې زده کوونکو ته ټولنیز او فرهنګی ارزښتونه وربیژني، هغه تنظیم او پیاوړي کړي او په پاي کې دهغوی انتقال راتلونکي نسل ته ورپه ګوته کوي.

ددي معلوماتو په درلودلو سره دښوونې او روزنې اهداف دادي:

- دیو سالم فرد روزل.
- دټولنې دیو مطلوب او ښایسته غړي روزل.
- دیو داسې غړی روزل چې دپانګې په مناسب استعمال وپوهیږي یعنی فرد ته اقتصادي پوهه ورکړي چې اقتصاد ته څنګه پراختیا ورکړي او وکولاي شي، تولیدی فعالیتونه په ښه توګه اجرا کړي.
- دبشرپالنې دروحیې سره سم دفرد روزل یعنې دنړیوال او بشرغوښتنې داهدافو سره سم په سوله کې ژوند وکړي او دبشر دښیګڼو له پاره کار وکړي.
- دښوونې او روزنې معنوی هدف دادي چې په سرې کې د دندې پیژندنې احساس پیدا او تقویه شي، ټولنیز او فردي مسؤلیتونه قبول کړي، دتعصب څخه ځان وساتي، دنورو حقوقوته احترام وکړي او قانون ته غاړه کیږدي.

## دهیواد اصیل فرهنګ ته پام ساتل:

ښوونه او روزنه باید داسې فرد وروزي چې د خپل هیواد ملی فرهنګ او لرغونو ارزښتونو ته پام وکړي او دهغې په ساتنه کې کوښښ وکړي.

- دښوونې او روزنې بل هدف دادی چې یو جوړونکی، مبتکر او سازمان ورکوونکی انسان ټولنې ته وړاندې کوي او په هغه کې دهمکارۍ، متقابلې همدردۍ او مشترک ژوند روحیه پیدا کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمخه مود تدريس اصول تعريف کړل او دکوم وخت چې بشر دښودلو او تعليم مسايل پيل کړل نو دميتود اصول څخه يې کار اخستی دی يعنی پخواهم دتدريس له پاره قوانين وضع شوي او موجود وؤ دضرورت په وخت کې يې ورڅخه کار واخست. اوس دښوونې او روزنې دځينو پوهانو هغه نظريات په لنډ ډول وړاندې کوو چې دښه تدريس په غرض يې په خپل وخت کی مطرح کړيدي.

## 1. زردشت (600_1000 ق م):

**اريانا او ددوي ميتود:**

اريانا ويجه داريايانو اصلي ټاټوبی دی دوې دميلاد څخه پخوا د پنځه زره کلونو په شاوخوا کې داريانا ويجه څخه باختر ته مهاجرت وکړ او هلته يې ژوند پيل کړ بيا دنفوسو دزياتوالي له مخی دهندوکش شمال او جنوب ته وخوځيدل. بلخ داريايانو دهندو اروپايي څانګې دلرغوني مدنيت دمرکز په حيث پيژندل شوی دی. او ليستايي مدينتونو له همدې خاورې څخه سر راپورته کړيدي چې دارياياانو دمهاجرتونو سره يوځاي په هند او فارس کې منتشر شويدي.

په ارياياانو کې نر او ښځه، هلک او انجلۍ يوبرابر وؤ. پلرونو به زامن او ميندو به خپلي لوڼې روزلې چې دايوه مذهبي وجيبه وه. ارياياان ډير جنګيالي وؤ ځکه به دجګړې په وخت کې ټولو قبيلو ګډون کوؤ البته دماشوم توب په دوره کې به داروحيه دوې ته ورکول کيدله.

دميلاد څخه شپږپيړۍ پخوا دويست اسپه يا کستاسپه (دباختر بادشاه) په وخت کې په لرغونی بلخ کې يوداسې سړی پيداشو چې په حکمت کې ډير معروف وؤ دا شخص زردشت نوميده. بلخي حکيم لومړی دخلکو ژوند ته متوجه شو، هڅه يې وکړه چې دا ژوند داړتياو سره اړيکې ولري. دزردشت په عقيده په جهان کې دوی قوی دي. يو ډول قوه پاکې اروا ګانې او بل ډول پليتې ارواګانې دي. چې دپاکو ارواګانو په اهورا مزدا ولاړ وؤ. زردشت اهورا مزدا (دپوهې اوعقل خدای)

(c) ketabton.com: The Digital Library

دخپل معبود په حیث پیژنی چې مذهبي نظریات یې داستاد په کتاب کی راټول شویدي. دزردشتي مسلک، خلک نیک کارته هڅوي په کار او اراده کې آزادي، رینښتیا او سم کار کول دزردشتي مسلک مهم اساسات دي. دده اخلاقي پرنسیپ په دې قاعده ولاړوؤ چې یوازې هغه څوک ښه دي څه چې دځان لپاره نه خوښوي دنورو له پاره یې هم نه خوښوي. ددې نظریاتو له مخي انسان درې مهمې دندی لري.

- یوه دنده داده چې سړی خپل دښمن دوست کړي.
- بله دنده داده چې ناپوهه وپوهوي.
- دریمه دنده داده چې دپلیت سړي څخه پاک سړی جوړ کړي.

همدارنګه وایي چې تقوا ډیر لوي فضلیت دی په ګفتار او کردار کې سموالی د اوستاد هدایاتو څخه دي.

ددی لپاره چې بریالیتوب موږه برخه شي دزردشت په نظر، انسان باید په ښو صفاتو او فضایلو سنبال شي لکه رینښتیا ویل، عدالت کول، ځان ساتنه، زړورتیا اوحق پیژندنه. او دښووني او روزنې هدف دادی چې دښوصفاتو سربیره دې ځوانانوته دنیک ګفتار، نیک کردار او ښه نیت عادت ورکوي. دزردشت شعار نیک ګفتار، نیک پندار او نیک کردار وو.

دتدریس میتود په هکله دهغه څه څخه پوهیدلای شو چې دزردشت دوخت په مدرسو کې تدریس کیدل هماغسې چې په مدرسوکې لیکل او لوستل زده کیږي دزردشتانو په مدرسو کې په رینښتیا ویل، او ښه کار کولو به مشق او زده کیدل. زده کوونکوبه تر 16 او 17 کلنۍ پورې رینښتیاویل، په سمه لار تلل، فرمانبرداري کول، په خوراک او وظیفه کې اعتدال، په زده کړه کې مشق کول اوبیا په ژوند کې ورڅخه کار اخستل دي وروسته دزده کړې دوهم پړاو پیل کیده چې هغه دآس سپرلي، غشي ویشتل، نیزه وهل ښکار کول او په عملي توګه زده کړه کول وه، دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواړه نږدې لس کاله وؤ. دوې به ویل چې اوریدل هیرول، لیدل یادول او کول زده کول دي.

برسیره پردي چې دماشومانو ښوونه او روزنه دمور او پلار او دکورنۍ دغړو دنده وه چې عموماً به اتشکدو(اورپرستۍ) او درباري ښوونځیو کې ترسره کیده. ماشومان به یې په ښوونځیو کې شاملول کله چې به هلک 7 کلن شو نو هغه به یې هرومرو په ښوونځي کې داخلولو. دزده کړې لومړۍ دوره 8 کاله وه. په دې دوره کې په تاریخي قیصي دافسانو سره ګډولې، دفرشتو کارونه، دنیکه ګانو میړانې به دقیصو په ډول زده کوونکو ته ویلې ترڅو په هغوی کې دمیړانې حس پیدا او عبرت ورڅخه واخلي دمالدارۍ او کرنۍ علم په عملي توګه زده کوونکو ته ورښودل کیده.

## 2. بلخي ابن سینا:

ابن سینا زموږ دهیواد یولوي نابغه، ستر فیلسوف، مشهور طبیب او پیداګوګ دي چې په 370 هـــ ش کال کې زیږیدلی او په 428 هـــ کې وفات شویدي. دا لومړنۍ سړی دي چې داسلام دراتللو څخه وروسته دښوونې او روزنې په باب یې نظریات وړاندې کړیدي. دا لومړنی پیداګوګ دي چې دښوونې او روزنې دهدف، دښوونې او روزنې او زده کړې میتود، دښوونې او روزنې دتشکیلاتو او سازمان ورکولو، تعلیمي نصاب او درسی مواد په باب یې مهم نظریات وړاندې کړیدي.

دښوونې او روزنې دهدف په هکله دی وایي چې دښوونې او روزنې هدف پنځه شیان دي:

ایمان، نیک اخلاق، روغتیا،سواد، هنراو پیشه.

دتدریس د میتود په هکله وایي چې ماشوم له بدو کارو څخه لرې او ښو دوستانو سره یوځای کړي، کله یې تشویق او کله یې تهدید کړي. که چیري ویرول

(c) ketabton.com: The Digital Library

نتیجه ورنکړي نو باید دتنبیه څخه کار واخستل شي. دماشوم سره دښوونې په وخت کې په معتدل ډول رفتار وشي. داسی وضع اختیار نشي چې ماشوم وویریږي. دپوښتني کولو او توضیحاتو ورکولو جرأت ونلري او نه دومره ملایمت ورو ښودل شي چې ماشوم زړور شي او زموږ خبروته پام ونکړي او یا ارزښت ورنکړي. ښوونکي باید ماشوم وپیژني دهغه طبع وسنجوي او فکر دې وازمايي ترڅووکولای شي په خپل وخت او ځاي کې هغه هنر او مسلک ته وهڅوي چې دده داستعداد ذکاوت سره مناسب وي او په راتلونکي کې ددغه هنر او مسلک څخه ګټه واخلي دې وايي هغه څه چې یو ماشوم یې په ښوونځي کې باید زده کړي، قران کریم، شرعیات، ژبه او هغه اشعار چې داخلاقو او شریعت د ادابو متضمن وي، ورزش، هنر او مسلک، په دغه وخت کې ماشومانود ورزش ډولونه داوؤ: قدم وهل، توپ بازي، درسي لوبې، تیښته، غیږې نیول، دآس سپرلی، تورې وهل او نور.

### 3. افلاطون:

یونانیان هغه څوک وؤ چې دماشومانو او ځوانانو روزنې ته یې زیاته توجه کړې وه نو ځکه دمدرسو په جوړولو کې دنورو په پرتله وړاندې دي. دوی په دې مدرسو کې دتدریس له پاره دخاصو میتودونو څخه کار اخیست. دوې به لومړي الفبا، وروسته هیجا او کلمې ورزده کولې بیا به یې په لیکلو او لوستلو پیل کاوه. دښوونځي ښوونکي به یې ګراماتست (Gramatist) بلل. ددوی دتدریس میتود ډیر وچ وؤ چې غالباً به د متروکې، لښتې او نورووسایلو سره یوځاي وؤ. ښوونکو به لومړي په لوړ آواز دتورو نومونه ویل او زده کوونکو به تکرارول. دمدرسي دکار وسایل او لوازم ډیر لږ وؤ کتابونه نه پیداکیدل نو زده کوونکو به دیونان دشاعرانو داوږدو شعرونو ټوټې یادولې. افلاطون 428 کاله پخوا په اتن کې زیږیدلي وؤ ده په خپل شخصي یو باغ کې دیوي اکادمي بنسټ کیښود چې د Academus په نامه یې یادوله. ده دروزنې، حکومت دارۍ او ښاري تمدن په باب 27 کتابونه او رسالې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ليکلې دي. دی لومړي فيلسوف دي چې ټولې هلې ځلې يې دښوونې او روزنې له پاره وقف کړيدي. ژان ژاک روسو وايي چې دافلاطون دجمهوريت کتاب ډير ستر فرهنگي کتاب دي چې تر اوسه پورې دښوونې او پوزنې په باب ليکل شويدي. دي روزنه داسی تعريفوي:

دشخص روزل بايد داسې وي چې دخپل هوس او گمان څخه دده وجدان دقضاوت په وخت کې مخ وگرځوي او دهغی پرځای دعلم او پوهې پرگانه ښکلی شي، او هم دپوهې، زړورتيا،ځان ساتني او عدالت څښتن شي.

افلاطون په درس ورکولو کې دسقراط له ميتود څخه چې دافلاطون استاد وؤ کار اخسته. دسقراط ميتود داسی وؤ چې ده به ويل زه د خبرو په وخت کې څه شې چاته نه ورزده کوم بلکه دخپلې مور په شان چې دښځو سره به يې دزيږيدنې په وخت کې مرسته کول، زه هم ورسره مرسته کوم څو ښه فکر وزيږوي. بيا نو گورم چې که دهغه فکر ښه وي توصيه ورته کوم چې هغه وساتي او که نه؟ بياهغه يو بل پوه استاد ته استوم چې ښه فکر ورته ورکړي.

افلاطون وايي چې دولت دروزنې يو سازمان دي. ښوونه او روزنه هغه اغيزناکه وسيله ده چې زما مدار دهغي په مرستې سره کولای شي ديوې ټولنې دغړوطبيعت په سمه لار برابرکړي. که ښوونه او روزنه د انفرادي اشخاصو په لاس ورشي نو تجارتي شکل غوره کوي. په ښوونه او روزنه کې نر او ښځه دواړه په مساوي ډول برخه اخستلي شي. دی وايي چې ښوونه نه بايد داخلاقو په خلاف وي. دولت بايد لومړي ښوونه سانسور اوبيايې دځوانانو په واک کې ورکړي. هغه هندسې او رياضياتو ته زيات اهميت ورکاوه. ده دخپلي اکادمي د دروازي په سر ليکلي وؤ

((څوک چې په هندسه نه پوهيږي دلته نشي راننوتلای))

(c) ketabton.com: The Digital Library

### 4. امام غزالي (1058–1111 هـ)

دمسلمانانو په ډله کې دښوونې اوروزنې یو بل عالم او پوه امام غزالي دی، نوموړي 78 اثره په مختلفو موضوعاتو کې لیکلي چې د هغه د آثارو څخه یو مضمون هم د سعادت کیمیا ده. دده ځینې اثار چې دښوونې او روزنې په برخه کې دي دښوونې دهدفونو، میتودونو او نصاب په هکله لیکل شوی او ډیرې انقلابي نظر یې پکې وړاندې کړیدي، او په دې یې تاکیدکړیدي چې ښوونه او روزنه څنګه مسلکي او اختصاصي موضوعاتوته انتقال شي حتي نوموړي په هر مضمون کې داختصاص په اړه تشویقونکې نظریات وړاندې کړیدي.

ننۍ اصلی موضوع هم په دې کې ده چې په تعلیمي نصاب کې دادبیاتو دمضمونونو ترڅنګ نور مسلکي، تخنیکي او کرنیز موضوعات څنګه ور داخل شي. دی دښوونې او روزنې دمسألو په هکله دډیر لوی بصیرت خاوند وؤ. دښوونې او روزنې دستونزو په هکله یې دحل ډیرې لارې وړاندې کړیدي. ده دښوونکو او زده کوونکو داړیکو په هکله داسی مفاهیم وړاندې کړي چې نن ورځ دمعاصرو اروا پوهانو له خوا هم توصیه کیږي او دده نظریات په ښکاره ډول دښوونې او روزنې دپوهانو له خوا نن ورځ تائیدیږي.

امام غزالي دزده کړې مضمونونه په دوه کټه ګوریو سره ویشي:

1. فرض عین Compulsory (جبري)
2. فرض کفایي Optional (اختیاري)

فرض عین هغه علوموته نسبت ورکوي چې زده کړه یې دهر چا لپاره فرض ده لکه په اسلام کې قرآن او خدای باندې ایمان درلودل او ځان پوهول، او فرض کفایي هغه علوموته نسبت ورکوی چې زده کړه یې دیوې علاقه مندۍ له مخې کیږي لکه فقه، تفسیر، حدیث، او تخنیکی مهارتونه. دمثال په توګه اوبدل، خیاطي، ویښتان جوړول، طبابت، کرنه او داسې نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library

امام غزالی دنظري او عملی ښووني او روزنې دواړه څخه حمایت کوي. دتولد څخه وروسته یوماشوم ته مور او پلاردي. باید دخپلو ماشومانو لپاره دنقطي او عملي سلوک دښه کولو یوښه مرستندوې اوسي.

امام غزالي دپوهې په انتقال کې نر از ښحه دواړه یو شان ګڼلي دپوهې او زده کړې انتقال یې ددواړو دنده بللې ده. البته دواړه مکلف دي چې خپل ماشومان ښوکارونوته وهڅوي او له بدوکارونو څخه وژغوري. په زړه پوري خبره ده چې وروسته دغزالي دنظریاتو په شان Rosseau په خپلو لیکنو کې هم ځیني نظریات وړاندې کړیدي. دامام غزالي نظریات له هغه څه څخه لوړ دي چې نن ورځ په معاصره ښوونه او روزنه کې لیدل کیږي. دی وایي چې تدریس باید په په زړه پوري طریقې سره تر سره شي او دا باید د زده کوونکو، برخه والو په واسطه په زړه پورې شي. داوریدو او لیدو (سمعي او بصري) وسایل داسې وي چې دزده کړې په عملیه کې ډیر موثر او ګټور تمام شي. ښوونکی باید دزده کوونکو دسویې برابر له آسان څخه مشکل ته قدم پورته کړي. دښوونکي دتدریس میتود باید لکچر، دزده کوونکو برخه اخستل، بحث او دټولګي نظم احتوا کړي او کله چې زده کوونکي زده کړه کوي باید دمباحثي مهم ټکي یاداشت کړي.

امام غزالي وایې چې په ټولګي کې نظم او ډسپلین نه باید په زده کوونکو کې ویره رامنځ ته کړي، برعکس د مینې او علاقې فضا رامنځ ته کړي. همدارنګه دښوونکو او زده کوونکو ترمنځ دصمیمیت نږدې اړیکې موجودې وي. ښوونکی باید دزده کوونکو سره د یو مهربانه مشر په توګه چلند وکړي او زده کوونکو ته دښو اخلاقو یوه نمونه دي. دی وایي چې زده کوونکو ته دجزا ورکولو او وهلو څخه ډډه وشي ځکه چې زده کوونکي به له زده کړې څخه زړه تور او بیا ښوونکي ته داحترام په سترګه ونه ګوري. دښوونې او روزنې معاصر علما لکه Pestalozzi، Froeble، Montessori او Dewey په همدې نظریه وؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### 5. جان اموس کامینوس John Amos Comnius (1592–1672م):

کامینوس 148 اثره په بله راوایت 170 اثره لري. دی هم دښووني او روزنې دبنسټ ایښودونکو څخه شمیرل کیږي. ده دافلاطون څخه ورسته په پیداګوژي کې یو تحول راوستی دي. دی لومړی ښوونکي وؤ او بیا دیوی فرهنګي موسسي مدیر شو. ده (دنوی دیدکتیک) په نامه یو کتاب ولیکه چې په هغې کې دښووني او روزنې دمیتود، فرهنګي سازمانونو اود تعلیمي نصاب په هکله خپل نظریات په څرګند ډول ولیکل دښووني او روزنې په باب دده دنظریاتو څخه یوه لنډه یادونه کوؤ:

دی وایي چې ښوونه او روزنه داسی یو هنر دي چې افراد او اشخاص دژوندانه لپاره چمتو کوی او وایي چې دبشر وروستني هدف ددوامداره خوشحالۍ لاس ته راوستل دي. دده په نظر مذهبي او اخلاقي فضیلت او پوهه دښووني او روزنې داساسی هدفونو څخه دي چې په زده کړه کې ترلاسه کیږي.

کامینوس وایي چې زده کړه باید دهغه نظم پر اساس تنظیم شي چې په طبعیت کې موجود وي او زده کوونکي ته دمعلوماتو په انتقال کې دمطالبو دپوهولو لپاره ښوونکي باید په لومړۍ مرحله کې ماشوم دشیانو سره په تماس کې کړي او په دوهمه مرحله کې دشیانو دتصویرونو څخه کار واخلي او کوښښ وکړي چې شیان په خپله وروښودل شي تر څو ددوي په خیالاتو کې ځاي ونیسي یعني زده کړه دشیانو دحقیقي مشاهدې سره پیل شي نه دشفاهي تعریفاتو او څرګندونو سره.

همدارنګه کامینوس په دې عقیده وؤ چې دتدریس په وخت کې دساده مطالبو څخه مشکلو مطالبو دنږدې څخه لرې ته، دکُلي څخه خاصو مطالبوته او دمعلوم څخه نامعلوم خواته ولاړ شي. کامینوس باور درلود چې پوهه ددري لارو څخه دانسان لاس ته راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

– دحواسوله لارې، دذهن اوعقلي قوي له لارې اودالهام له لارې. کله چې دا دري طريقي په متوازن ډول سره يوځاي شي نو انسان ډيره لږه خطا او غلطي کوي.
کامينوس زده کوونکي ته دسزا ورکولو په هکله وايي:

سزا يوازي دهغه عواملو او اعمالو په مورد کې ورکړل شي چې داخلاقو پر خلاف وي ترڅو خطا اوګناه دوهم وار تکرار نشي. نه دا چې ددرس دنه يادېدلو په بدله کې. دی په بل ځای کې وايي چې يو شی په دي لحاظ زده نشي چې دی ځومره ارزښت لري بلکه په دي لحاظ زده شي چې په ژوند کې څومره ګټه ورڅخه اخستلاي شو.

څرنګه چې کامينوس دښوونې او روزنې دلويو پوهانوڅخه ګڼل کيږي ده دزده کړې دوره په څلورو برخوويشلې ده:

1. تر شپږکلنۍ پورې چې دا دوره د(مورښوونځي) په نامه ياده شويده.
2. له شپږکلني څخه تر 12 کلنۍ پورې چې دا دوره دعامې مدرسې په نامه ياده شويده.
3. له 12کلنۍ څخه تر 18کلنی پورې چې دادمتوسطې مدرسې په نامه ياده شويده.
4. له 18 کلنۍ څخه تر 24 کلنۍ پورې دا داکادمی يا پوهنځي په نامه ياده شويده.

دی په دي نظر وؤ چې يوه داسي بين المللي موسسه دې جوړه شي او په هغې کې دې دنړۍ ټول پوهان ګډون او څيړنې وکړي او کومې نتيجې چې لاس ته راوړي دنړيوالو غوړوته دې ور ورسول شي، او دنړي دمختلفو هيوادونو ښونځي دې سره داسې اړيکي ولري لکه دانسان معده چې دوجود داندامونو سره يې لري. يعني هغسي چې معده بدن دغړو له پاره ژوند او انرژي چمتوکوي، داموسسه هم دنورو موسسو له پاره علم او پوهه اماده کړي. دښوونځيو دپروګرامونو په هکله

(c) ketabton.com: The Digital Library

وايي چې ټول مضمونونه يوله بل سره درسي اړيکې ولري، نه داچې يو له بل څخه جلا وي.

## 6. ژان ژاک روسو J.J. Rousseau (1712–1778م):

ژان ژاک روسو دژينو په ښار کې زيږيدلی دي. ده داميل په نامه يو اثر ليکلي دی چې دښوونې او روزنې په باب يې ډيرې اغيزمنې مفکورې او نظريې ورکړيدي چې په نړۍ کې دسترو تحولاتو او تغيراتو سبب ګرځيدلی دي. دروسو په عقيده په ښوونه او روزنه کې دروزنې هدف دادي چې طبيعي انسان وروزي. ده عقيده درلوده چې انسان په خپل ذات کې پاک او نيک مخلوق دي هيڅ ډول ګناه نه لري نو دطبيعی انسان څخه دده مراد دادي چې داسې انسان وروزي چې دهغه پاکې غريزې په طپيعي توګه او دټولنې دبدوکارونو دککړتيا څخه لرې او په امن کې وده وکړې، نو ښوونه او روزنه بايد داسي کار وکړي چې ماشوم په طبيعي او حياتي قوت ورروزل شي تر څو نيکمرغه اوسي او ددي ترڅنګ وايي چې ملي او عمومي ښوونه او روزنه بايد ددولت له خوا کنترول شي. روسووايي:

دښوونې او روزنې هدف دادي چې دماشوم قدرت، استقلال او فهم ورروزل شي نه دا چې حافظه يې له هغه څه نه ډکه شي چې دی ورباندې نه پوهيږي يعني دي په خپل اثر اميل کې وايي چې ښوونه او روزنه په عمومي ډول او دلومړۍ دورې ښوونه او روزنه په خاص ډول بايد دحوا سوله لارې عملي شي نه دحافظې له لارې ددې کتاب په بل ځاي کې وايي کله چې روح تحول او تکامل کوی نو روزنه هم بايد دروح داتکامل تعقيب کړي او بل نظريې دطبيوت سره توافق کول دي. دی تر 12 کلن عمر پورې يوازی دمورنۍ ژبې په زده کړه باندي تاکيد کوی او دنورو ژبو زده کول ګټورنه بولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## 7. هنریخ پستالوزی Heinrich Pestalozzi (1747–1827)

دپستالوزی ټول عمر او ژوند دښوونې او روزنې په لارکې مبارزه او جګړه وه. دی ښوونکي وؤ او د ژوند تر ورستی سلګی پورې ښوونکی پاتي شو. ده د روسو نظریات او عقاید ولوستل او حتا ورباندې مین شو دهغه دنظریاتو په عملي کولو کې یې ډیر زحمتونه وګالل.

دپستالوزي په عقیده دښوونې او روزنې هدف دادی چې سړې ټولې قواوې په منظم او هراړخیز ډول وروزل شي تر څو په تدریجې او طبیعی ډول وده وکړي او په پاي کې دښې او پاکی پوهي خاوند شي.دی وایي چې دښوونې او روزنې په واسطه نااميدي له منځه ځي او ټولنه اصلاح کیږي نوځکه دعمومي ښوونې او روزنې طرفداردي.

پستالوزې د تدریس لپاره د یو نوی میتود څخه چې دلومړني میتود Ementa Bilding په نامه یادیږي استفاده کوله. ده وویل چې داسي میتود هله مناسب دي چې دزده کوونکو د ودې او تکامل سره توافق ولري. دده په نظر دیو مطلب دزده کړې لپاره دالاندي درې مرحلي ضروري دي.

1. دمشاهدې مرحله: ماشوم ته داسې عادت ورکړشي چې دخپل چاپیریال دموجوده شیانو په نسبت کنجکاو اوسي او هغه په غور سره وګوري.

2. دتجزیې مرحله: په دغه وخت کې چې څه شی مشاهده کوو هغه په وړو وړو اجزاؤ ویشو او بیایې زده کوونکو ته ورښیو.

3. دترکیب مرحله: دتجزیې کولو څخه وروسته داواړه اجزا بیرته غونډ او ترکیب کړو. پستالوزي وایي ددې له پاره چې دښوونې او روزنې څخه کار واخستل شي لاندي ټکو ته باید پام واړول شي.

1. دمختلفو حواسوله لارې دمطالبو زده کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

2. دژبې دزده کړې په وخت کې باید لغات او کلمې داړوند شیانو سره یو ځای وښودل شي.
3. په هره موضوع کې دزده کړې په وخت کې له ساده جزء څخه پیل او په تدریجی ډول پیچلې برخواواجزاو ته ورشي.
4. دهرې مرحلې په اجراکې باید ماشوم ته وخت ورکړشي چې په نوی مطالبو پوه شي.
5. دماشوم په روزنه کې ضرورده چې دده شخصیت اواعتبار ته درناوي وشي.
6. دښوونکي او زده کوونکي اړیکې باید دمهر او محبت پربنیاد وي.
7. ټولي لارې چارې باید دښوونې او روزنې له اهدافو څخه بهر نه شي.

پستالوزی په ښوونه او روزنه کې دیوې ټولنې لپاره ښوونځي لازم او ضروري بولي نو ځکه دخپل ژوند په دوران کې یې ډیر ښوونځی جوړکړل. دکار دآسانتیا لپاره یې ډیر کتابونه ولیکل متحرک الفبای یې اختراع کړل. درسمونو او تصویرونو څخه یې استفاده کوله. دکاروسایل هغه څه وؤ چې دماشومانو په شاوخوا کې موجود وؤ. دحساب له پاره یې مختلف جدولونه جوړکړل. داعدادو له پاره یې دجوارو، لوبیا، کاڼو څخه چې محسوسیدل، کار واخست.

پستالوزی عقیده درلوده چې ماشومانو ته دې هغه مطالب ډیر ورزده شي چې عملي جنبه ولري او دمهارتونو په زده کولو کې ورسره مرسته وشي، نوځکه دښوونځي په پروګرامونو کې یې نظري او عملي ښوونې ته ځای ورکړي وؤ. دا په دې معني ده چې ده نه یوازي کرنه، باغونې، کورنی چارې، خیاطي په تعلیمي نصاب کې ځای کړي وؤ بلکه دهغه په ښوونځیو کې نقاشي، خط، هندسه، حساب، طبیعي علوم، جغرافیه او تاریخ هم تدریس کیدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## 8. هربارت Herbart (1776–1841م)

دی دخپلې کورنۍ یوازنی اولاد دي چې دخپلې مهربانې مور ترلاس لاندې لوي شویدی ده څووخته دیو شتمن سړي زوي ته درس ورکوو په دي وخت کې وده یو اثرد (دروزنې ډیر مهم کار دادي چې نړۍ داخلاقو په لحاظ ورسوي) په نامه دي. او دوه نور معتبر اثارېې د (روزنیزعلم) په نامه اود (دروزنیزو عقایدو مهم ټکي)په نامه دي. کله چې ده دښوونکی په توګه دنده واخستله دښوونیز او روزنیز مسایلو سره یې زیاته علاقه پیدا او دمباحثې لپاره محفلونه جوړکړل او په پای کې دیو ښوونځي په جوړولو بریالي شو. هربارت وایي:

انسان دنیکو کارونو سره تمایل، دکمال پیداکولو سره تکایل، ذخیره سره تمایل او د عدالت او نصاب سره تمایل لري نو هڅه باید وشي چې په ماشومانو کې دا فضایل څرګند کړای شي.

هربارت هغه لومړنی سړي دي چې دښوونې او روزنې لارې چارې یې د اروا پوهنې په اصولو بنا کړیدی. ده عقیده درلوده چې دانسان مغز دزیږیدنې په وخت کې خالي او صاف وي کله چې د چاپیریال څخه وار په وار تازه تصورات ور داخلیږي دماشوم مغز ډکوي وروسته دتفکر او قضاوت قدرت پیداکوي. ده دتدریس دمیتود لپاره دالاندې پړاونه پیشنهاد کړل چې دهربارت دمنطقي پړاونو په نامه یادیږي:

### 1. ځان چمتوکول (Preparation):

په دې پړاو کې ښوونکی هڅه کوي چې ددرس موافق خیالات دزده کوونکي په مغز کې بیدار کړي او په دي وسیله هغه دې ته چمتو کړي چې ننی درس ښه درک کړي. په دې کار کې دتیر درس پوښتنه کوي او یانوی مسایل مطرح کوي چې دنوې درس سره مشابهت او اړیکي ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### 2. دموضوع وړاندې کول (Presentation):

په دې پړاو کې نوې تجربې او نوی مطلب زده کوونکو ته ورکول کیږي. زده کوونکو ته لارښوونه کیږي چې اصلي مطلب ته ورسیږي.

### 3. یوځای کیدنه (Association):

په دې پړاو کې ښوونکی هڅه کوي هغه نوي مطالب چې زده کوونکو ته یې ورزده کوي ددوي د پخوانیو مطالبو او تجربو سره یوځای کړي ترڅو په دماغ کې یې ځای ونیسي او دا کار هلته امکان لري چې درس تکرار کړي او مشابه اجزا دتیر درس سره بیان او څرګند کړي.

### 4. عمومیت ورکول (Generalization):

په دی پړاو کې ښوونکي ددرس کُلي مفاهیم توضیح کوي څه چې یې زده کوونکو ته ویلي دي لنډ او دسته بندي کوي. که پخواني پړاونه په ښه توګه تر سره شوي وي نوداهم په آسانۍ سره سرته رسیږي.

### 5. داستعمال ځایونه (Application):

په دې پړاوکې ښوونکی ددرس کُلي مفاهیموڅخه په مختلفو ځایونو کې کار اخلي ترڅو زده کوونکي دنوي مطلب داستعمال ځایونه وپیژني. دلته ښوونکي شاګردانو ته کورنۍ دنده ورکوي تر څو تمرین وکړي اودنوي درس داستعمال ځایونه ور معلوم شي.*

هربارت وایي چې په هره تربیتي موسسه کې باید دري عمده مسألوته پام وشي.

---

*ښوونکي کولاي شي په یو نمونه یې درس کي پورتنۍ پنځه مرحلي تطبیق کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**الف: دموسسې دنده:** په هره روزنیزه موسسه کې باید دتمدن اساسات اودعلومو مقدمات دعمومي اطلاعاتوپه نامه ور زده شي او بیا دې تخصصي ځانګې ته پام راوګرځول شي.

**ب: موسسه دعوامو لپاره:** هر ځوک یا هره قبیله او دسته چې وغواړي خپل اولادونه پکې شامل کړي کوم ممانعت ونلري.

**ج: دروزنیزي موسسې حقوق او ټولنیز مسایل:** دزده کوونکو دیوځاي کید وا ددوې اړیکو څخه چې دیو بل سره یې لبې او بیایې دښوونځي دکارمندانو سره لري ټولنیز او حقوقي مسایل پیداکړي. البته دروزنې اخلاقي هدف هم باید په پام کې ونیول شي.

په ښوونه اوروزنه کې هربارت دښوونکي شخصیت او کړه وړوته دهر څه نه زیات اهمیت ورکوي ځکه چې دښوونکو اخلاقي اغیزې پرزده کوونکو زیاتې دي اوزده کوونکوته ښه لارښود او الهام ورکوونکي دي.

هربارت وایي چې دښوونځیو پروګرامونه دطبیعت او ټولنې څخه الهام اخلي او هم وایي چې د لارو په واسطه کولاي شودماشومانو مینه او علاقه دعلم او پوهې په نسبت پیداکړو هغه لارې یوه دازمیښت او تجربو لارده چې مورږ دطبیعت او چاپیریال څخه خبروي او بله دنورو سره دکړو وړو لارده چې داهم دپوهې دزده کولو محرک او مشوق دي. همدا علت دی چې دماشوم زړه به یا دمطالبو او مفاهیمو سره تړلي وي او دټولنې افرادو او اشخاصو ته متوجه وي، نو په دې وسیله ویلاي شو چې دښوونځي تعلیمي نصاب باید دوه جنبې ولري لومړۍ برخه کې باید علمي مواد وي لکه طبیعي علوم، لاسي کارونه او فني زده کړه. دوهمه برخه کې باید تاریخي مواد وي لکه د ادبیاتو تاریخ، ژبه او ښکلي هنرونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دتدریس داصولو اهمیت:**

ټول ښوونکي او تدریس کوونکي باید په دي پوه شي چې دتدریس لپاره یوه واحده لار نشته بلکه ډیرې طریقي او لارې موجودې دي چې ښوونکي کولاي شي په مختلفو وختونو کې دموضوع مضمون په اړوند ورڅخه کار واخلي. تدریس یو ډول فن او مهارت دي چې تر ممکن حده هڅه کوي چې دهغه دتدریس لاره په زړه پورې او جالبه شي.

ټول هغه ښوونکي چې روزل کیږي یا روزل شویدي، ضرورت لري چې دتدریس دټولو لارو چارو څخه باخبره اوسي او په دې پوه شي چې ولي دتدریس په مختلفواصولو اولارو باندي تاکید کیږي. دتدریس په اصولو کې کوم راز پټ ندی بلکه دتدریس اصول دپوهې دلاس ته راوړلو یوه طریقه ده چې ښوونکي دخپلو مهارتونو څخه په استفاده ورڅخه کار اخلي چې ددې ارزښتونو درلودونکي دي.

1. دتدریس اصول یو ګټور کار دي نوکه دهغي څخه کار واخستل شي په درس کې بي نظمي وارخطايي او هرج ومرج منځ ته نه راځي. همدارنګه دتدریس اصول ښوونکي سره ددرسي موادو او درسي پلان په جوړولو کې مرسته کوي.

2. دتدریس اصول دوخت او انرژي دضایع کیدومخه نیسي.

3. کله چې دتدریس دمناسبو او ښولارو چارو څخه کار واخستل شي ښوونکي کولاي شي دزده کوونکو علاقه او توجه په تدریس کې جلب کړي.

4. دتدریس اصول زده کوونکو لپاره داغیزمنې زده کړې سبب ګرځي.

دتدریس اصول دیادو شوو ارزښتونو او اهمیت سربیره یو ډول قاعدې هم لري چې په لاندې ډول تشریح کیږي:

ځینې قاعدې چې ښوونکو سره په تدریس کې مرسته کوي داسې قاعدې دي چې د امسا په ډول ورڅخه استفاده کیږي خو ښوونکي په دې باید پوه شي او دځاي سره فیصله وکړي چې څه وخت، څنګه او څه ډول دهغي څخه پیروي وکړي. داقواعد عبارت دی له:

(c) ketabton.com: The Digital Library

1. **له معلوم څخه مجهول ته پیل کول:** ښوونکی باید له هغه څه څخه تدریس پیل کړي چې زده کوونکي ورباندي پوهیږي.
2. **واقعي او معینې موضوع څخه و غیر واقعي او مجردې موضوع ته تلل:** ښوونکي باید دهغه معینې او واقعي موضوع څخه پیل وګړي چې زده کوونکې ورسره اشنایي ولري.
3. **له آسانه څخه مشکل ته:** ښوونکی باید له آسانې موضوع څخه پیل او ورو ورو مشکلې مرحلي ورباندي زیاتې کړي.
4. **له ساده څخه مغلق ته تلل:** ښوونکي مخکي له دې چې مغلقي او پیچلې موضوعاتو باندي کار پیل کړي لومړي باید ساده او بسیطو شیانو باندې کار وکړي یعنی له آسان یا ساده څخه شروع او ورو ورو مغلقو موضوعاتوته ولاړ شي.

## په ټولګي کې نظم او اداره

څرګنده ده چې هر کار په مساعدو شرایطو او خاص نظم کې په ښه توګه پرمخ ځي. ښوونه او روزنه چې د ښوونیزو غوښتنو لومړنی ضرورت دبشر په ژوندانه کې قبول شویدي حتا نظم او دسپلین ته ضرورت لري او دانظم ایجابوي چې دغه تصمیم ونیول شي. یعني دښوونې او روزنې په پروسه کې ستونزې دمنځه ولاړې شي او په کمي او کیفي ډول هدف ته درسیدو په لور تدریس ترسره شي. لازم دي چې ددي فرصت دلاس ته راوړلو لپاره دنظم، ادارې او ټولګې دترتیب په هلکه یوڅه معلومات ترلاسه کړو:

نظم په لغت کې ترتیبولو او یو قافیه لرونکي موزون کلام دي چې دنثر خلاف دي دسپلین په انګریزي ژبه کې دانضباط، انتظام، ترتیب او دقاعدې او انضباط لاندې راوستوته وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دښوونې او روزنې په اصطلاح کې نظم او دسپلين وضع او حالت تشريح کوي چې ښوونکی يې په ټولګي کې دتدريس لپاره يوه مقرره يا خاصه قاعده په کار وړي چې دهغی په واسطه زده کوونکي يوښه نظم اودسپلين لاندي راولي. په دی ډول هر ښوونکي په ټولګي کې ديو شخص او معين دسپلين درلودونکي دي ترڅو زده کوونکي اوپه خپله ښوونکي دهغې سره سم عمل وکړي.

a) **دټولګي نظم او ترتيب:** دټولګي ترتيب او تنظيم روزنيزه برخه ده خو درسي نده ځکه په ټولګي کې دزده کوونکو ترتيب او تنظيم هغوي دې ته چمتو کوي چې ورته تدريس وشي او فعاله برخه واخلي او ورو ورو دزده کوونکو عادت وګرځي. خو په دی برخه کې لومړي ښوونکي زيات کار کوي او بيا زده کوونکي کار کولوته متوجه کوي. دټولګي نظم او ترتيب ښوونکي او زده کوونکي درس ته هڅوي ترڅو تدريس په مناسبه توګه ترسره شي. ښوونکي بايد دا کار ددرس دمخه ترسره کړي يعني دټولګي فضا ددرس له پيل څخه دمخه اماده کړي دښوونې او روزنې داساساتو پر بنسټ هغه مرحلې چې دټولګي دنظم او ترتيب لپاره ضروري دي قدم په قدم عملي شي.

دټولګي په نظم او ترتيب کې بايد داټکي په پام کې ونيول شي:

1. ښوونکي ټولګي ته دننوتلو په وخت کې دسلام ورکولو آداب مراعات کړي.
2. په ټولګي کې په ورين تندي او مناسب آواز خبرې وکړي.
3. ښوونکي بايد په ټولګي کې قدم ووهي او بيا په يوځاي کې ددريدلو څخه وروسته دزده کوونکي داحوال پوښتنه وکړي.
4. که يوزده کوونکي ناروغ يا معلول وي هغه ته دې ډاډګيرنه او تسليت ورکړشي که لازمه وي دښوونځي داداري له لارې دې تداوی ته معرفي شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

5. ښوونکی باید ښوونځي منظم کړي، میزونه، چوکۍ، درسي مواد توره تخته او همدارنګه زده کوونکي دې دقد په پام کې نیولو سره کښینوي.
6. دزده کوونکو دنظافت لیدل او په مهربانۍ سره هغوي ته توصیه کول.
7. دزده کوونکو دحاضرۍ اخیستل، دهغې داهمیت او دغیرحاضرۍ دخرابو عواقبو په هکله ورته توصیه کول.
8. دزده کوونکو دکورني کار دغلطیو او نیمګړتیاوو اصلاح.
9. درس ته د زده کوونکو هڅول.

برسیره پردي داټکي هم باید په پام کې ونیول شي:

الف: دامکان په صورت کې به ښه داوي چې ښوونکی دکورني، اجتماعي او دیني ادابو په هکله هم معلومات ورکړي.

ب: زده کوونکو ته موقع ورکړي شي چې خپل نظر ووایي.

ج: ښوونکی زده کوونکو ته مهم خبرونه او تربیوي قصې ووایي.

څرنګه چې نظم او ترتیب دتدریس لپاره زمینه مساعدوي او ددرس په جریان کې شامل ندي او کله کله دستونزو سره مخامخ کیږو چې دتدریس دبي نظمۍ سبب ګرځي، داډول حالت دټولګي د ستونزو په نامه یادوي او هغه په دې ډول ترکتنې لاندي نیسو:

**b) دټولګي دستونزو حل:**

ځینې ښوونکی معلومات او مهارتونو ته ضرورت لري لکه چې دمخه ذکر شو دوي دتدریس په وخت کې ستونزو سره مخامخ کیږي دبیلګې په توګه:

**الف: په لومړي ټولګي کې ستونزه**: یو زده کوونکي دټولګي په اخره کې ناست دي خوخوب وړیدي نورو زده کوونکو دی ولید او په خندا شول. داخندا دټولګي دنظم دخرابیدو سبب ګرځي. ښوونکی پوهیږي چې دا زده کوونکي دغریبې کورنۍ څخه دي او دلرې ځاي څخه راځي. په دې حالت کې ښوونکی څنګه کولاي شي چې دټولګي نظم وساتي او دزده کوونکو خندا ودروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددي ستونزې دحل لپاره ښوونکی باید زده کوونکي له خوبه راویښ او له خپل ځای څخه یې جګ کړي په نرمه ژبه ورته وواییي چې څه مخ او لاس دې ومینځه او بیا راشه. دراتللو څخه وروسته یې په لومړي قطار کې کیښنوي او په درسي فعالیتونو کې ورته برخه ورکړي او هغه زده کوونکو ته توصیه وکړي چې خندایي کوله او ورسته له دې خندا ونکړي. که یوزده کوونکي داعمل تکرار کړي دکورنۍ سره یې باید تماس ونیول شي.

**ب: په دوهم ټولګي کې ستونزه**: ښوونکی په ټولګي کې درس ورکوي یوزده کوونکي دبل سره لاس اچوي او شوخي کوي. درس ته موجه ندي. ښوونکی داحالتویني چې څه وکړي.

ددي دحل لپاره هغه زده کوونکي چې شوخي کوي دټولکي مخې ته راوغواړي او دلاس اچونې علت ورڅخه پوښتنه وکړي. کله چې علت معلوم کړي نو عادلانه فیصله وکړي هغه زده کوونکي چې لومړي لاس اچولي دي په نرمه لهجه وپوهول شي چې بیا داسې کار ونکړي او ددې څخه وروروسته په لومړي قطار کې کښینول شي او په درسي فعالیتونو کې دې ورته زیاته برخه ورکړي. که دده داعمل بیا تکرار شي نوبیا دی د اداري، دده کورنۍ او دلوبو ملګرو سره تماس ونیول شي ترڅو یې علت معلوم او ستونزه حل شي.

**ج: په پنځم ټولکې کې ستونزه**: ښوونکی غواړي چې دتعلیمي کال په پیل کې یوه صنفي ازموینه واخلي خو ټولګي دومره تنګ دي چې دچوکیو دلرې کیښودلو او زده کوونکو دلرې کښیناستلو امکانات نشته دی او زده کوونکي یو له بل څخه نقل کوي. ښوونکی داستونزه څرنګه حل کړي.

ددې ستونزی دحل لپاره دي ښوونکی د الف، ب او ج په عادلانه توګه دری ګروپه سوالونه جوړ کړي او داسي نه وي چې دیو ګروپ سوالونه مشکل او دبل آسانه وي. زده کوونکي دې په منظمه توګه په هر قطار کې کښینوي چې په هر

(c) ketabton.com: The Digital Library

قطار کې دهر زده کوونکي سوالونه يو له بل سره فرق ولري ښوونکی به دهر ګروپ دسوالونو دويلو په وخت کې لومړي دالف دګروپ سوالونه وايي او داورته په ګوته کړي چې سوالونه کيږدي او وروسته د ب او ج دګروپونو سوالونه جلا جلا وايي بيا هدايت ورکړي چې سوالونه حل کړي که سوالونه چاپي وي دزده کوونکو هر ګروپ ته دهغوي دګروپ سوالونه توزيع کوي.

په ژوند کې هر څوک ځيني شيانو ته ارزښت ورکوي ځيني شيان نظر نورو ته ښه ګڼي او هغې ته يو خاص ارزښت قايل دي نو کله چې انسان يو کار کوي هغه څه چې ورته ښه ښکاري هغي ته زيات ارزښت ورکوي او په خپل کار کې يې په پام کې نيسي. شايد ځيني ارزښتونه مور د ځينې کارونو څخه منع او دځينې کارونو لپاره مجبور کړي. کيداي شي ځيني وخت يو کار ته ارزښت قايل کيدل ښه او ځيني وخت ښه نه وي او يا داسي وي چې يو شي ديو چا له خوا ارزښت ورکول نه غلط او نه صحيح وي.

په دي ډول دتدريس په وخت کې ښوونکی خپل هغه ارزښتونه ته پام کوي چې دهغي په رڼا کې تدريس کوي او دا په دې پورې اړه نيسي چې ښوونکی دتدريس دکوم اصل څخه کار اخلي. ځيني ښوونکی شاګرد دفعاليت دمرګز په توګه ښه ګڼي او په تدريس کې ورڅخه کار اخلي او ځيني يې ښوونکی دفعاليت دمرکز په حيث خوښوي او په تدريس کې ورڅخه کار اخلي. په دي ډول دا اصلونه دټولګي په دسپلين مستقيم اثر اچوي او دهريو دسپيلين له بل څه فرق کوي.

دښوونکی دارزښت معلومول دلاندي پوښتنو په واسطه معلوموﻻي شو:

## دارزښت دتوضيح کولو تمرين:

په لاندي پوښتنو کې يوازي د (الف) يا (ب) عبارتونو څخه کړی تاو کړئ يا خپل نظر په ګوته کړي.

1. الف: زده کوونکي ازاد طبيعته دي هر څه چې وغواړي هغه بايد ووای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ب: لاس جګ کړئ او په منظمه توګه په صنفي بحث کې برخه واخلي.

2. الف: کورنۍ وظیفه کمه او دضرورت په وخت کې ورکړ شي.

ب: کورنۍ وظیفه هره شپه باید ورکړ شي.

3. الف: صنفي فعالیتونو کې باید زده کوونکي دفعالیت مرکز وي.

ب: صنفي فعالیتونو کې باید ښوونکې دفعالیت مرکز وي.

4. الف:دښوونځي ښوونکی باید دآزاد، طبیعي او دوستانه احساساتو خاوند وي.

ب: دښوونځي ښوونکی په رسمیاتو کې مقید، احتیاط کار او کم حرفه وي.

5. الف: ښوونکی باید په خپله تعلیمي نصاب جوړ او دزده کوونکو دضرورتونو سره سم وي.

ب: ښوونکی باید دلوړو مقاماتو له خوا تعین شوي نصاب تعقیب او تطبیق کړي.

6. الف: دزده کوونکو په ګروپي کار کې عملیه مهمه ده.

ب: دزده کوونکو په ګروپي کار کې نتیجه مهمه ده.

7. الف: زده کوونکو ته ورکړشوي کارونه هغه وخت ګټور دي چې په ګروپي ډول اجرا شي.

ب: زده کوونکو ته ورکړشوي کارونه هغه وخت ګټور دي چې په انفرادي توګه ترسره شي.

8. الف: په زده کوونکو دانګیزې تولید زیات او ښه دداخلي پاداش (زده کوونکي دکار په اهمیت پوه او په خپله یې ترسره کوي) په واسطه اجرا کیږي.

ب: په زده کوونکو کې دانګیزی تولید زیات او ښه دخارجي پاداش (زده کوونکي کار دتشویق له لاري ترسره کوي) په واسطه اجرا کیږي.

9. الف: ارزیابي باید رسمي وي.

ب: ارزیابي باید غیررسمي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

10. الف: ترټولو اهم کار دادي چې زده کوونکو ارزښتونوته تغير ورکړ شي.

ب: ترټولو اهم کار دادي چې زده کوونکو سلوک او روش ته تغير ورکړ شي.

11. الف: هغه څه چې مهم دي بايد دتعليمي نصاب دمحتوا يوه برخه تدريس شي.

ب: هغه څه چې مهم دي بايد ټول تعين شوي تعليمي نصاب تدريس شي.

12. الف: ددسپلين لپاره معيارونه بايد خپله ښوونکی تعين کړي.

ب: ددسپلين لپاره معيارونه دښوونځي دعنعنې او پاليسۍ له مخي تعين شي.

13. الف: درسي ساعت بايد ددرسي موضوع څخه خارج موضوعات هم احتوا کړي.

ب: درسي ساعت بايد تعين شوي کارونو ته اختصاص شي.

14. الف: په ښوونځي کې دزده کوونکي لپاره مهم ټکي دادي چې پوه شي چې څنگه يې زده کړو.

ب: په ښوونځي کې دزده کوونکي لپاره مهم ټکي دادي چې معلومات،واقعتونه او حقيقتونه زده کړي.


15. الف: دزده کړې او تدريس په پروسه کې زده کوونکي تصميم ونيسي چې څنگه او چيرته زده کړه وکړي.

ب: دزده کړي او تدريس په پروسه کې ښوونکی تصميم ونيسي چې څنگه او چيرته تدريس وکړي.

بايد وويل شي چې پورتني سوالونه دغلط او صحيح له ډلې څخه ندی بلکه هريو ديو خواهش له مخې تعينيږي دارزښت دتعينولو له پورښتنو څخه معلوميږي چې کوم سړي څومره تعداد (الف) او څومره تعداد (ب) ټاکلي دي چاچې دالف پوښتنې زياتې ټاکلي دي زده کوونکي دفعاليت مرکز او چاچې دب بوښتنې زياتې ټاکلي دي ښوونکی دفعاليت دمرکز په حيث خوښوي او هغي ته ارزښت ورکوي. په نتيجه کې

ویلاي شو چې دارزښت ټاکنه دیوښوونکی موقعیت په ټولګي کې ټاکي او همدا موقعیت په ټولګي کې دهغه دسپلین ښئ.

| نفر | ١ | ٢ | ٣ | ۴ | ۵ | ٦ | ٧ | ٨ | ٩ | ١٠ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| دالف مجوعه | ١٠ | ٨ | ١٣ | ۴ | ١٢ | ٩ | ٧ | ١۴ | ٢ | ٦ |
| دب مجوعه | ۵ | ٧ | ٢ | ١١ | ٣ | ٦ | ٨ | ١ | ١٣ | ٩ |




دالف دقیمتونو زیاتوالی او دب دقیمتونو زیاتوالی

**دټولګي په دسپلین بحث:**

ښوونکی باید په ټولګي کې منظم او خاص دسپلین ولري. زده کوونکو ته باید دمخه خبرتیا ورکړي چې دی په ټولګي کې څرنګه تګ لاره لري او دهغه مقررات او دسپلین په ټولګي کې څنګه دي. دده دا مقررات باید په ټولګي کې ثابت او یوشان وي. زده کوونکي باید په دې پوه شي چې ښوونکی ورڅخه څه غواړي دهغي دغوښتنو مطابق باید عمل وکړي په نتیجه کې به دټولګي فضا آرامه وي او ښه تدریس به ترسره شي. که دښوونکی مقررات او دسپلین په ټولګي کې ونه پیژنې او پوه نشي چې ښوونکی له دوې څخه څه غواړي. مثلاً که یوه ورځ دزده کوونکو دکورني کارونه اجرا په صورت کې هغوي آزاد پریږدي او هیڅ ورته ونه وایي او بله ورځ ورته دهمدي ډول دکارونه اجرا په صورت کې په قهر شي او جزا ورکړي داعلت دي چې زده کوونکې حیران پاتې کیږي چې څه وکړي نو دوې به ستړي او په پاي کې به ووایي چې داڅه ډول ښوونکې دي. همدا علت دي چې دټولګي فضا نا ارامه کیږي او ښه تدریس به صورت ونه نیسي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله کله ښوونکی دښوونکی دفعالیت مرکز له اصل څخه کار اخلي او هغه دسپلین په کار دي چې په شاګرد باید دفعالیت مرکز اصل يې ایجابوي او کله کله برعکس. یعني په مناسب وخت کې دخپل دسپلین جهت ته تغیر ورکوي دشرایطو په نظر کې نیولو سره کله یوې خوا او کله بلې خوا ته ترجیح ورکوي دبیلګې په توګه په تدریس کې دګروپي کار څخه استفاده کوي خو زده کوونکو ته وایي چې متوجه اوسي او غالمغال مه کوي په دی ډول ټولګي کنترولوي (په ټولګي کې دعملي کار اجرا، دزه کوونکو تلل راتلل او داسي نور په شاګرد باندي دفعالیت د مرکز اصل دي).

کله چې زده کوونکي خپل استاد ښه وپیژني نو فکر کوي چې دهغه په مقابل کې څنګه تګ لاره غوره کړي دهغه دهدایت سره سم کار ترسره کړي. په دی اساس باید موږ یو ښکاره او ثابت دسپلین په ټولګي کې ولرو ځکه بي له دې څخه به دټولګي فضا ناارامه وي.

پورتنۍ لارښوونې دټولګي ددسپلین په هکله وې چې ښوونکې په ټولګي کې دکومې لارې کار اخلي دا داصول تدریس په تخنیک پورې اړه نه نیسي. که ښوونکی دتدریس فعایت مرکز شاګرد ونیس او هغه ته ارزښت ورکوي خو په تدریس کې دتدریس دفعالیت مرکز ښوونکی دسپلین کارول کوم تفاوت نه لري ځکه چې دادسپلین به ګټور بولي او برعکس به ممکن ستونزې ولري. ولته دتدریس تخنیک او دسپلین دواړو ته اشاره وشوه خو زموږ مقصد دټولګي دسپلین دي. په هر حال داسې تدریس وشي چې هم دسپلین ترسره شي او هم آرام اوسي. مثلاً دزده کوونکو غالمغال ونکړي. خوهغه ښوونکی چې په ټولګي کې کنترول لري او زده کوونکي باندي دفعالیت مرکز اصل څخه کار واخلي کیداي شي په لومړۍ مرحله کې ستونزې ولري خو ورو ورو به دا ستونزې کمې شي.

د ټولګي نظم او دسپلین د هغو مهمو مهارتونو څخه دي چې ښوونکی کولاي شي د تدریس په وخت کې ورڅخه کار واخلي. که ښوونکی تجربه کارنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي نو زيات وخت به يي د ټولګي دفضا په آراملوکي تير شي زياتي موضوع ګاني دټولګي په نظم او دسپلين باندي اثر اچوي لکه دټولګي سايز، ددرسي خونو اسانتياوي دښوونکی کړنلاره، په کورکي دکار اومصروفيت مسؤ ليتونه،سؤ تغذي، بي خوبي، دکور او ښوونځي ترمنځ واټن، د ښوونکی د عنعنوي او فرهنګ رول په هکله د خلکو نظر او داسي نور. همدارنګه داتکي هم ديادولو وړدي چې په درسي ميتودونوکي نا ځاېي تغيير راوستل که څه هم دپيداګوژي علم (فن تدريس) له نظره يو مثبت ګام دي خوپه ټولګي کې به ستونزي را منځ ته کړي.

دذکر شوو پورتنيو موضوعاتو سربيره چې پر نظم او دسپلين تاثير لري په لاندي توګه دهغي نه يو څو ټکي په ګوته کوو.

- په ټولګي کې دزده کوونکو دکيښنولو ترتيب او تنظيم.
- دتعليمي نصاب جوړښت.
- دزده کوونکو سره مرسته او دهغوې ساتنه.
- دتدريس په حالت کې دښوونکی وضع.
- دنظم او دسپلين دستونزو حل.
- کم ترکمه دضروري دسپلين څخه استفاده.


په ټولګي کې دزده کوونکو کښينول او دهغوي نظم او ترتيب په هر ټولګي کې فرق کوي نو ښوونکی دتدريس په وخت کې خپل زده کوونکي څنګه بايد کښينوي؟

درسي خوني تر ممکنه حد پوري بايد مستريح، د زدکړي له پاره آماده اوترتيب شي. دکښينولوترتيب دزده کړي په عمليه باندي پوره اثر اچوي په مختلفه حالاتوکي دتدريس د مختلفه روشونو د استعمال په وخت کې هغه داسي بيانوو


(c) ketabton.com: The Digital Library




زده کوونکي په دايروي
ډول کيښنول. (1)




زده کوونکي داسي ناست
دي چې نعل ډوله شکل يې
غوره کړيدي. (2)




زده کوونکي جوړه جوړه
په دوه خواوکې دي. (3)




زده کوونکي په ګروپي ډول
ناست دي (4)





دلته دوه نفري ګروپي ډول کښيناستل دي.
ښوونکي په منځ کې قرار لري. (6)



دلته هم زده کوونکي په ګروپي
ډول ناست دي.(7)

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس هر ډول کښيناستل چې په پورتنی 7 ډولونو کې ښکاري دنظم او دسپلين له نظره ترکتني لاندي نيسو.

په (1) شکل کې زده کوونکي په دايروي ډول ناست دي. دښوونکی کنترول نسبتاً زيات دي. ښوونکی کنترول کوي او فعاليت دزده کوونکو پرخوا زيات دي. په (2) شکل کښيناستلو کې ښوونکی کنترول لري او هغه اصل ته نږديې دی چې ښوونکی دفعاليت مرکز وي. دسوال او ځواب او دفکري مشورو معرفي هم په کار وړل شويده. په (3) شکل کې ښوونکی دفعاليت مرکز دي او لکچر ورکوي کله کله دنمايش په ډول سوال او ځواب هم په کار وړي. په (4) شکل کې ګروپي کار صورت نيسي او دښوونکی دتګ او راتګ لارهري خواته خلاصه ده ښه کنترول او مراقبت کولاي شي. په (5) شکل کې ښوونکې زيات کنترول نکوي او دزده کوونکي په توګه په ټولګي کې ناست دي او زيات کار په خپله زده کوونکي ترسره کوي. په (6) شکل کې زده کوونکي دوه نفري کار اجرا کوي او ښوونکی هرې خواته تګ او راتګ کولاي شي دزده کوونکو فعاليت زيات دي. په (7) شماره کې د مسابقې دروش څخه کار اخستل کيږي ښوونکی په منځ کې قرار لري او لږڅه کنترول کيداي شي. بايد په ګوته شي چې په پورتنيو شکلونو کې چې زده کوونکي بايد دهغوي د ودې او جسمي وضعې په تناسب په ټولګي کې کښينول شي داسې چې معيوب او کوچني ماشومان دټولګي په سرکې ناست وي.

کله کله داسې هم واقع کيږي چې دزده کوونکو په تناسب درسي خونه کوچنۍ وي نو دلته ښوونکی نشي کولاي چې دخپلې خوښې سره سم زده کوونکي کښينوي په دي حالت کې ښوونکی کولاي شي توره تخته دځان سره واخلي او شاګردان په ازاده هوا کې کښينوي داهم که امکان موجودوي. البته داځاي بايد داسې وي چې دتدريس په وخت کې دزده کوونکو افکار بلې خواته معطوف نشي. دچارتونو، نقشو، کرو او نورو نمايشي شيانو استعمال زده کوونکو ته دښې زده

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړې زمينه مساعدوي او زده کوونکي دې ته مجبوريږي چې بلي خواته خپل افکار معطوف کړي.

دزده کوونکو دځاي بدلول داګټې لري:

- زده کوونکي يو ډول دلچسپي پيدا کوي.
- په کار کې يو ډول تغير دي.
- زده کوونکي ښه درس زده کولاي شي.
- دتدريس هر ډول روش ته لاره برابروي.
- زده کوونکي هر ډول وضعې او موقعيت سره عادت پيداکوي.
- دزده کوونکو ويره لرې کيږي اويو بل سره دهمکارۍ روحيه پيدا کوي.

مخکې له دي چې ټولګي ته ولاړ شو بايد له ځان څخه داپوښتني وکړو:

- په ټولګي کې بايد څه ډول ښوونکی اوسم او څنګه دسپلين بايد ولرم.
- زما دتدريس تخنيک او روش څه ډول دي او زده کوونکي په کوم روش ښه زده کړه کولاي شي. دڅه ډول اصول اودسپلين سره زده کوونکي ښه زده کړه کوي.

**غوښتني او محدوديتونه:**

څرګنده ده چې اخلاقي کړنلارې ديو محيط څخه بل محيط ته او ياد ښوونځي څخه بل ښوونځي ته فرق کوي نوښوونکی مخکي له دي چې ښوونځي ته ولاړ شي بايد دمحل دښوونکو سره ددسپلين او قوانينو دمقرراتو په هکله له هغو څخه معلومات ترلاسه کړي او مرسته ورڅخه وغواړي چې ددغه محل دخلکو درسم او رواج او اخلاقي کړنلارو په هکله پوره معلومات ترلاسه او بيا په ټولګي کې ددغه معلوماتونو په رڼا کې خپل مقررات او قوانين ترتيب کړي. مخکې له دی چې دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل دستورونه او قواعد په ټولګي کې تطبيق کړي. دالاندې ټکي بايد په پام کې ونيسي.

1. ښوونکی بايد غوښتنې، مقررات او ددسپلين محدوديتونه دمخه تثبيت او بيا يې زده کوونکو ته اعلان کړي او هغوي ورباندې ښه وپوهوي چې دده دسپلين په ټولګي کې څه ډول دي.
2. دا مقررات او قواعد بايد ماده وار ترتيب او زده کوونکو ته ماده په ماده توضيح، تفسير او په تدريس کې دهغې ارزښت ورته روښانه شي. دبيلګې په توګه ورته وويل شي چې تاسو بايد هميشه په صنف کې دځان سره کتاب قلم او کتابچه ولري ځکه که کتاب ستاسو سره نه وي نو څنګه به زده کړه وکړۍ. که کتابچه درسره نه وي نوڅنګه به ضروري شيان وليکئ کورنی کار به مو په کورکې پاتې وي. که قلم درسره نه وي په کتابچه کې به په څه شي ليکل وکړي او داسي نور.
3. قانون اومقررات بايد په يوه ورقه کې وليکل شي او په ټولګي کې په ديوار نصب چې زده کوونکي يي ولولي. ښه به داوي چې دامقررات او قوانين دټولو ښوونکو له پاره مشترک وي او پرديوال نصب شي.
4. قوانين او مقررات ديوې مثبتې جملې په شکل وليکل شي مثلاًووايي چې دزده کوونکو څخه هيله کوؤ چې دمقرراتو سره سم په ازموينه کې خپل کار وکړي.
5. ښوونکی بايد واضح کړي چې دسرغړونې په صورت کې جزا ورکول کيږي دهرې مادې جزا بايد تعينه شوي وي. مثلاً ووايي که زده کوونکي دوه ځلي ټولګي ته ناوخته راغي نو ستاسي مراعات کوم خو که دريم ځل ناوخته شو بيا نو جزا ورکول کيږي چې دمخه دوي ته وويل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### دتعليمي نصاب ملحوظات:

که په درسي فعاليتونو کې درسي مواد او اهداف ناموزونه وټاکل شي زده کوونکي دلسرده، کم حوصيلي ستړي او مايوسه کيږي چې داټول دبي هدفه سلوک سبب ګرځي او په نتيجه کې دټولګي دسپلين له منځه ځي. ښوونکی بايد په خپل مضمون حاکميت ولري او درسي فعاليت داسي طرح کړي چې زده کوونکي ته په زړه پوري او خوندور شي دموضوع په محتوا کې تدريس داسې ترسره شي چې زده کوونکي پکې فعاله برخه واخلي او دزده کوونکو دژوند زياتې جنبې احتوا کړي. ددې په نتيجه کې دټولګي فضا آرامه او بې د اخلال څخه تدريس ترسره شي.

### دمرستې او حمايې سيستم:

ښوونکی دخپل تدريسي کارلپاره حمايې او ساتنې يو سيستم چې دښوونځي او داړوند ټولنې کارونه احتوا کوي تشخيص او تأسيس کړي داسيتم ټول ښوونکی، دښوونځيو مسئولين دماشومانو مور او پلار احتوا کوي. مهمه خبره داده چې ښوونکی بايد دښوونځي دمدير له خوا حمايت کړي شي ځکه چې دټولو ستونزو حل دښوونکی له توان څخه بهر وي. ښوونکی بايد دنظم او دسپلين په هکله خپل قوانين او لارښوونې دښوونځي مدير ته توضيح کړي ترڅوکولاي شي دښوونکی دحمايې لپاره پوره معلومات ولري. دامکان په صورت کې بايد ښوونکی دزده کوونکي دمور او پلار سره په تماس کې شي اودهغوي سره دخبرو لار خلاصه کړي او په دې ډول دحمايې يو احتياطي سيستم دټولګي ددرسي سيستم دنظم لپاره رامنځ ته شي.

### دتدريس عادي کارونه:

داکارونه دتدريس دعادي کارونو څخه عبارت دي. دتدريس ورځني کارونه توضيح چې دمخه يې يادونه وشوه داهميت وړ دي. ښوونکی بايد ورځني کارونه لکه ټولګي ته داخليدل او له ټولګي څخه وتل، دپنسل تيزول دموادو اخستل او بيرته

(c) ketabton.com: The Digital Library

اېښودل، دضرورت رفع کول باید زده کوونکو ته توضیح کړي. که ښوونکی خپلو درسونو ته ښه او منظمه امادګي ولري نو بیا کولاي شي چې ټولګي نظم او دسپلین ته متوجه کړي. په نتیجه کې ښوونکی دزده کوونکو له خوا په ښه توګه استقبال کیږي او تدریس په آرامه فضا کې پرمخ ځي.

## ښوونکی دتدریس په بهیر کې:

دښوونکی حرکتونه او خبرې کول دتدریس په عملیه باندې مهمه اغیزه لري نو ښوونکی دتدریس په وخت کې داکلیدي قاعدې دزده کوونکو دراجلبولو لپاره ډیري مهمي دي په پام کې ونیسي:

- دخبرو کولو په وخت کې باید زده کوونکو ته وګوري، واضح اوروښانه خبرې وکړي.
- دتورې تختي څخه په اغیزمن ډول استفاده وکړي که زیات موضوعات وغواړي پرتخته ولیکي په لازمو وقفو د شاګردانو سره دخبرو کولو وروسته د پرتخته ولیکي.
- ټولو زده کوونکو ته توجه وکړي سترګې په سترګې دټولو شاګردانو سره تماس ولري نه داچې د څوتنو محدودو سره تماس ولري. چې داد نظم او دسپلین لپاره ډیر مهم دي.
- دټولو زده کوونکو له وضعې څخه باخبر اوسي او دخبروکولو په وخت کې دټولګي هرې برخي ته په ځیر سره وګوري.
- خپل ټول حرکتونه او آواز باید کنترول کړي. ښوونکی باید دځینې هغو حرکتونو څخه ډډه وکړي چې دکلتور خلاف وي، تنفر پیداکوي او غلط فهمي منځ ته راوړي، باخبره وي، دښوونکی ظاهري وضع ډیره مهمه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د دسپلين دستونزو حل:**

ځينې په دې عقيده دي چې که په ټولګي کې ددسپلين دستورونه او مقررات دمخه مشخص او توضيح شي ددسپلين دزياتو ستونزو مخه نيول کيږي. خو دا بايد په ګوته کړو چې حتا په ښو او تنظيم شوو ټولګيو کې هم دسپليني ستونزې منځ ته راځي چې ښوونکی بايد دهغې دحل لپاره دمخه تدابير نيولي وي دستونزو په اړه دالاندې کليدي ټکي ديادونې وړ دي:

- ښوونکی بايد هڅه وکړي چې په ټولګي کې داخلال په وخت کې تدريس ونکړي په داسې حالاتو کې بايد درس ودرول شي او زده کوونکي چُپ ساتلوته وهڅول شي او بيا درس پيل شي.
- ښوونکی بايد وضع کنترول کړي دجګ آواز او چيغووهلو څخه ډډه وکړي په نرم او کنترول شوي آواز خبرې وکړي او مسألي په ډيره سړه سينه حل کړي.
- ښوونکی پرې نږدي چې وضع دکنترول څخه ووځي. دډيرو خبرو کولو او غير ضروري شوخی له پامه ونه غورځوي بلکه په مناسب وخت کې يې چاره وسنجوي. په ټولګي کې دزده کوونکو دسلوک او کړو وړو په هکله معيارونه سخت مراعات بايد شي.
- دښوونکی وضع سخته اوسپکه نه وي بلکه آرامه، سنجول شوې او په ټولو حالاتو کې مُودبانه وي.
- ښوونکی بايد ددسپلين ټولې ستونزې په غاړه وانخلي بلکه سرښوونکی او دښوونځي آمر له موضوع څخه خبر کړي او دستونزو په حل کې يې شامل کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### اخلال ګر او جنجالي زده کوونکو ته رسیدګي:

- ښوونکی باید جنجالي او اخلال ګر زده کوونکي یوځای کښینوي او په دي يې پوه کړي چې دملګرو سره څنګ په څنګ کښیناستل داسي امتیاز دي چې دنیکو ادابو په واسطه لاس ته راتلای شي.
- ښوونکی باید زیات وخت دجنجالي او اخلال ګرو زده کوونکو سره تیر کړي. که ستونزه یا مسأله په مناسب او معقول وخت کې حل نشي دزده کوونکو څخه دې وغوښتل شي چې ټولګي ترک کړي او بیا دې خپل درس ته ادامه ورکړي.
- دشوخو او اخلالوونکو زده کوونکو سره دې دټولګي څخه بهر تماس ونیول شي کله چې په صنف کې ځینې زده کوونکي خپلې شوخۍ او اخلال ته ادامه ورکوي ددرسي ساعت څخه وروسته یاله رخصتۍ څخه وروسته دپرابلم دتشخیص لپاره ښه مساعد وخت دي.

### دکم ترکمه ضروري دسپلین څخه استفاده:

ښوونکی باید دهغه اصل څخه استفاده وکړي چې کم ترکمه دسپلین پکې وي او دمثبتې زده کړې دمحیط دساتلولپاره ضروري وي. دزیات دسپلین څخه باید ډډه وشي او هغومره دسپلین په کار یووړل شي چې دټولګي دمئوثر محیط دساتلو لپاره په کاردي. دځینو ټولګیو لپاره کم او دځینو ټولګیو لپاره زیات دسپلین په کار دي او دښوونکی لپاره هم په کارده چې یو ټولګي لپاره لازم دسپلین درک او بیایې په کار یوسي.

په لنډه توګه ویلای شو چې دتدریس په ساحه کې یو واحد فورمول وجود نلري چې په هر ځای کې دیو ټولګي لپاره په معینه یوه اندازه نظم اودسپلین په کار یووړل شي. دیادولو وړ ټکي دادي چې ښوونکی باید خپل چاپیریال ته وګوري شیان

(c) ketabton.com: The Digital Library

وازمايي، تصميم ونيسي او هغه خلکوته چې دده په درس کې مؤثر وي، اطلاع ورکړي او دخپلو تصميمونو په تطبيق کې عادل، قوي او منطقي وي.

هرڅومره چې ښوونکی دټولګي دنظم په سبک او کړنلاره کې ژر تصميم ونيسي او زده کوونکي دخپلو قواعدو اودستورونو څخه خبر کړي په همغه اندازه يې دخپل اصلي کار داجرا په هکله اغيزمن قدم پورته کړي دي. برسيره په نظم او دسپلين دښه تدريس لپاره دټولګي تيارول هم ضروري قدم دی چې په لاندي توګه يې توضيح کوو.

ټولګي هغه ځاي دي چې په هغي کې دښوونکو او زده کوونکو ترمنځ دزده کوونکو ترمنځ دزده کړې هر راز اساسي فعاليتونه او هلي ځلې ترسره کيږي. ښوونکی او زده کوونکي هر ورځ په دې ځاي نږدې شپږساعته دزده کړي په فعاليتونو بوخت وي. نو که دروغتيايې مسألو له مخې ټولګي نقص او زيان ولري او يايې چاپيريال مساعد نه وي نو خامخا دښوونکی او زده کونکو روغتيا ته به تاوان رسيږي.

څرګنده ده چې په يو ټولګي کې زيات شمير زده کوونکي راټوليږي اود زده کړې فعاليتونه سرته رسوي نوکه يوزده کوونکي په کوم رنځ اخته وي او دټولګي وضع هم دروغتيايي شرايطو له مخي ښه نه وي، کيداي شي چې نور زده کوونکي هم په دي رنځ اخته شي. په دی لحاظ لازم ده چې دټولګي وضع او حالت ته زياته پاملرنه وشي. دبلې خوا که دټولګي محيط ښکلي، منظم، مرتب او آرام وي نو په زده کړه باندي زياته اغيزه کوي. ځيني عوامل شته چې دټولګي دښه چاپيريال په برابرولو کې موثر دي خو متاسفانه دښوونکو دتوان څخه بهر وي او نشي کولاي چې هغه برابر کړي مثلاً که يو ښوونځي کرايي وي چې اصلاً ددرس ويلو لپاره جوړشوي نه وي خونې يې کوچنی، تيارې او په کافي اندازه رڼا نلري، لمرنه اخلي، ميزونه اوڅوکۍ يې دزده کوونکو په تناسب نه وي اوداسي نور. که داشيان ټول سم نه وي او ښوونکی درست تربيه شوي نه وي نو دښوونې اوروزنې حالت به ويجاړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي. خوکه ښوونکی تل په دي ټينګار وکړي او تل په دې هڅه کې وي چې دټولګي چاپيريال ښه او اصلاح شي نو کولاي شي دښوونځي د ادارې او ټولنې په مرسته په هغې کې اساسي اصلاحات راولي.

په دي برخه کې دلاندې موادو مراعات کول دښوونکی اساسي دندې دي:

1. **دټولګي هوا بدلول:** په ټول درسي ساعت کې چې دټولګي کړکۍ او دروازې تړلي وي او زيات شمير زده کوونکي په ټولګي کې دننه درس لولي دتباشير ګرد هم ټوله فضا ونيسي نو لازمه ده چې د درس په وخت کې دټولګي کړکۍ او دروازې خلاصې شي چې دټولګي هوا بدله، نا پاکه هوا خارج او پاکه هوا داخله شي.

2. **تودوښه:** په وروسته پاتې هيوادو لکه زموږ هيواد کې دوه ډوله ښوونځي موجود دي دسړو سيمو او تودوسيمو ښوونځي چې دسړوسيمو ښوونځي په ژمي کې او دتودو سيمو ښوونځي په اوړي کې رخصت دي. دسړو سيمو په ژمي کې ديخي هوا له کبله او دتودو سيمو خلک په اوړي کې دګرمې هوا له کبله په تکليف وي. په لنډه توګه په ډيرو ځايونوکې زده کوونکي دتودوخې او يادېخنۍ دلاسه په تکليف کيږي نوددې له پاره چې داتکليف لرې شي په اوړي کې ددرسي خونې پرځاي دونو دسيوري لاندې کښيني او په ژمي کې لکه څنګه چې معموله ده دبخاريو څخه کار اخلي خودا پروسه په ډيرو ځايونو کې ستونزې رامنځ  ته کوي نو هڅه بايد وشي چې درسي خونې بايد داسې جوړې شي چې لمرواخلي. يعنې که درسي خونې سمې جوړې شي کړکۍ او آينې يې سمې ولګول شي په ژمي کې دخونې په تودولو کې مرسته کوي او په اوړي کې دهوا دجريان لپاره زمينه مساعدوي.

3. **روښنايي:** په زده کړه کې غوږ او سترګې دانسان دنورو حواسو په نسبت زيات نقش لري داځکه چې غوږونه دآواز دغږ سره سرو کار لري او سترګې دسمبول او علامې سره. آواز چې له خولې ووځي مستقيماً غوږونو ته رسيږي، سمبول يا علامې چې په تورې تختې ياکاغذ ليکل کيږي دسترګو سره اړيکي لري. داچې سترګې ډيرې حساسې دې نوګه شرايط برابراو مساعدنه وي په سترګو باندي بده اغيزه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي او ډېر امکان لري چې دشاګرد سترګې زيانمنې شي. دلمر د وړانګو زياتوالي او کموالي هم دسترګو دليد لپاره مضرتماميږي. نو دکتاب دلوستلو او مطالعي په وخت کې که دلمر يا روښنايي وړانګې کافي نه وي دزده کوونکو يا مطالعه کوونکو په سترګو فشار راځي، نو کوښښ وشي چې په ټولګي ياد مطالعې په ځاي کې روښنايي په کافي اندازه سترګوته ورسيږي. په دې هکله توصيه کيږي چې دليکلو په وخت کې دنور وړانګې دتل لپاره زده کوونکو دکيڼې اوږې څخه ټولګي ته راولويږي. که څوک په کيڼ لاس ليکل کوي نو دهغو په هکله داتوصيه برعکس ده.

4. **دټولګي تنظيمول:** څرګنده ده چې هرڅومره ښوونځي او درسي خونې دعمومې لارو، سړکونو او همدارنګه دفابريکو او نورو توليدي موسسو څخه لرې وي په همغه اندازه دښوونځي اوټولګي فضا آرامه وي. په همدې ډول که ښوونځي باغ، شفه ميدانونه او چمنونه ولري په زده کړه ښه اغيزه کوي. برسره پردې بايد درسي خونې داسې جوړې کړاي شي چې دلمر وړانګې وررولويږي. ددرسي خونو دجوړيدو په وخت کې دآواز دانعکاس موضوع هم بايد په پام کې ونيول شي. ديوالونه اوچت ته بايد داسې رنګ ورکړ شي چې دزده کوونکو پرسترګو باندې بده اغيزه ونکړي او دزده کونکو خوښ وي نه داچې دزده کوونکو ورڅخه بد راشي. همدارنګه دکوټو دکړکيو او ددروازو کښينول په مناسب ځاي کې وي. بله خبره داده چې ميزونه او څوکۍ بايد دزده کوونکو دقد سره تناسب ولري او هغه داسې بايد جوړ شي چې دزده کوونکو لپاره ارام وي ځکه چې زده کوونکو نږدې ټوله ورځ ورباندي کيني نوکه ارام نه وي زده کړه به ښه ترسره نشي. هغه څوکۍ او ميزونه چې ددوو تنو لپاره جوړې شوې وي بايد له دوه تنو څخه زيات ورڅخه استفاده ونکړي ځکه چې دناآرامۍ سبب ګرځي. کله کله داسې هم کيږي چې ديو زده کوونکي لپاره يوه چوکۍ جوړه شي او دليکلو لپاره ښې خواته جلا برخه ولري. ددي چوکيو بله ګټه داده چې ښوونکی او زده کوونکي په آزاده توګه له يوځاي

(c) ketabton.com: The Digital Library

څخه بل ځاي ته وکولاي شي حرکت وکړي او هغه ځاي کې چې ده ته کافي روښنايي ورسيږي، ورشي.

که څه هم په نړۍ کې دتدريس دډېرو ښو او عصري وسايلو څخه کار اخستل کيږي خو متاسفانه موږبې تر اوسه پورې په خپلو ښوونځيو کې داستعمال توان نلرو خو هغه څه چې په تدريس کې ډېر ضروري او لازمي دي توره تخته، تباشير، تخته پاک، نقشي او داسې نور چې بايد په هر ټولګي کې موجود وي. نظم، سليقه او نظافت هغه درې مهم او اساسي اصلونه دي چې په هر چاپيريال کې بايد وي ټولګي او درسي خونې هم ددې اصلونو څخه مستثنا بايد نه وي. دټولګي په يو ګوټ کې بايد باطله دانې کيښودل شي چې زده کوونکي ورپکي اضافي کاغذونه او شيان واچوي. دښوونکی دميزسامان او لوازم په يو منظم ځاي کې ځاي په ځاي شي.

دټولګيو دپاک ساتلو لپاره لاتراوسه پوري دمستخدم څخه کار اخستل کيږي که داکار زده کوونکو ته وسپارل شي نو داګټې به ولري:

- زده کوونکي به هڅه کوي چې ځان او خپل ټولګي پاک وساتي ځکه چې دچټل کيدو په صورت کې به دی مجبور وي چې هغه پاک کړي.
- دزده کوونکو علاقه به ورو ورو دکارسره پيدا شي او داهغه څه دي چې دزده کوونکو ژوند پورې تړلي دي. دتدريس مصرف يو هم ټکي دي.

5. **<u>نوروته دپوهې انتقال:</u>** نوروته دپوهې انتقال په درې ډوله د ي.

الف: يو ډول يې دادي چې دخلکو يو ډله او زيات خلک مخاطب شي. خطيبان نطاقان، بيانيه ورکوونکي، لوي لوي پوهان معمولاً همدا درس ورکوي دی ډول درس ته Mass teaching وايي.

ب: بل ډول يې دادی چې فرد يا يو پوه، ښوونکی يو ټولګي يايو ګروپ ته درس ورکوي دی ډول تدريس ته Group teaching وايي. داډول تدريس عموماً په ښوونځيو او ټولګيو کې ترسره کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ج: دريم ډول يې دادي چې يو ښوونکی يوزده کوونکي ته درس ورکوي دا ډول تدريس ډېر موثر دي ځکه چې يو ښوونکی خپل ټول وخت ديوشاګرد سره مصرفوي. په داسې حال کې چې په ټولګي کې په همغه اندازه وخت دځو تنو زده کوونکو ترمنځ ويشي دې ډول تدريس ته Individualized teaching يا په انفرادي ډول درس ورکول وايي. داډول تدريس په خاصو شرايطو کې ترسره کيږي. په اوسنيو ښوونځيو کې ددې ډول تدريس څخه هغه وخت کار اخستل کيږي چې يو زده کوونکي نشي کولاي نورو زده کوونکو پسې ځان ورسوي. ددې لپاره چې داډول زده کوونکي وروسته پاتې نشي دې ډول درس ورکولوته Tutoring يا Remedial teaching هم وايي. په دي ډول پروګرامونو کې دزده کوونکو سره په خاص ډول مرسته کيږي. په هغو موضوعاتو، مفاهيمو او حقايقو چې زده کوونکي لا تراوسه ندي پوهيدلی ښه وپوهول شي او په دی ډول وکولاي شي چې دنورو شاګردانو سره يې سويه برابره شي.

6. **<u>په ټولګي کې دزده کوونکو شمير:</u>** څرګنده ده چې په يو ټولګي کې څومره چې دزده کوونکو شمير لږوي په همغه اندازه زده کړه په ښه ډول ترسره کيږي. په همدي عملي بنياد په ټولګي کې دښوونکو او زده کوونکو ترمنځ يو نسبت ټرل شويدي (البته په دې نسبت کې دښوونکو تياري، درسي مواد، وسايل، لوازم اوسامان... په نظر کې نيول کيږي.) دا تناسب په دې ډول دي: 1:20، 1:30، 1:40، 1:50، 1:60 او نور په هره اندازه چې دا نسبت لږوي په همغه اندازه دښوونې او روزنې کيفيت لوړ وي يعني هر څومره چې دټولګيو دننوتو شمير له 40 څخه کم وي په همغه اندازه ټولګي مناسب ګڼل کيږي. خوکه دا شمير له 40 څخه زيات وي دټولګي اداره کول ښوونکی ته لږ غوندې ګران وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# درسي مواد Teaching Aids

لکه چې تجربو ښوودلې ده هغه تدریس چې ددرسي موادو په مرسته ترسره کیږي ډېر اغیزمن تدریس دي نو ښوونکی ته په کار دي چې ددرسي موادو استعمال اهمیت په تدریس کې په پام کې ونیسي. او دهغوي په استعمال ځان پوه کړي چې درسي کومکي مواد په مناسبه توګه په کار یوسي.

په ښوونه او روزنه کې ددرسي موادو استعمال دپخوا زمانو څخه رواج لري او ښوونکو داسې لارې چارې لټولې دي چې دهغې په واسطه زده کوونکو ته دمفاهیمو انتقال په آسانۍ سره صورت ومومي.

فیثاغورث 2500 کاله دمخه دښوونې او روزنې علماوو دزده کړې په عملیه کې له هغو موادو څخه کار واخست چې زده کوونکو ورسره دمخه آشنایي درلوده. مواد په خپل ذات کې به دومره داهمیت وړ نه وي ترڅو دهغې ګټې او اغیزې په تدریس کې ونه لیدل شي نو درسي مواد داسې تعریفوو:

**تعریف:** درسي مواد له هغه شیانو او وسایلو څخه عبارت دي چې ښوونکو او زده کوونکو سره د هدف په لاس ته راوړلو کې کومک کوي. په بل عبارت داوریدنې او لیدنې (سمعی او بصرې) هغه وسایل چې ښوونکی ورڅخه په تدریس کې کار اخلي، ددرسي موادو په نامه یادیږي او یا هر هغه شي چې په محیط کې موجود اود زده کړې په عملیه کې ورڅخه په مناسبه توګه استفاده وشي درسي موادو په نامه یادیږي.

درسي مواد دزده کړې په عملیه کې مهم رول لوبوي ټولوته څرګنده ده چې اوریدل، ویل، لیدل او تجربه کول داسي وسایل دي چې دهغې په واسطه زده کړه صورت مومي او ددرسي موادو په لیدلو او تجربه کولو کې ترسره کیږي نو دتدریس دهري موضوع لپاره مناسب درسي مواد باید په کار یوړل شي لکه د اجتماعیاتو دمضمون دموضوعاتو لکه جزیره، ابنا، خاکنا او نور دتدریس لپاره داوبو او خاور

(c) ketabton.com: The Digital Library

 څخه او همدارنګه درياضي دمضمون په تدريس کې لکه دعددونو شمير، دجمع او تفريق عمليه کې دکانو، دلوبيا، جوارو له دانو، قلمونو او نورو څخه کار اخستل کيږي. دمخه موږويل هغه درس چې ددرسي موادو په مرسته ترسره شوي وي دهغه درس په پرتله چې ددرسي مواد پکې نه وي کارول شوي، ډير موثر دي حتا کله کله بې له درسي موادو څخه تدريس مشکل تماميږي.

ددرسي موادو تيارول دښوونکو په دې مهارتونو پورې اړه نيسي:

1. دښوونکو ابتکار.
2. دښوونکو مسلکي پوهه.
3. دمحيطي شرايطو په پام کې نيولو سره ددرسي مواود په جوړولو کې دښوونکی مهارت.
4. دموضوع سره سم ددرسي موادو دجوړولو مهارت.

که ښوونکی دخپل مسلک علاقه ولري هغه تل هڅه کوي چې ددرسي موادو پيدا کړي او په تدريس کې ورڅخه ګټه واخلي ځکه دي پوهيږي چې يوازي دموادو پيداکول مهم ندي بلکه دهغي څخه په تدريس کې کار اخستنه د اهميت وړده. برسيره پردې بايد پوه شي چې دجوړښت له مخې درسي مواد په درې ډوله دي:

الف: اصلي شی

ب: مودل (دشي مصنوعي حالت)

ج: تصوير.

دمثال په توګه دبيالوژي دمضمون دزړه په تدريس کې کيداي شي ديو حيوان زړه ټولګي ته راوړي او موضوع ورباندي توضيح کړي چې دا اصلي شي دي. خو که يو پلاستکي زړه راوړي دزړه مودل وي او که دکاغد پرمخ يا پرتخته دهغي شکل رسم کړي او دهغي له مخي خپل درس تشريح کړي دزړه له تصوير څخه نمايندګي کوي. په همدي ډول دساينس په مضمون کې دنبات دتوضيح لپاره يو بوټي راوړي دا اصل دي، کاغذي ګل دمودل او په کاغذ باندي يې رسم دتصوير څخه نمايندګي کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددرسي موادو داستعمال او مؤثريت له مخې په دوه ډوله دي:

1. هغه درسي مواد چې ديوې موضوع په اړه جوړ شوي وي او اوس ورڅخه په تدريس کې کار اخستل کيږي لکه چارتونه، کارتونه چې په تدريس کې مهم او اغيزمن دي.
2. هغه درسي مواد چې دمخه جوړ شوي وي او درسي موضوع پورې اړه نلري، دټولګي دښکلا لپاره په ديوالونو باندې نښلول شويدي او زده کوونکي دهغودليدلو څخه يوڅه زده کوي لکه نقشې، تصويرونه او نورنمايشي او معلوماتي مواد. دا مواد غير مستقيم په تدريس کې موثريت لري.

په عمومي توګه درسي مواد او لوازم ډير ډولونه لري چې دهغي څخه په لاندي ډول يادونه کوؤ:

**1.** <u>**تخته او تباشير:**</u> تخته او تباشير دزده کړې په عمليه کې دښوونکې او زده کوونکې لپاره دضروري موادو څخه شميرل کيږي. تخته زيات ډولونه لري لکه دلمڅي تخته (Flet board)، دفللين تخته، توره تخته سپينه تخته او داسي نور. توره تخته دلرګي څخه جوړيږي چې په وروسته پاتي هيوادو کې ورڅخه کار اخلي او سپينه تخته دفارميکا څخه جوړدي چې پرمخ تللو هيوادو کې ورڅخه کار اخلي او دمارکر په واسطه ورباندي ليکل کوي تخته دټولګي په منځ کې بايد داسي کښينول شي چې زده کوونکي يې په آسانۍ سره ويني او ښوونکی دتدريس په وخت کې تختې داسې ودريږي چې دهغه ليک پرتخته زده کوونکي په آسانۍ سره ويني.

**2.** <u>**تصويرونه:**</u> دموضوع دښې توضيح لپاره ښوونکی له تصويرونو څخه کار اخلي خودتصويرونو په هکله داسې فکر ونشي چې هر څوک هغه پيژني په دی معنا چې ټول خلک نشي کولاي تصويرونه دژوند سره ارتباط ورکړي. دتصويرونو په هکله دزده کوونکو د اذهانو دمعلومولو لپاره داپوښتنې بايد وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الف: په تصویرونو کې څه وینۍ؟
ب: دهغي ګټي او تاوانونه وښایاست؟

**3. مودولونه:** مودل په لغت کې نمونې او په اصطلاح کې دیوشي مصنوعي جسم جوړولوته مودل وايي مثلاً که دتدریس موضوع دانسان غوږ یا سترګه وي نوښوونکی کولاي شي دغوږ او سترګې نمونې جوړې کړي ځکه چې مشکله ده دژوندي حیوان یا انسان سترګي یا غوږ له وجود څخه جلا او ددرسي موادو په شکل وښودل شي. که مودل قیمتي وي او په آسانۍ سره لاس ته رانشي ښوونکی کولاي شي هغه دمحیطي ساده موادو څخه جوړ او ددرسي موادو په شکل ورڅخه کار واخلي.

**4. ګرافونه:** ګرافونه مختلف ډولونه لکه مستطیلي (ستوني) دایروي او مصورګرافونه. اکثراً ښوونکی په موضوعاتو کې له هغه ګرافونو څخه کار اخلي چې په هغي کې کمیت او کیفیت ضرورت وي. دا کار عموماً په احصائیه، طب او دژوند په مختلفو موضوعاتو کې په کار وړل کیږي. په همدي ډول ښوونکی کولاي شي دشیانو تعداد، وخت، مقدار او وزنونه دګراف په واسطه وښیئ.

**5. چارچونه:** چارچونه دلیدو دموادو څخه عبدارت دي چې ددرسي مهمو موادوپه حیث ورڅخه کار اخستل کیږي. ددرس موضوع دالفاظو، کلمو او جملو په شکل واضح کوي او مختلف ډولونه لري لکه دمقوا چارت، لوله چارت، تکه یي چارت او داسي نور.

**چارتونه باید داصفتونه ولري:**

1. دټولګي دهرې نقطي او هرې برخې څخه یې زده کوونکي ولیدلي شي.
2. چارتونه بایدداسي رنګونه ولري چې دزده کوونکوتوجه رنګونوته جذب شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

3. داسي اضافي معلوماتونه پکې ځاي نشي چې زده کوونکي هدف ته رسیدلو څخه پاتي شي.
4. دخطونو (کرښو) ترمنځ فاصله یو شان وي.
5. دخطاطۍ او لیکوالۍ مطابق حاشیه ورکړ شي.
6. موضوعات یې دمهال ویش سره سم یودرسي ساعت احتوا کړي او له هغي څخه زیات نه وي.

6. **فلش چارتونه:** داهم دلیدنې مواد دي چې یوه درسي موضوع دتصویر په شکل مجسموي.

7. **کارتونه:** داهم دلیدو دموادو څخه دي چې دیو درسي موضوع یوه برخه دکلمې یا نقطي په شکل روښانه کوي په بل عبارت کارتونه له هغه درسي موادو څخه عبارت دي چې دمستطیل او یا نورو هندسي کوچني اشکالو په شکل له کاغذ څخه جوړیږي دموضوع عنوان، لغت یاکومه اصطلاح ورباندې لیکل کیږي. دجملي یاکلمي دوضاحت لپاره ښوونکی خپل شاګردان ددرس مهمو ټکو ته متوجه کوي.

8. **فلش کارتونه:** داهم دلیدو مواد دي چې دیو درسي موضوع جزء دتصویر په شکل روښانه کوي.

9. **پوسترونه:** هغه شکلونه او تصویرونه چې دکاغذ پرمخ په مختلفو رنګونو دیزاین کیږي له پوستر څخه عبارت دي په بل عبارت څو فلش چارتونه چې دیوی وادي موضوع لپاره ډول ډول تصویرونه او شکلونه ولري پوستر بلل کیږي. که دیوې موضوع په هکله تصویرونه موجود وي او دهغي له مخې موضوع ښه واضح او روښانه شي نو ښوونکی باید له پوسترونو څخه کار واخلي تر څو دزده کوونکو په زده کړه کې اغیزمن واقع شي او پوسترونه باید بې له تشریح څخه ګویا او سي.

10. **نقشي:** ددرسي موادو له جملي څخه دي داسې چې دکاغذ پرمخ رسم،په جغرافیه، انجینري او ساختماني موضوعاتو کې ورڅخه کار اخستل کیږي. ښوونکی کولاي شي دیو هیواد معرفي او خاصتاً دهغه دموقعیت او مساحت

(c) ketabton.com: The Digital Library

دروښانه کولو لپاره نقشې استعمال کړي. ښکاره خبره ده چې زده کوونکي دنقشې له مخې ښه زده کړه کولاي شي. همدارنګه په مسلکي مسألو کې کله پل جوړول، تعمیرونو، سرک جوړولو کې دنقشو څخه ښه کار اخستل کیداي شي.

11. **سلایدونه:** سلاید دیو مربعي یا مستطیل شکله شیشې څخه عبارت دي چې په طبابت، لابراتوارونو، او کیمیا، بیالوژي په موضوعاتو کې ورڅخه کار اخستل کیږي. همدارنګه ښوونکی په عملي کارونو او تطبیقاتو کې له سلایدونو څخه کار اخلي دمثال په توګه دوینې دتشخیص لپاره په مکروسکوب کې دسلاید ایښودل زده کوونکو ته ډیر موثر دي ځکه چې عملي جنبه لري او هغوي پکې عملي برخه اخلي.

12. **فلمونه:** دمصنوعي ژوند جوړول او نوروته دهغي ښودل له فلم څخه عبارت دي. که ښوونکی یوازې په نظري توګه درس ورکړي نو دلږي مودې څخه وروسته دزده کوونکو له ذهن څخه وځي او هغه هیروي. ښه به داوي هغه څه چې په نظري توګه تدریس کیږي په هغې کې له داسې درسي موادو څخه کار واخستل شي چې دزده کوونکوپه زده کړه کې موثر وي. فلم داسې درسي مواددي چې دزده کوونکو په ذهن کې تر ډیر وخته پوري پاتې کیږي. زده کوونکي له درس سره علاقه پیدا کوي اودبلې خوا دفلم ښوودلو په واسطه دبیا یادراوړلو لپاره ښه زمینه برابروي. که یو زده کوونکي دکوم مشکل سره مخامخ کیږي دفلم دلیدلو په واسطه هغه ټولرفع کیداي شي. ښوونکی دفلم په واسطه دشیانوعلم، دحیواناتو، نباتاتوپیژندنه، دلویانو ژوند، تاریخ دحیواناتو، نباتاتووده او پراختیا، دژوندیو حیواناتودتکثر موضوعات ښودلاي شي. بایدپه ګوته کړو چې دفلم خاطرات په ذهن کې تر ډیر وخت پورې پاتې کیږي اوهمدارنګه دکم ذهنه اوغبي زده کوونکو سره ډیره مرسته کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

13. **پروجکتور:** دا هغه آله ده چې هغه څه چې دکاغذ پرمخ ليکي يا تر سيموي دسپينې پردې پرمخ څو چنده لوي ښکاره کوي.دا درسي مواد له يوي خوا دزده کوونکوعلاقه له درس سره زياتوي اودبلي خوا ښوونکی کولاي شي په کم وخت کې زيات موضوعات زده کوونکو ته وښئ. که دا موضوعات دپردې پرمخ وليکل شي ډير وخت نيسي اودزده کوونکو دستړتيا سبب ګرځي.

14. **دمطلب لنډيز يامعلوماتې پاڼي (Hand out):** معلوماتې پاڼي_داسي درسي مواد دي چې ددرس په ښه والي کې زياته اغيزه لري. ښوونکی دموضوعاتولنډيز اومهم ټکي ورپکې په ګوته کوي.کيداي شي دادجدول، دياګرام اوپوښتنليک په ډول. په دي پاڼو کې دزده کوونکو د دلچسپۍ لپاره کيداي شي له تصويرونوڅخه استفاده وشي. په دی پاڼوکې دا ټکي په پام کې ونيول شي:

1. عمده ټکي بايد ذکر کړي.
2. تصويرونه بايد پکې ځاي کړاي شي.
3. په ساده ژبه وليکل شي.
4. دموضوعاتو تسلسل پکې مراعات شي.

15. **تلويزيون او کمپيوتر:** دا دنني عصر نوي او پرمخ تللي وسايل دي. په پرمخ تللو هيوادونوکې نن ورځ په کمپيوتر کېE- mail په واسطه مفاهيم يو بل ته توضيح کوي. نوي اکتشافات او اختراعات دهمدي لاري دنړي ګوټ ګوټ ته رسيږي. په همدي ډول ددي لاري کيداي شي يو فرد خپلي ستونزي دنړۍ دهر هيواد څخه حل کړي. په تلويزيون کې هم نن ورځ زياتو هيوادو کې دمختلفو مضمونونوتدريس ترسره کيږي چې اوريدونکي او ليدونکي په خپلو کورونو کې ناست اوزده کړه ترسره کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ددرسي موادوځانګړتیاوي:**

1. درسي مواد بایدساده، محیطي اوارزانه وي.
2. دزده کوونکو دژوند سره اړیکې ولري.
3. درسي مواد روښانه اوښکاره وي او زده کوونکي ورسره دمخه باید آشنایي ولري.
4. درسي مواد ددرس دموضوع سره اړیکې ولري.
5. کافي او مکمل وي.
6. دزده کوونکوله‌پاره داستفادې وړ وي.
7. دزده کوونکو ستونزې حل اودهغوي دعلاقي اواستعداد سره برابرې وي.
8. دخلکو درسم اورواج سره برابروي.
9. دټولګي دهرې نقطي څخه ولیدل شي.
10. درسي مواد بایدناوړه اومنفي اغیزې ونلري اوپه ژوند کې مثبت تغیرات راولي.

**د درسي موادومنابع:**

که څه هم ددرسي موادومنابع ډیرزیات دي خودښوونې او روزنې په پروګرام کې ددرسي موادو منابع عبارت دي له:

1. **دښوونځي دننه منابع:** معمولاً دتعلیمي کال په پاي کې دښوونځیو آمرین، تربیوي هیئت کښيني دښوونځي دمختلفو موضوعاتو، درسي موادو په هکله تصمیم نیسي. ښوونکی کولاي شي چې دضرورت وړ درسې موادو لست دې مجلس ته وړاندې کړي اودتربیوي هیاًت په مشوره دزده کوونکو، ښوونکو او دښوونځي د ادارې له لارې ددرسي موادو په تیارولو کې اقدام وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**2. دمحيط او دټولنې دننه منابع:** کله چې دښوونځي دباندې ددرسي موادوپه تيارولوکې اقدام کيږي لازمه ده چې دستونزو دلرې کولو لپاره يو صحيح پلان جوړ شي. څرنګه چې دټولني خلک دمرستې اغيزمنه منبع ده، امکان لري چې په ټولنه کې ډير زيات ماهره اودفن متخصصين موجود وي کله چې دهغوي مرستې کولوته اماده وي دهغوي څخه کار اخلو يا داچې دضرورت وړ ځيني مواد دهغوي څخه ديو څه وخت لپاره امانت وغوښتل شي ترڅو بي له ستونزو دښوونځي سره مرسته وکړي.

**3. نوري منابع:** ځينې موسسې، ادارې او دفترونه چې دښوونځي ترڅنګ موقعيت لري، کيداي شي دضرورت په وخت کې ورڅخه مرسته وغوښتل شي. همدارنګه پخپله ښوونکی او زده کوونکي هم کولاي شي دځينوموادوپه جوړول او تيارولو کې پوره برخه واخلي اوحتا ښوونکی کولاي شي دمحيطي موادو څخه په ارزانه قيمت درسي مواد جوړ اوپه تدريس کې ورڅخه کار واخلي.

**په ټولګي کې ددرسي موادو ښودل:** دهر ډول درسي موادو ښودل ځينې مرحلې احتوا کوي چې په لاندې توګه يې بيانوو:

**ددرس څخه دمخه مرحلي:**

- درسي مواد په درسي پلان کې دذکرشوي هدف سره مستقيماً اړيکي لري.
- که ځينې تخنيکي مواد په درس کې په کاروړل کيږي بايد ښوونکی دمخه ځان قانع کړي چې کار کوي او که نه؟

**ددرس په بهير کې مرحله:** کله چې ښوونکی دتدريس په وخت کې هغه خوا او دې خوا ګرځي بايد په ټولګي کې داوريدني او ليدنې درسي موادو په ښودولو کې هم ورو ورو حرکت وکړي او عملاً هر شي ته اشاره وکړي. اوهغه وسايلوته چې ددرسي موادو په شکل ښودل کيږي دزده کوونکو توجه جلب کړي او ورته په ګوته کړي چې ددرس په پاې کې دموادو په اړه ستاسو څخه لنډه ازموينه اخستل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کيږي. همدارنګه ددرس لنډيز ددرس په پاې کې بايد تکرار کړي اوبيا له زده کوونکو څخه ځيني پوښتني وشي چې دزده کوونکو څخه ددرس په تکرار کې مرسته وکړي.

**ددرس څخه وروسته مرحله:** درسي مواد بايد داستفادې څخه وروسته په يو محفوظ ځاي کې وساتل شي.

**دیادولو په عملیه کې ددرسي موادو اهمیت:** دیادولو په عملیه کې باید دوه اصله په پام کې ونیول شي:

1. ښوونکی دیادولو دعملیې مهم عنصر بلل کیږي درسي مواد دیادولو په پروسه کې یواځې مرستندوي دي داښوونکی دي چې دیادولو په پروسه کې لومړنی منبع ګڼلي کیږي.
2. هغه معلومات چې زده کوونکي یې ترلاسه کوي دموادوپه ښودلوو پورې مستقیماً اړه لري:

په لاندې کرښو کې دیو فرد دیادونې استعداد ښودل کیږي:

- هغه څه چې وایي اوکي یې په سلو کې 90 یاد کې پاتې کیږي.
- هغه څه چې وایي او لیکي یې په سلو کې 70 یاد کې پاتې کیږي.
- هغه څه چې اوري او ویني په سلو کې 50 یاد کې پاتې کیږي.
- هغه څه چې ویني په سلو کې 30 یاد کې پاتې کیږي.
- هغه څه چې اوري په سلو کې 20 یاد کې پاتې کیږي.
- هغه څه چې لولي په سلو کې 10 یاد کې پاتې کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دتدریس میتودونه Teaching methods

دیو مسلکي ښوونکي لپاره دتدریس اصول یاد تدریس میتودونه دارزښت وړ دي. په دي علت دښوونې اوروزنې له بحثونو څخه یوهم دتدریس دمیتودونو زده کول دي ځکه چې ددې لارې څخه تدریس، ښوونکی ژر هدف ته رسوي. یعني هغه هدفونه چې دزده کوونکودزده کړې لپاره په پام کې نیول شویدي په آسانۍ سره لاس ته راوړلاي شي. دتدریس اصول ښوونکی رهنمایي کوي او په تدریس کې دښوونکی اوزده کوونکي دندې او رولونه تعین کیږي په دي معنا چې ښوونکی ته ښيء،څنګه درس ورکړي اوزده کوونکي مجبور وي چې څنګه له ښوونکی څخه پوه ترلاسه کړي.

څرنګه چې دتدریس اصول زیات داهمیت وړ دي نوښوونکی باید دتدریس مختلف ډولونه وپیژني. دهغي مثبت او منفي ټکوته توجه وکړي. که څه هم دتدریس میتودونه زیات دي موږ دهغو له ډلې څخه دڅو میتودونو یادونه کوؤ او هغه میتودونه به ترکتنې لاندې ونیسو چې محترم ښوونکی به زیاتره وخت په تدریس کې له هغي څخه کار اخلي:

**1. دخطابي (لکچر) میتود Lecture method**: لکچر په لغت کې خبري کول، کنفرانس ورکولو، واقعیتونه او اساسي مفاهیم دزده کوونکو لږ شانته لوي ګروپ ته ښيء.

دلکچر میتود یو پخواني میتود دي چې تقریباً 2000 کاله دمخه په په یونان او روم کې رواج درلود. دلکچر میتود دعادي خبرې کولویا کنفرانس ورکولو څخه فرق لري. په عادی ویلو کې دیو شي قضیه یا ادعا بیانیږي خو په لکچر کې غوره شرط دهغي توضیح او تشریح ده. په لکچر کې موضوعات دلید، مودل یا نمایش په

(c) ketabton.com: The Digital Library

واسطه توضيح کيږي او په يو شکل سره دزده کوونکو شرکت پکې احتوا کيږي. دکوچنيو زده کوونکو په تدريس کې بايد داوږدو بيانيو څخه ځان وساتل شي. ښوونکی بايد دې ټکي ته متوجه وي چې دلکچر هغه ميتود چې موږ دلته تربحث لادې نيولي دي له هغه لکچر څخه چې دوې په لوړو تحصيلي موسسو کې ليدلي دي، فرق کوي. ښوونکی هغه مطلب چې په ټولګي کې دلکچر دميتود په واسطه توضيح کوي داسې طرح او پلان کړو چې وکولاي شي دزده کوونکو ذوق او علاقه اعظمي حد ته ورسوي. هدف ته درسيدلو مهارتونه تمرين کړي دموضوع دښه يادولو لپاره سوالونه اوصنفي بحثونه ترسره کړي.

دلکچر په ميتود کې مضمون دفعاليت مرکز دي. زده کوونکو ته په تدريس کې کمه برخه ورکول کيږي او تدريس لکه يو طرفه ترافيک پرمخ ځي. دا ميتود ښيګڼې او نيمګړتياوې لري چې دلته يې يادونه کوو.

**ښيګڼې:**

- ښوونکی کولاي شي په کوم وخت کې زيات مطالب زده کوونکو ته تدريس کړي.
- څرنګه چې دلکچر دميتود غوره خاصيت توضيح او تشريح ده ددې روش څخه په ګټه اخستنه ښوونکی کولاي شي زيات عملي موضوعات، مغلق مفاهيم او ژورې ښوونيزې مفکورې توضيح او تشريح کړي.
- ښوونکی په دې روش کې زيات آفاقي او عمومي معلومات وړاندې کولاي شي.
- په عملي، مسلکي او صنفونو، کنفرانسونوکې له دې روش څخه کار اخستل کيږي.
- ددې ميتود ګټه داده چې دزده کوونکو ذهن دهغه موضوعاتو لپاره اماده کوي چې لوړو تحصيلي موسسو کې په کاريږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- دهردرس دلنډيز په وړاندې کولو کې ورځخه ګټه اخستل کيږي.
- په دې روش کې کيداي شي چې يو ښوونکی څو صنفونو ته تدريس وکړي.

**نيګړتياوې:**

- په دي ميتودکې دپوهې او معلومات انتقال زيات دي خوزده کوونکي يې په کمه پيمانه اخلي.
- په لکچر ميتود کې ښوونکې دتدريس مرکز او مضمون تدريس محوردي او زده کوونکي يوازي درس اوري او برخه پکې نه اخلي.
- په دې روش کې فعاليت يو طرفه وي نو ښوونکی هغه شي چې تدريس کوي ارزيابي کولاي نشي.
- داميتود تقريباً ديکا توري ډوله دي او ښوونکی خپل نظر په زده کوونکو تحميلوي.
- په دي ميتود کې ښوونکی دزده کوونکو سويې سره برابر تدريس نشي کولاي.
- په دي ميتود کې ښوونکی نشي کولاي ددرس په پاې کې دزده کوونکو توجه جلب کړي.
- په دي ميتود کې زده کوونکي ژر ستړي کيږي او دموضوعاتوپه زده کړه کې دستونزو سره مخامخ کيږي.

**يادونه:** ښوونکی کولاي شي دمهمو نقطو دوضاحت، يادداشت اخستلو موادو اماده کولو، صنفي مباحثونه دوخت ورکولو، دلکچر نوټ په ورکولو سره دا ميتود زده کوونکو ته ګټور وګرځوي.

يو بل ډول ميتود چې دشفاهي ميتود په نامه يادېږي دزده کوونکو دزده کړې په بهير کې زيات اهميت لري. څرنګه چې په پرمخ تللو هيوادوکې دښوونې او

(c) ketabton.com: The Digital Library

روزنې په اړه درسي عصري وسایل زیات دي دعملي او تجربي میتودونو څخه کار اخلي خو وروسته پاتې یالږ پرمخ تللي هیوادونو کې درسي وسایل کم دي دوې په تدریس کې په تیره بیا دلومړنیو ښوونځیو په تدریس کې دشفاهي میتود څخه زیات کار اخلي دامیتود په خپل وار سره په څو ډولونو ویشل کیږي چې په لاندې ډول یې توضیح کوؤ.

## ۲. دکتاب لوستلو میتود Book reading method

دامیتود یو قدیمي میتود دي چې اوس هم زیات شمیر ښوونکی ورڅخه کار اخلي. څرګنده ده چې کتاب په تدریس کې اصل دي او مواد فرعي شیان دي چې دکتاب دمتن په تدریس کې مرسته کوي. خو زیات شمیر ښوونکی په ډیره زړه طریقه د کتاب لوستلو دمیتود څخه ګټه اخلي. داډول ښوونکی ځان نه په تکلیف کوي چې نورمواد برابر کړي یاددرس لپاره تیاري ونیسي ټوله تکیه یې په قرائت کولو وي چې زده کوونکي یې تکرار تکرار لولي او حافظې ته یې سپاري. دطوط په شان زده کړه کوي. متن په لوړ آواز یا پټه خوله لولي. دلوستلو شویو مطالبو څخه په تحریري یا تقریري توګه ازموینه اخلي. په دي حالت کې ښوونکی فکر کوي چې زده کړې ښه صورت نیولي دي. زده کوونکي الفاظ تکراولي شي، په داسي حال کې چې زده کوونکي دکلمو په معني نه پوهیږي، دکلمو ترمنځ اړیکې نشي ټینګولي، پرمفاهیمو بحث نشي کولاي او ګټه ورڅخه نشي اخستلاي او زده کوونکي ورسره علاقه نه ښئ. زده کړه په اساسي توګه نه کیږي، ښوونکی له ابتکار څخه ډډه کوي او په دي ډول ښوونکی په تدریس کې لږ فعال وي، همدارنګه زده کوونکي هم غیر فعال وي. ددې میتود څخه ښوونکی په ډیره خرابه طریقه استفاده کوي. دبیلګې په توګه کله چې ښوونکی ټولګي ته ننوزي زده کوونکو ته وایي چې کتابونه راوباسئ زه نوي لوست لولم او تاسو یې راسره تکراوي. داعملیه دوه درې واري تکراوي بیا ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې تاسې کتاب لوستل په نوبت سره پیل کړئ. په دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډول تریو ځایه نوبت رسیږي او درسي ساعت ختم شي نویو شمیر زده کوونکي له تکراولو څخه پاتې شي. نورې ورځې هم په دې ډول ادامه ورکوي او په نتیجه کې یو زیات شمیر زده کوونکي له ښوونځي څخه زړه توري کیږي او حتا دښوونځي پریښودلو ته مجبوریږي ځکه چې ښوونځي نور دده لپاره د زده کړې ځاي ندي ډیره ستړیا ورته ییښوي او ښوونځي ورته دزندان په شکل تماميږي. ددې میتود څخه دښې ګټې اخستلو لپاره دالاندې ټکي باید په پام کې ونیول شي:

1. ټول متن په یو زده کوونکي ونه لوستل شي بلکه دمتن لږه لږه برخه په یویو زده کوونکي ولوستل شي تر څو ټول ورڅخه ګټه واخلي.
2. دموضوع په اړه سربیره په کتاب لوستلو له نورو درسي موادو څخه استفاده وشي.
3. دزده کړې لپاره دتورې تختې څخه کار واخستل شي.
4. دزده کوونکو ترمنځ مباحثې ته زمینه مساعده شي.
5. پوښتنو ته زمینه برابره او ددرس دښه والي لپاره نورې لارې چارې وسنجول شي.

## 3. دسوال او ځواب میتود Question and answer method

دسوال او ځواب په میتود کې ښوونکی او زده کوونکي دپوښتنو په واسطه دښوونې او روزنې هدفونه لاس ته راوړي. په دې میتود کې زده کوونکي فکر کولو ته مجبوریږي او دموضوع په اړه استدلال کوي. برسیره پردې چې زده کوونکي دپوښتنو تحلیل ته او هم په تدریس کې فعاله برخې اخستو ته هم مجبوریږي.

له دې څخه څرګندیږي چې دپوښتنو او ځوابونو میتود ددرسي مطالبو د زده کړې لپاره یو ګټور میتود دې دښوونې او روزنې دپوهانو تجربو له مخې دانتیجه لاس ته راځي چې په دې میتود کې په سلو کې نوي (90%) زده کړه ترسره کیږي. په دې میتود کې ددرس موضوع په کوچنیو برخو ویشي او دهرې برخې په هکله

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنې اماده او له زده کوونکو څخه پوښتل کیږي چې حتا په دې میتود کې چَپ او کمزوري زده کوونکي هم برخې اخستوته تشویق کیږي او په نتیجه کې ټول زده کوونکي فعاله ساتل کیږي او هر یو مجبور دي چې ددرس موضوع ته په غور سره غوږ ونیسي.

**دسوال او ځواب دپوښتنو ډولونه:**

**الف: معلوماتي سوالونه:** په دې ډول سوالونو کې دحقیقت دلاس ته راوړلو لپاره داسې سوالونه مطرح کوي چې یو ځواب ولري او ډیر ژر ځواب ورکړ شي لکه:

- بې (ب) څنگه آواز لري؟
- یوه شپه او ورځ څو ساعته ده؟
- آیا دکومک دکلمې مترادفه کلمه مرسته ده؟
- ددایرې دمحیط فورمول څه شي دي؟
- دخوشحال خان خټک زیارت په کوم ځاي کې دي؟
- الفت صاحب دپښتو او که ددري ژبې ادیب او کیلوال دي؟

ددې ډول پوښتنو په واسطه زده کوونکي لوستل شوي شیان ذهن ته راوړي په متقله توگه فکر کوي چې دزده کوونکو دپوهې او درک لپاره گټور دي.

**ب: پرله پسې سوالونه:** داډول سوالونه داسې سوالونه دي چې دیوې موضوع دوضاحت او ځواب داثبات لپاره ورکول کیږي په هغه صورت کې چې سوال او ځواب صحتح نه وي مطرح شوي. او قدم په قدم زده کوونکي ځواب نږدې کوي دمثال په توگه:

- بې (ب) څنگه آواز لري؟ ... آیا درست دي؟
- بې پرتخته ولیکئ؟ ... آیا صحیح دي؟
- اتحاد او اتفاق ښه کار دي؟ ... ولې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

- تاسو کولای شي چې دا جمله .... په بل عبارت بيان کړئ؟ (تفسير)
- په دي هکله تاسو څه ويلي شئ؟ (وسعت)
- احمده تاسو په دي هکله څه ويلي شئ؟
- غير لفظي حرکات لکه دسراشاره، موسکيدل، لفظي لنډ حرکات لکه هو، آه، پوه شوم، هوهو هم زده کوونکي تشويقوي ترڅو يو څه ووايي او يا دځوابونو په هکله فکر وکړي.

**ج: تحليلي سوالونه:** دا ډول سوالونه زيات، مجرد او تصوري فکر کولوته ضرورت لري، زده کوونکي فکر کولو ته مجبوروي دمعلوماتي سوالونو په شان ژر ځواب نشي ورکولاي. داډول سوالونه دتحليل ، تجزيي، ارزيابي، دمسألو دحل او په پاي کې دنتيجو دلاس ته راوړولو لپاره استعماليږي نوځکه تحليلي سوالونه دڅه، ولي او څنګه الفاظو په واسطه بايد وپوښتل شي. لکه:

- څو کلمي ذکر کړئ چې دبې په توري پيل شي؟
- که $2x + y = 5$ او $y = 3$ وي نو $x = ?$ کيږي.
- آسمان ولي آبي دي؟
- ولي ځينې حشرات دصحت لپاره مضر او ځينې ګټور دي؟
- په دي سفر کې موږ څه شي خوښيږي او ولې؟ (ارزيابي).
- څه دليل لري چې ځمکه کروي ده؟ (استقرايي توضيح).
- ددي هندسي شکل مساحت څنګه پيدا کوئ؟ (دپرابلم حل).
- دبالون دپړسيدو سبب څه شي دي؟ (علت او معلول).

**د: متباعد سوالونه:** په دي ډول سوالونو کې دزده کوونکو څخه غوښتل کيږي چې نظر ورکړي، قضاوت وکړي. په بل عبارت داسې سوالونه دي چې دفرد په تفکر او

(c) ketabton.com: The Digital Library

عقيدې پورې اړه لري. دهغې غلط والي او صحيح والي داشخاصو نظر او تفكر ته فرق كوي لكه:

- دهغه ميووڅخه چې نوم يې په الف (انار، انګور، انځير) پيل كيږي ستاسو خوښيږي؟
- ستاسو په نظرپه نړۍ كې كوم شكل ډير اهم دي؟
- ستاسو په نظر ددې شعر ويونكي څه حس كوي؟
- كوم ليكوال مو خوښيږي.
- د ... په هكله ستاسو عكس العمل څه دي؟
- بې له ونو څخه به ځمكه څنګه ښكاره كيدله؟

**۴. دمباحثې ميتود Dialogue method**: مباحثه دمكالمې يا صحبت كولو يوه بڼه ده او په عين وخت كې دافكارو تبادله ده چې داستدلال په واسطه صورت مومي دا ميتود دشفاهي ميتود په ډله كې شميرل كيږي. دمباحثې په وخت كې نظر يې او مسألې تر بحث لاندې نيول كيږي. دبحث لاندې عنوانونه او موضوعات دښوونكې يا زده كوونكي په واسطه ټاكل كيږي او په زړه پورې درسي فعاليتونو، فلم، سلايد، نمايش ښودل، كم پيدا شيان او داسې نور شيان په ټولګي كې تربحث لاندې نيسي. په مباحثه كې تجزيه، تحليل، تفصيل او مطلب خلاصه مهمې مرحلې ګڼل كيږي. زده كوونكي بايد دموضوع نزاكت مراعات كړي. ددوستۍ په فضا كې خبرې او صحيح فكر وكړي. محدود زده كوونكي بايد مباحثه په انحصار كې ونه نيسي. ټول زده كوونكي پكې بايد سهم واخلي. په دې ميتود كې دښوونكې رول داهميت وړ دي ځكه كه ښوونكې خپلې دندې ته توجه ونكړي، كيداي شي زده كوونكي له موضوع څخه بلې خواته ولاړ شي بايد په مباحثه كې هدف دانه وي چې دوه ډلې زده كوونكي دصحيحو او غلطو مباحثو په واسطه يو بل مغلوب كړي. نوښوونكې ددوې دخبرو بحث ته متوجه وي او هغوي بايد دې ته پرې نږدي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مباحثه بلي خواته ولاړ شي او هڅه وکړي چې ټول زده کوونکي پکې برخه واخلي او هغوي دفعاليت مرکز وي.

**ددې میتود ښیګڼې:**

- زده کوونکي څیړنو او پلټنو ته هڅوي.
- زده کوونکي دبحث دموادو زیاته برخه په خپله برابروي.
- ښوونکی دزده کوونکو په ګډون دمباحثې پلان جوړوي.
- ښوونکی دزده کوونکو دپوښتنو او ځوابونو ځانګړې طریقي زده کوي.
- زده کوونکي زده کوي چې خپل نظریات او معلومات په مناسب وخت کې نوروته وړاندې کړي.
- دزده کوونکو دخبرو کولو جرأت زیاتوي.
- زده کوونکي په خبرو کې نوبت اخیستل زده کوي.

**نیمګرتیاوي:**

- ددې میتود کارول زیات وخت نیسي.
- ښایي چې لږ شمیر زده کوونکې پکې برخه واخلي.
- ښایي ځیني وخت ښوونکی دزده کړې ارزیابي ونشي کړاي.
- ښایي زده کوونکي ددرس داصلي موضوع څخه ووځي.
- ښایي لږ شمیر زده کوونکي دخبرو کولو انحصار پلاس کې واخلي.
- ددې میتود ګټې اخستنې غټ خنډ دمناسبو موضوعاتو او مسأئلو ټاکل وي.

**۵. د مسابقې میتود:** په دې میتودکې زده کوونکې یوه درسي موضوع دمثبت رقابت او سیالی په شکل زده کوي. سالم رقابتونه ددرسي موضوعاتو په زده کړه کې مهم رول لوبوي او په هغې کې دزده کوونکو ابتکاري استعدادونه ښکاره کیږي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

زده کوونکو دفعاله کولو لپاره ښه زمينه برابروي. په دې ميتود کې دزده کوونکو زيات تعداد دفعاليت مرکز ګرځي. يو ګروپ غواړي له بل څخه مسابقه وګټي. ددي روش څخه په لومړنۍ او ثانوي دوري کې هم استفاده کيداي شي. دي ميتودته Matching method وايي.

دا مسابقه کيداي شي په يو درسي ساعت، د اونۍ په پاي، دمياشتې په پاي کې، يو ټولګي دبل ټولګي سره، يو ښوونځي دبل ښوونځي سره او دهم سويه زده کوونکو ترمنځ تسره شي. دمثال په توګه په لومړي ټولګي کې دصفر څخه تر 9 عددونو پوري لوستل، ويل او ليکل په پام کې ونيسواو د دوه لومړنيو ټولګيو ترمنځ دا مسابقه ترسره کړو.

<u>دمسابقي کړنلاره:</u> ديو ټولګي زده کوونکي دالف او ب په دوه ګروپونو ويشو، له هر ګروپ څخه دري دري تنه دټولګي په مخکي ودروؤ. هغه کارتونه چې په هغوي کې اعداد ليکل شويدي په دوي باندې ويشو او داسې هدايت ورکوؤ.

د (الف) دګروپ يو زده کوونکي خپل کارت ګوري او د (ب) ګروپ دزده کوونو له ډلي څخه ديو تن نه پوښتنه کوي چې هغه عدد پرتخته وليکي. که صحيح يې وليکه نو 5 نومرې اخلي او که نه نو سوال د (ب) ګروپ ناست زده کوونکو ته حواله کوي چې دهغو څخه يې يو پرتخته وليکي که صحيح يې وليکه نو 3 نومرې اخلي. په همدې ډول دا کار د (ب) ګروپ له ډلي څخه يو تن د (الف) ګروپ څخه پوښتنه کوي او همدغه شان عمليه پرمخ وړي. دا مسابقه په همدې شکل پرمخ وړو. په پاې کې دهر ګروپ نومرې جمع کوو دزياتونومرو ګروپ دمسابقي وړونکي دي.

دمسابقي په ارزيابۍ کې دا ټکي بايد په پام کې ونيول شي:

- ټولګي په دوه ګروپونو داسې وويشل شي چې ددواړو ګروپونو تعداد مساوي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- دهر ګروپ لپاره یوشان سوالونه (ساده، منځني او سخت) او دزده کوونکو سویه هم باید په پام کې ونیول شي.
- دمسابقي په هکله باید زده کوونکو ته واضح هدایات ورکړ شي.
- ښوونکی په نومرو ورکولو کې له عدالت څخه کار واخلي.
- دمسابقي په وخت کې ښوونکی باید دټولګي نظم او دسپلین په پام کې ونیسي.
- دمسابقي په پاي کې باید ښوونکی نتیجه اعلان کړي.

**6. <u>دنقش اجراکولو میتود Role play method</u>**: دا میتود هم دیو ښه او موثر تدریس یوه لاره ده چې په هغې کې زده کوونکي یوه درسي موضوع چې دنمایش وړ وي دیوې حقیقي صحنې په شکل تمثیلوي. په دې روش کې دسترتیا احساس له منځه ځي او زده کوونکي په مینې او علاقې سره درس تعقیبوي. د مثال په توګه دڅلورم ټولګي دپښتو په کتاب کې دروغتیا په هکله داسې یوه قصه لیکل شویده چې کیداي شي څو تنه زده کوونکي وټاکل شي. دښوونکی، داکتر، خالد، اکرم، اجمل رول ولوبوي او دا موضوع دیوې تمثیلي پارچې په شکل تدریس کړي. خود نقش اجراکولو په وخت کې دا ټکي په پام کې ونیول شي.

- هغه وخت له دې روش څخه کار واخستل شي چې دمنطقي درسم اورواج، عنعنې سره تضادونه ولري.
- مواد او لوازم باید دمخه اماده شوي وي.
- دنقش اجراکولو لپاره هغه زده کوونکي وټاکل شي چې نقش اجرا کړي شي.
- ښوونکی باید ډاډه وي چې کوم زده کوونکي کوم نقش اجرا کوي.
- دنقش اجراکول، دټولګي په یو مناسب ځاي کې ترسره شي چې ټول زده کوونکي یې مشاهده کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ښوونکی باید زده کوونکي کنترول کړي.
- دنقش اجرا کول په همغه درسي ساعت کې یا دمخه اماده کیداي شي.
- ښوونکی باید دتمثیل په وخت کې دزده کوونکو کمزوري ټکي یادداشت او وروسته یې ورپه ګوته کړي.

**7. دعلمي کتنې (سیرعلمي) میتود Field trip method**: علمي کتنه دهغه مشاهدو او معلوماتونو څخه عبارت دي چې زده کوونکي یې عملاً ددرس موضوع په اړه دټولګي څخه بهر ترلاسه کوي. په حقیقت کې ویل شوي موضوعات راژوندي کوي او هغه با معنا کوي. علمي کتنه باید داسې پلان شي چې دزده کوونکو شوق، ذوق او علاقه تحریک او تشویق کړي مثلاً که دساینس په مضمون کې ددرس موضوعات دنبات جوړښت دمخه تدریس شوي وي نو کله چې زده کوونکي علمي کتني ته وړي باید دنبات مختلفي برخې وروښودل شي او بیا په صنف کې وربانديې بحث وشي. دعلمي کتنې په وخت کې داټکې په پام کې ونیول شي چې زده کوونکي کوم ډول دمشاهدي میتود په کار وړي اودکار څرنګوالي څه ډول دي.

- باید پوه شو چې څومره وخت لرو او دفعالیت داجرا کولو لپاره هغه وخت په مناسبه توګه وویشو.
- باید پوه شو چې دکومې موضوع په هکله علمي کتنه لرو او چیرته ځو.
- مالي قدرت او توان هم په پام کې ونیول شي.
- زده کوونکي باید کنترول شي او هغوې په کروپونو وویشل شي، هرګروپ ته سرګروپ وټاکل شي.
- ښوونکي باید ټول ګروپونه او سرګروپونه دمشاهدې په وخت کې نظارت کړي.
- دمشاهدې په وخت کې ښوونکي دزده کوونکو سوالونو ته ځواب ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**8. ګروپي میتود: Group woric method**: ګروپي میتود داسې یو میتود دي چې زده کوونکي زیات کار کولو ته هڅوي. مشق او تمرین پکې زیات کیږي. په دې میتود کې ښوونکي دمذاکرې، مناقشې، ارزیابې او نورو مقصدونو لپاره زده کوونکي په کوچنیو ګروپونو ویشي. په ګروپي میتود کې زده کوونکي چې ډیر ویني، غوږونیسي، ولولي، فکر وکړي، ولیکي او خوشحالیږي چې دملګرو په منځ کې خپل نظر وړاندې کړي په تیره بیا چې نورېې نظر واوري او غوږ ورته ونیسي.

په دي میتود کې ښوونکي دلارښود رول اجرا کوي او دزده کوونکو له کار څخه په ګروپونو کې نظارت کوي دزده کوونکو ستونزې حل کوي. په ګروپي میتود کې دڅښې په زده کړه کې هدف یوشي، دریاضي او سپورت په زده کړه کې بل شي وي نو ګروپونه دښوونکي دپلان تعلیمي او تربیوي هدفونو له مخې ټاکل کیږي. کله چې ګروپي میتود عملي کوي نود امکان په صورت کې دګروپ غړي په دایروي شکل یو بل ته مخامخ کښینوي او یا لږ تر لږه یو بل ته مخامخ کیني تر څو ددې کار او فعالیت ویني.

په دي میتود کې زده کوونکي دفعالیت مرکز دي. دښوونې او روزنې پوهانو تجربه کړیده چې ګروپي زده کړه نظر ځانګړې زده کړې ته ډیره موثره ده ځکه چې زده کوونکي په ګروپي میتود کې موضوع ژر اخلي. له دې میتود څخه زیاتره وختونه دمباحثې، مناقشې، مذاکرې، علمي کتنې، پروژې، سوال او ځواب او نورو میتودونو کې کار اخلي. او دهمدي میتودونو زده کړې اغیزمنتوب زیاتوي. په ګروپي میتود کې باید داټکي په پام کې ونیول شي.

- ښه به وي چې په ګروپونوکې دزده کوونکو تعداد له 3 څخه تر 6 تنو پورې وي ترڅو دافکار دتبادلې لپاره ښه فرصت وي.
- کله چې ګروپونه جوړ شي باید فوراً نامګزاري شي او سرګروپ ورته وټاکل شي.
- دګروپي کار دضرورت وړ مواد باید دمخه اماده شوي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- دګروپي کار په لارښوونه کې موضوع، هدف او دکار طريقه ښه واضح شي.
- زده کوونکي دګروپي کار په وخت کې په دايروي توګه يا مخامخ کښينول شي.
- دګروپونو ترمنځ مناسبه فاصله وټاکل شي ترڅو ښوونکي ددوي ترمنځ دستونزو دحل لپاره قدم ووهي او دهغوي نظارت وکړي او دبلي خوا دګروپونو دغړو ترمنځ خبري دنورو ګروپونو مزاحمت ونکړي.
- دګروپي کار موضوع بايد دزده کوونکو دسويې مطابق وي.
- ښوونکي دنظارت او کنترول برسره دګروپونو دښه همکار رول ولوبوي.
- دګروپي کار غړي بايد وپوهول شي چې دوي يوشان مسئوليت لري ترڅو دګروپي کار په کولو کې فعاله برخه واخلي.
- دګروپي کار وخت معين وي او زده کوونکو ته ابلاغ شي.
- دلومړۍ دورې زده کوونکي بايد په ګروپي کار کې ښه رهنمايي شي ترڅو په راتلونکي کې عادت شي.
- کله کله کيداي شي چې دګروپي کار نتيجې دمسابقې په شکل بررسي او ابلاغ شي.
- دوهم ځل لپاره دګروپي کار غړي يو بل سره تبديل شي.
- دګروپي کار ميتود هغه وخت مئوثر دي چې دګروپ دغړو ترمنځ همکاري موجوده وي.

**۹. دمناقشې ميتود Discussion method**: دښوونې او روزنې اساسات په دي تاکيدد کوي چې زده کوونکي دفعاليت مرکز وي ددې خبرې نه هدف دادي چې زده کوونکو ته اجازه ورکړ شي چې دزده کړې په بهير کې فعاله برخه واخلي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ګروپي ډول مذاکره او مناقشه وکړي باید مناقشه داسې کنترول او تعقیب شي چې په منازعه بدله شي.

دمناقشې څخه هدف یوازې خبرې کول ندي بلکه دواقعیتونو ښکاره کول او قضاوت کول دي داسې چې دګروپ ټول غړي خپل منځ کې دافکارو تبادله وکړي. کله چې ټولګي په ګروپونو وویشل شي یو زده کوونکي دلارښود په ډول تعینوي اود مناقشې په هکله هغوي ته داسې لارښونه وشي چې خپل افکار په آزادانه او توګه یو دبل سره تبادله وکړي.

## دمناقشې دمیتود ښیګڼې:

- دزده کوونکو دپوهې سطح معلوموي.
- زده کوونکي په فعاله توګه درس کې برخه اخلي یعنې زده کوونکي دفعالیت مرکز وي.
- مناقشه دتیرو تجربو دښکاره کیدو سبب ګرځي.
- دزده کوونکو دافهام او تفهیم مهارتونو دپراختیا سبب ګرځي.
- دزده کوونکو دتوجه دجلبولو سبب ګرځي.
- زده کوونکي عملاً درس زده کوي.
- ددرس موضوع په ښه ډول پراختیا مومي.

## دمناقشې دمیتود نیمګړتیاوي:

- ددې میتود تطبیقول ډیر وخت غواړي.
- امکان لري چې ځینې زده کوونکي پکې فعاله برخه وانخلي.
- کیداي شي دمناقشې په وخت کې ځیني زده کوونکي له موضوع څخه ووځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- که ښوونکي مسلکي او باتجربه نه وي کيداي شي پلان شوي پروګرام ترسره نشي.
- دمطلبونو ارتباط اوجمع کول او بيا دهغي لنډيز مشکل دي.
- کيداي شي پوښتني په ښه او مناسبه طريقه مطرح نشي.

ددې لپاره چې دمناقشې ميتود په ښه توګه تطبيق کړاي شو ديو منظم درسي پلان موجوديت، دښوونکي امادګي، دټولګي نظم او ترتيب، دموضوع معرفي، دهغي دمقاصدو تحليل او تجزيه ضروري ده. د ګروپ ټولو غړو ته مناسبه برخه ورکول او دفردي اختلافاتو موضوع او دزده کوونکو دزده کړې سرعت هم بايد په پام کې ونيول شي. هغه زده کوونکي چې ډيرې خبري کوي، کنترول او دهغي پرځاي چُپ او غلي زده کوونکي خبري کولو ته تشويق شي. او هم هغه څوک چې دمناقشې لارښوونه کوي بايد کمې خبرې وکړي او ډير واوري. دمناقشې په پاې کې موضوعات لنډ او نتيجه ګيري يې بايد وشي.

**۱۰. دپروژې ميتود Project method**: دا ميتود دجسمي، اجتماعي او ذهني فعاليتونو لپاره يو ښه ميتود دي. په دي ميتود کې زده کوونکي دفعاليت مرکز وي. دښوونې او روزنې پوهان دزده کوونکو داساسي او لومړنيو زده کړو په پاې کې امريکايي عالم جان ديوې په (1952−1952) کال کې وويل چې فردي فعاليتونه مهم نه دي.

ددې عالم مناقشه داوه چې ماشومان دې ژوند ته اماده شي او داهغه وخت امکان لري چې هغوي دژوندانه په کارونو کې برخه واخلي. دمثال په توګه دکلي او محل دګاونديانو په ژوندانه او نورو کې برخه واخلي ځکه چې ټولنيز کارونه دزده کوونکو له ژوندسره نږدې اړيکي لري او دهغوي دروزنې سبب ګرځي نو لازمه ده چې ښوونکي دزده کوونکو سره دپروژې په ډول هم کار وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسلام مقدس دين 1400 کاله دمخه بشر ته لارښوونه کړيده چې ماشومان دژوندانه په کار کې شريک کړي چې له محيط څخه زده کړه وکړي ترڅو په راتلونکي کې ژوند ته اماده شي. په دې ډول د ټولنې غړي داسې وروزل شي چې په خپل ماحول کې په خوشحالۍ، روغتيا، سوله، امن او بریالیتوب ژوند وکړي او په څه ډول عاداتو، آدابو، اخلاقو، پوهې، فضايلو او مهارتونو کې سمبال شي چې په کور، کلي او ټولنه کې په بریالیتوب سره ژوند وکړي. دا هغه وخت صورت موندلي شي چې زده کوونکي دژوندانه داصلي پديدو سره په تماس کې وي. دا کار دپورژې دميتود په ذريعه ښه صورت نيولي شي.

دپروژې ميتود په زده کړه کې په فردي او ګروپي ډول تطبئق کيداي شي. ددې ميتود په واسطه دژوندانه حقيقي ستونزي پيژني او دهغو دحل لپاره له ټولنيز کار څخه ګټه اخلي. په دې ميتودکې زده کوونکو ته په ګروپي يا انفرادي ډول يوه پروژه ورکول کيږي. هغوي په دې پروژه باندې په ګډه يا انفرادي توګه کار کوي. دوې کولاي شي دپروژې دترسره کولو په کار کې دښوونکي څخه پوښتنې وکړي ښوونکي بايد هڅه وکړي چې په ګروپي ډول پروژه کې ټول زده کوونکي په مناسبه توګه فعاله برخه واخلي اويو تعداد زده کوونکي مايوس او بي کاره پاتي نشي.ښوونکي بايد زده کوونکي وپوهوي چې څه ډول کارونه سرته ورسوي، دپروژې هدفونه ورته واضح کړي چې مطلوبه نتيجه په لاس راوړي. پرته له دې به د زده کوونکو لپاره دتفريح اوساعت تيرۍ معناولري. ددې ميتود يوه ګټه داده چې دزده کوونکو داستدلال قوت زياتيږي ځکه چې هغوي دخپل سرته رسيدلي کار څخه دفاع کوي او دنورو قناعت حاصلوي.

## ۱۱. دعملي کار ميتود Practical work method: دا روش لومړي

ځل جان ديوې په کار يو وړ او ويويل چې يو پروګرام هغه وخت دارزش وړ دي چې عملي جنبه ولري او د انسان په ژوند کې ګټور تمام نشي او هغه خوشحاله وساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

داهم باید په ګوته کړو چې دښوونې او روزنې هدف یوازې دعلم ترویج ندی بلکه واقعي هدف یې هغه دی چې دهغه په ورځني ژوند کې ګټور تمام شي.

جان دیوې په دې عقیده وؤ چې عمومي تعلیمات داجتماعي دردونو دوا دي، نو دښوونځي پروګرام باید داسې جوړ شي چې ښوونځي دیوي ټولنې رول ولري او په ټولنیزو فعالیتونو کې فعاله برخه واخلي. دښوونځي کار باید دمعلوماتو زرق کولو نه وي بلکه دسامان، الاتو جوړول او په مختلفو طریقو سره دهغوي ستعمال په طبعیت کې خپله دنده وبولي. په دې ډول زده کوونکي دفعالیت مرکز ګرځي. دهغوي عضلې، سترګې، غوږونه او احساسات یې په کار وړل کیږي.

دعملي میتود په تدریس کې مشق او تمرین، تجربوي او لابراتواري کارونه شامل دي نو ځکه عملي کارونه دانفرادي او ګروپي کارونو په شکل ترسره کیږي. څرنګه چې دګروپي کار میتود دمخه ذکر شویدي نو دلته به یې دتکرار ضرورت نه وي. خو انفرادي کارونه داسې یو میتود دی چې ددرسي وسیلو او موادو په موجودیت کې زده کوونکي په انفرادي توګه مصروف ساتل کیږي. ترڅو زده کوونکي پکې پخپله فعاله برخه واخلي. په هر صورت دامیتود دوه عمده نیمګړتیاوي لري.

- ډیر وخت ته ضرورت لري.
- دتدریس په دې میتود کې زده کوونکي په کافي اندازه زده کړه نشي ترسره کولاې په داسې حال کې چې دښوونې او روزنې اساساتو توقع وضع شوي وخت وي.

## 12. دمختلفو ټولګیو دتدریس میتود Multigrade teaching method:

زموږ په هیواد افغانستان کې دډیر پخوازمانو څخه راپدې خوا ښوونه اوروزنه د لومړي ټولګي څخه ترلوړو تحصیلاتو پورې په وړیا توګه ترسره کیږي چې دلومړنیو ښوونځیو روزنه نه یوازې چې وړیا ده بلکه اجباري هم ده. خو عصري ښوونه او

(c) ketabton.com: The Digital Library

روزنه ډيره سابقه نلري. عصري ښوونه اوروزنه د امير شيرعلي خان دسلطنت په دوره کې پيل شوې ده او دامير حبيب الله په دوره کې يې پراختيا وموندله چې وروسته يې دامير امان الله خان په دوره کې عامه ښه غوره کړه او دمحمد ظاهر شاه په وخت کې ښوونې او روزنې دټولنې پام ځانته راواړاوه ځکه چې دزده کړې ارزښت ورځ په ورځ زياتيده. دبلي خوا څرنګه چې افغانستان دملګرو ملتونو غړي دي نو په ټولو بين المللي چارو کې دهغوي مشورې او وړانديزونه بايد عملي کړي. په دې اساس دکليوالي ښوونځي په نوم له لومړي ټولګي څخه تر دريم ټولګي پورې پرانستل شو. همدارنګه دکوچنيانو لپاره يې ګرځنده ښوونځي جوړ کړل چې دا هم دکليوالي ښوونځيو په ډول وؤ. کليوالي او ګرځنده ښوونځيو دواړه به يو ښوونکي درلود او درې واړه ټولګي به ديو ښوونکي له خوا په ويو وخت کې تدريس کيدل. خو ددي ورستيو کلونو جنګونو دهيواد په ښوونکو کې زيات کموالي رامنځ ته کړ او هيواد دډيرو ستونزو سره مخامخ دي. څرنګه چې ددي کمبوديو پوره کول ډير ګران دي نو لازم دي چې دمختلفو ټولګيو دتدريس تګ لاره او ميتودونه وڅيړل شي او داسي نصاب دښوونې او روزنې په سيستم کې په کار واچول شي چې دښوونکو، زده کوونکو اړتياوې پکې په پام کي ونيول شي. چې دنيکمرغه همدا اوس دښوونکو دروزنې دنوي تعليمي نصاب کې همدغه ټکي ته توجه شويده.

**<u>13. تجربي يا نمايشي ميتود Demonstration method</u>:** تجربي ميتود هغه ميتود دي چې دهغي دتظبيق په بهير کې وسيلې او مواد استعماليږي ترڅو يوه خاصه موضوع عملاً تجربه او نتيجه يې په لاس راشي او زده کړه سرته ورسيږي. دا لاندي هدفونه په پام کې بايد ونيول شي:

- دکومې موضوع حقيقت چې په نظري توګه درک کيداي نشي ښايي دغه ستونزه دتجربې په واسطه حل شي.
- دتجربې په واسطه دشيانو فزيکي او کيمياوي خواص پيژندل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- دتجربي په واسطه ژوره پوهه حاصليږي اوله ذهن څخه ژر نه وځي.
- دزده کوونکو حرکي حس وده او انکشاف کوي.
- زده کوونکي دلابراتوار دکار سيستم سره آشنا کيږي.
- دتجربي په واسطه دشيانو ګټور او غير ګټور اړخونه پيژندل کيږي.

په ښوونه او روزنه کې هغه موضوعات چې په شفاهي او نظري توګه تدريس شي ښه نه زده کيږي او هدف نه ترلاسه کيږي. خوکه دځينو خاصو وسيلو او موادو څخه ددغه موضوع ګانو په اړوند کار واخستل شي هم به زده کړه ښه ترسره شي او هم به ژر هدف ته ورسيږو.

داسې فکر ونشي چې دا تجربې يوازې په لابراتوار کې امکان لري بلکه په آسانۍ سره هم ترسره کيداي شي دمثال په توګه دشيانو دانقباض او انبساط موضوع، هوا وزن لري ديوي ساده پوګنيو په واسطه زده کوونکو تجربه کولاي شي پوکنۍ راواخلي دنري لرګي په دوه څنډو کې دتار په واسطه ونښلوي چې له هغي څخه تله جوړه شي. بيا دواړه پوکنۍ وپړسوئ او خولې يې وتړئ. نو کله چې تله جګه کړي ليدل کيږي چې دواړه پوکنۍ يوشان وزن لري. بيا يوه پوکني دستنې يا اغزي په واسطه سورۍ کړي چې لږه هوا ورڅخه ووځي. ګوري چې دتلې دا خوا سپکه او بله خواپې درنيږي. په دي توګه ثابتيږي چې هوا وزن لري.

دا ميتود دزده کړې يوه ښه طريقه ده ځکه چې ټول زده کوونکي پکې ونډه اخلي او دعملي سيستم ښه غوره کوي.

O. **دکوچني درس ميتود Micro teaching method**: په 1963م کال کې دمتحده ايالاتو په سټنفورډ پوهنتون کې د مايکرو ټيچينګ مفکوره منځ ته راغله. دتدريس دا ميتود ديو ګروپ څيړونکو له خوا چې Allex, Dwinght, Rayan, Kevin نوميدل، رامنځ ته شوه. کوچني درس هغه درس ته وايي چې دتدريس په وخت کې د زده کوونکو شمير راکم شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او دتدريس په ځانګړو سلوکونو باندې متمرکز شي او تدريس آموز په کنترول شوي شرايطو کې تدريس آموزي ترسره شي په لنډه توه کوچني درس دتدريس هغه ميتود دي چې دهغې له مخې دتدريس دټولو اړخونو اندازه راکميږي نو ځکه ورته کوچني تدريس وايي.

په کوچني تدريس کې دزده کوونکو شمير د5 څخه تر 10 پورې وي او تدريس آموز خپل درس له 5 دقيقو څخه تر 10 دقيقو پورې په ګروپ کې وړاندي کوي. که دګروپ شمير له 3 څخه تر 4 پورې وي نو په دې صورت کې دټول ګروپ تدريس دتمرين لپاره له 20 څخه تر 25 دقيقو پورې وخت نيسي چې مجموعاً تر 30 دقيقو پورې وخت ته رسيږي.

په کوچني تدريس کې فيډبيک دويدويي کمرې په واسطه ترسره کيږي خو په هغه هيوادونو کې چې دا شرايط نه وي دنظارت کوونکو په واسطه دا دنده پرمخ وړل کيږي. که چيرې کوچني درس په ويديو کې تايپ شي ويديو دتجربې په توګه کارول کيږي. تدريس آموز خپل درس په تلويزيون کې ګوري، درس بيا تکراروي ترڅو ښودل شوي مهارتونه تمرين او تکرار شي. دکوچني درس لپاره ځانګړې مهارتونه موجود دي چې دهغې په رڼا کې مدرس خپل درس تر سره کوي.

**دکوچنې درس مهارتونه:**

- ازمايښتي پوښتنې کول.
- يومشوق څخه کار اخستل.
- تقويه کول.
- غير لفظي اشارې په کار اچول.
- موضوع بايد دمثال په واسطه روښانه شي.
- دګډون کوونکو تشويقول.
- ددرس دموضوع په هکله توضيحات ورکول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- له تورې تختې څخه کار اخستل.
- نتيجه ګيري کول.
- تدريس پاي ته رسول.

## 15. استقرايي او قياسي ميتود Deductive and inductive method

استقرايي ميتود او همدارنګه قياسي ميتود دوه عملي ميتودونه دي چې دپخوا راهيسې په طبيعي علومو کې پوهانو له خوا استعماليږي او اوس هم ورڅنې کار اخلي. قياسي ميتود ددې لپاره په کار اچول کيږي چې دپديدو په هکله عمومي يا کلي قوانين ترلاسه کوي. دا ميتود لږ څه پيچلي دي ځکه چې دا دلوړې سويې او څيړونکو دنده ده چې مسألې تحقيق او تجربه کړي. او په همغه موضوع کې يو کلي قانون ترلاسه کړي ددې ميتود پيروان په دې عقيده دي چې له کل څخه به مسأله پيل او جز ته به هدف تقيبوي خو په استقرايي کې لومړي جزء څيړي او بيا کل دښوونې او روزنې پوهان دغه دواړه ميتودونه دزده کړې په عمليه کې په ډيره ساده او آسانه توګه په کار اچوي خو دلته هم دښوونې او روزنې پوهان په دوه ډوله ويشل کيږي يوه ډله يې وايي چې که تدريس له جزء څخه پيل او کل خواته تدريس تعقيب شي ښه زده کړه ترسره کيږي. ښوونکي او زده کوونکي ژر او آسانه هدف ته رسوي. او بله ډله په دې عقيده ده چې که د تدريس موضوع له کل څخه پيل او جزء خواته تعقيب شي زده کړه ښه صورت نيسي.

په تدريس کې د استقرايي ميتود مثال دادې چې ښوونکي لومړي زده کوونکو ته توري لکه الف، ب، ت، ث، تر پايه پورې درس ورکوي او بيا کلمې او جملې ورته تدريس کوي په دې صورت کې ښوونکي په خپل درس کې دجزء څخه د کُل په لورې تدريس کوي.

خو که ښوونکي زده کوونکو ته توري په کلمه کې درس ورکړي په دې صورت کې ښوونکي له قياسي ميتود څخه کار اخلي دمثال په توګه دجال په کلمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې د (ج) دتوري له نورو درسي کلمو کې دنورو تورو تدریس ګډل کیږي په دې ډول تدریس کې له کل څخه جزء ته تدریس صورت نیسي.

## 16. دتکرار (مشق او تمرین) میتود Repeat and practice method

تکرار په لغت کې بیا کول، دوهم ځل خبري کولو، یو عمل څوځلي ترسره کولول ته وایي او دښوونې او روزنې په اصطلاح کې دښوونکي سره یوځاي یو مطلب دوهم ځل بیانولو او یادا چې بي دمفهوم له درک کولو څخه دښوونکي په پیروي دیوعمل اجرا کولو ته تکرار وایي.

مشق او تمرین په لغت کې په کارکولو، لیکلوکې دورزش او جتېکتیا په معني دي او دښوونې او روزنې په اصطلاح کې له هغه روش څخه عبارت دي چې په هغې کې زده کوونکي دتکرار څخه وروسته یوه موضوع حافظي ته سپاري او بیایې مفهوم تحلیل او تجزیه کوي. په بل عبارت مشق او تمرین له هغه میتود څخه عبارت دي چې کله ښوونکي ددرس موضوع زده کوونکو ته معرفي کوي هغوي ورباندي فکر کوي او بیا دتکرار څخه وروسته یې حافظي ته سپاري. په دې معني چې ښوونکي لومړي یوه موضوع زده کوونکو ته معرفي کوي، زده کوونکي چې هغه ویني فوراً ورباندې فکر کوي او دځواب ورکولو په وخت کې امکان لري چې زده کوونکي ډیرې غلطي ګاني وکړي. دا غلطي هغه وخت اصلاح کیږي چې مشق او تمرین صورت ونیسي یعني په دي میتود کې دا مرحلي په پام کې نیول کیږي:

1. **دفکر کولول مرحله:** لومړۍ مرحله چې دفکر کولو مرحله ده ددرس دموضوع دمعرفي څخه وروسته ورباندې فکر کیږي په دي مرحله کې غلطۍ ډیرې وي او هغه وخت اصلاح کیږي چې مشق او تمرین ترسره شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

2. <u>**د اصلاح کولو مرحله:**</u> په دې مرحله کې دلومړۍ مرحلې غلطي دمشق او تمرين له لارې اصلاح کيږي. د زده کوونکو په ذهن کې دا اطمنان پيدا کيږي چې اوس ددرس پر موضوع پوهيږم.

3. <u>**د په کار وړنې مرحله:**</u> هغه اطمنان چې ددوؤ مخکينو مرحلو څخه ترلاسه کيږي زده کوونکي کولاي شي چې هغه نورو ته اظهار او په کار يوسي. په دې مرحله کې سهوې او خطا نه وي. ديو مثال په ښودلو سره نور مثالونه هم حل کولاي شي.

مشق او تمرين دليکلو په شکل (لغتونه او په رياضي عدونه) ويل (په کراره او يا په لوړ آواز) په انفرادي او ډله ايز شکل اجرا کيدي شي. ددې تطبئق په لومړنۍ دوره کې نظر ثانوي او لوړو تحصيلي موسسو ته زيات مهم دي. څرنګه چې تکرار يو ډول تمرين دي نو بايد د 5 دقيقو څخه زيات نه وي ځکه چې په زده کوونکو کې دستړتيا سبب ګرځي. او ښوونکي دهغي داستعمال په وخت کې بايد داټکي په پام کې ونيسي.

1. ښوونکي بايد زده کوونکو ته هدايت ورکړي چې څنګه مشق اوتمرين وکړي. که ډله ايز کاروي نو ښوونکي هغوې بايد دنظارت لاندې ونيسي. که کوم زده کوونکي کار نکوي بايد دهغه توجه کار کولو ته راواړوي.
2. مشق او تمري په جزي توګه ترسره نشي بلکه دهغوې ذوق او علاقه په پام کې ونيول شي.
3. دا روش زياتره په حفظي مضمونو او ژبه کې په کار وړل کيږي مثلاً ښوونکي درياضي او ساينس په مسألو شايد دتمرين له روش څخه کار واخلي چې زده کوونکي ته ديادولو په برخه کې مرسته وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**17. زده کوونکي ددرسي فعالیت دمرکز په توګه:** دتدریس په میتودونو او تخنیکونو کې چې ښوونکي زیات فعال وي او اکثره درسي فعالیتونه دښوونکي په واسطه ترسره کیږي. زده کوونکي یوازي اوریدونکي، لیدونکي او اخستونکي وي او نور فعالیتونه په کمه اندازه کوي. یعني ښوونکي اکثره وختونه دتدریس په عنعنوي میتودونو لکه کتاب لوستل، حافظې ته سپارل، لکچر، مشق اوتمرین او دعادت په اساس دښوونکي په واسطه ښودل شوې مباحثه باندي تکیه کوي او زیات کار ورڅینې اخلي نوځکه ورته په ښوونکي دتمرکز تدریس میتود وایي. په دي میتود کې زده کوونکي یوازې داخستونکي په توګه رول لوبوي او غیر فعال وي او په زده کړه کې په ټیټه درجه برخه اخلي چې دا په حقیقت کې ددې میتود برملا نیمګړتیا ده. دښوونې او روزنې متخصصین په دې عقده دي چې دزده کړې په عملیه کې هرڅومره چې زده کوونکي زیاته برخه اخلي په همغه اندازه زده کړه ښه ترسره کیږي.

دښوونې او روزنې پوهان دامني چې هر میتود په خپل وار سره او خپل ځاي کې ګټور دي. ښوونکي دخپل مهارت او ابتکار په واسطه کولاي شي چې نور میتودونه دټولګي دتدریس میتودونو (دټولګي دتدرېس میتودونه: په ښوونکي متمرکز میتود او په زده کوونکو کې متمرکز میتودونه څخه عبارت دي) سره یوځاي کړي او دمؤفقیت درجه یې لوړه کړي. نن ورځ دښوونې او روزنې پوهان هڅه کوي چې دماهرواو مسلکي ښوونکو په واسطه دغه میتودونه په هغو میتودونو تبدیل کړي چې زده کوونکي پکې دفعالیت مرکز وي.

18. زده کوونکي ددرسي فعالیت دمرکز په توګه: هغه میتودونه چې زده کوونکي په کې دفعالیت مرکز وي او په عملي او تجربوي ډول زده کړه پکې کوي، ډیر زیات دي. په دي میتودونو کې ښوونکي دیولارښود او همکار په ډول عمل کوي. دپوهې دانتقال کوونکي په توګه برخه نه اخلي. په دې میتودونو کې زده

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوونکي اکثراً دښوونکي په مشوره پخپله دکار پلان جوړوي او په خپله عمل او ابتکار کوي.

ددغه میتودونو په کار اچولو سره دزده کوونکو زیات حواس په کار لویږي او هغه نظریه پیاوړي کوي چې وایي (هرڅومره چې دزده کوونکو زیات حواس په کار واچول شي زده کړه ښه صورت نیسي) رول پلی فکري مشورې ، دواورې غونډاري، دمباحثي کوچنی ګروپونه، پروژه، لوبي او پیښې کول، عملي کار او داسي نور. خو بیا هم دا باید ووایو چې ښوونکي پوه، ماهر او مسلکي نه وي یو ښه مئوثر میتودهم په ښه توګه نشي کارولای. نو ښه خبره داده چې ښوونکي په ښه توګه وروزل شي ترڅو دزده کړې عملیه ګړندۍ شي او ښه زده کړه ترسره شي. که زده کوونکي څه واوري هغه به ورڅخه هیر شي، که څه وګوري هغه به یې یادوي خو کولای به یې نشي او که هرڅه په خپله وکړي هم به په هروخت کې په یادوي اوپه کولو به یې هم قادر وي.په حقیقت کې دښوونې او روزنې اصلي هدف همدا شي دي چې زده شوي شیان وکارولي شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## داوسنۍ او پخواني تدريس ترمنځ توپير

| زده کوونکي دفعاليت مرکزنوی میتود | ښوونکي دفعاليت مرکز پخوانی میتود. |
|---|---|
| 1. زده کوونکي په انفرادي توګه فعال وي او کارکوي، خپل نظريات،احساسات، تجربې، ضرورتونه او دکار ګټې اظهاروي او هغه عملي کوي. | 1. ښوونکي ټول معلومات (پوهه او علم) دځان سره لري او زده کوونکي په يو ډول پوهوي. |
| 2. ښوونکي يوازې دلار ښود حيثيت لري او هدايات ورکوي. ټول کار زده کوونکي کوي. | 2. زده کوونکي په هيڅ نه پوهيږي او زده کړه په غير فعال ډول هغوي ته انتقاليږي. |
| 3. ټول فعاليتونه زده کوونکي ترسره کوي. | 3. يوازې ښوونکي فعال وي او درس ورکوي. |
| 4. دزده کوونکو په دماغ کم فشاروي او دمثالونو په واسطه موضوع درک کوي. | 4. دزده کوونکو په دماغ زيات فشاروي او دموضوع په اړه زيات مثالونه نه ورکول کيږي. |
| 5. دتدريس په نوي ميتود کې موضوع ديو تصوير په شکل روښانه کيږي او وروسته دهغې په هکله مضمون جوړيږي او داکار دزده کوونکو په واسطه صورت مومي، په ميخانيکي ډول نه وي او زده کوونکي پکې پوره برخه اخلي. | 5. په دې ډول تدريس کې مطلب او موضوع په ميخانيکي (يادونې) توګه دښوونکي له خوا دکتاب يا کاغذ له مخې ويل کيږي او ټول زده کوونکي بې کاره ناست وي وروسته يوزده کوونکي لښته پلاس ولاړوي او نور يې تکراروي. |
| 6. ښوونکي منظم درسي پلان لري، ددرس په اړه يې لازم او ضروري مواد | 6. ښوونکي منظم درسي پلان نه لري، ضروري درسي مواد يې نه وي اماده |


(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| دمخه اماده کړي او په خاصه طریقه یې په کاروړي. | کړي،کوم خاص نظم اوترتیب هم موجود نه وي. |
| 7. زده کوونکي دفعالیت مرکز وي او زیات فعالیتونه هغوي ترسره کوي. | 7. ښوونکي دفعالیت مرکز وي او زده کوونکي ته ددرسي فعالیت لپاره کم وخت هم نه ورکول کیږي. |
| 8. په زده کوونکوکې ویره موجوده نه وي درس په میخانیکي توګه نه زده کوي | 8. په زده کوونکو کې ویره موجوده وي او په میخانیکي توګه درس زده کوي. |
| 9. زده کوونکوته دمثالونو سره نوي طریقې ویل کیږي او دوي ته دتجربو انتقال ترسره کیږي. | 9. زده کوونکي له تجربو څخه نه خبریږي. |
| 10. زده کوونکو ته کمه تشریح ورکول کیږي او زیات کار په عملي توګه صورت مومي. | 10. زده کوونکو ته زیاته تشریح ورکول کیږي اوعملي کار کم صورت نیسي. |
| 11. ښوونکي ته دارزش ور داده چې زده کړه څومره ښه ترسره کیږي او زده کوونکوته دښې زده کړې لپاره موقع ورکول کیږي. | 11. که زده کړه ترسره کیږي اوکه نه، ښوونکي ته ارزښت نه لري. ښوونکي درس ورکوي او پرمخ ځي. |
| 12. زده کوونکوته کم موضوعات ویل کیږي هغوي خپله فکر کوي او څه زده کوي. | 12. زده کوونکوته زیات موضوعات ورکول کیږیاو هغوي یې حفظ کوي چې کمزوري زده کوونکي دا کار نشي کولاي. |
| 13. زده کوونکي یوازې نه وي بلکه دیوبل سره مشترک کار کوي. | 13. زده کوونکي آرام ناست وي او داوریدونکي اولیدونکي مثال لري. |

(c) ketabton.com: The Digital Library


په دې ډول ښوونكي بايد خپل درس داسې عيار كړي چې په هغې كې زده كوونكي زياته برخه واخلي او فعاليت وكړي. دتدريس دهغه ميتود څخه كار واخلي چې زده كوونكي ژر هدف ته ورسوي اوزده كوونكي هغه وخت ژر هدف ته رسيږي چې دهغوي ټول حواس فعاله او په كار واچول شي يعني دټولو درسي فعاليتونو رول زده كوونكي اجرا كړي او ښوونكي ديو كنترولر يا لارښود رول ولوبوي.

په لاندي دياګرام كې چې په هغې كې ښوونكي دمركز فعاليت دي او قدم په قدم زده كوونكي دفعاليت مركز ګرځي تاسو ته ښودل كيږي.




په دي ډول په لاندې دياګرام كې دلومړنيوښوونځيو دتدريس مروج، موثر او ساده ميتودونه طبقه بندي شويدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




د تدريس په اصولو کې درسي پلان اساسي جزء دي نو درسي پلان په هکله معلومات ترلاسه کول ضروري کار دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# درسي پلان Lesson plan

ټولو ته څرګنده ده چې الله (ج) له حده زيات نعمتونه بشر ته ورکړيدي څه چې په دنيا کې محسوس کيږي داټول دانسان دژوند لپاره دي چې په سمه لاره کې يې په کار يوسي. انسان ته يې عقل، شعور او پوهه ورکړيده هغه څه چې دته ګټور تماميږي په ښه ډول يې وکاروي. انسان چې کوم کارونه سرته رسوي نو حتماً يو هدف او مقصد لري. ددي لپاره چې هدف ته په برياليتوب سره ورسيږي فکر کوي او لارې چارې لټوي ترڅو ديوي منطقي نقشي او طرحې له مخې خپل کارونه پرمخ يوسي او خواري يې عبث ولاړه نشي. دغه طرح او نقشې ته پلان وايي. په هر کارکې پلان ته اړتياده خو په تدريس کې پلان له بلې هري موضوع څخه زياته ګټه او اهميت لري ځکه ښوونه اوروزنه دټولو پرمختياوو بنسټ ګڼل کيږي.

مخکې له دې چې ددرسي پلان په هکله څه ووايو بايد درسي پروګرام وپيژنو.

درسي پورګرام: درسي پورګرام داسې يوه نقشه ده چې دلوړو مقاماتو له خوا دښوونې او روزنې دمتخصصينو له خوا دنړۍ دپروګرام په رڼا کې تثبيت او د عملي کيدو لپاره خپلو مربوطه ښوونځيو او موسسو ته ليږل کيږي. ښوونځي او موسسي دهغې په رڼاکې خپل مهال ويش جوړوي. ددې درسي پروګرام نمونه په دې ډول ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دمثال په ډول دلومړنيو ښوونځيو درسي پروګرام:**


| ګڼه | ټولګي / مضمونونه | اول | دويم | دريم | څلورم | پنځم | شپږم | ملاحظات |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | قرآنکريم | 4 | 4 | 4 | 4 | 4 | 4 | |
| 2 | اسلامي ثقافت | 4 | 4 | 4 | 4 | 4 | 4 | |
| 3 | پښتو | 6 | 6 | 6 | 6 | 6 | 6 | |
| 4 | رياضي | 6 | 6 | 6 | 6 | 6 | 6 | |
| 5 | تاريخ/اجتماعيات | . | . | . | 3 | 3 | 3 | |
| 6 | جغرافيه | . | . | . | | | | |
| 7 | ساينس | | | | 3 | 3 | 3 | |
| 8 | انګريزي E | | 4 | 4 | 4 | 4 | 4 | |
| 9 | دري | | 3 | 4 | 4 | 4 | 4 | |
| 10 | رسم | 1 | 1 | 1 | 1 | 1 | 1 | |
| 11 | خط | 2 | 1 | . | . | . | . | |
| 12 | سپورت | 1 | 1 | 1 | 1 | 1 | 1 | |
| | مجموعه | 24 | 30 | 30 | 36 | 36 | 36 | |

**<u>پلان plan</u>: پلان يوه فرانسوي کلمه ده چې په لغت کې سنجولو، طرح کولو، نقشه کولو، فکر کولو خيال کولو او تصميم نيولوته وايي او په اصطلاح کې ديوې ذهني پيش بيني شوې نقشې څخه عبارت دي چې ديو کار داجرا کولو لپاره د هغې فعاليتونه تنظيموي. همدارنګه دښوونې او روزنې په ساحه کې دفعاليتونو ډولونه هم ډير زيات دي نو دښوونکي لپاره چې ددې فعاليتونو لارښوددي، لازمه ده چې**

(c) ketabton.com: The Digital Library

دښوونې او روزنې دفعاليتونو دپرمختګ لپاره منظم پلان ولري چې دخپلي وظيفي په سرته رسولو کې ثابت اوسي دبي ثباتۍ او وارخطايي څخه په امن کې پاتې او د خپل تدريس څخه ښه نتيجه ترلاسه کړي. په عمومي توګه درسي پلان دوخت له نظره په درې ډوله دي چې په لاندي دياګرام کې ليدل کيږي.

**دوخت له نظره ددرسي پلان ډولونه:**




اوس دپورتنيو ډولونو څخه هر يو په لاندي توګه تشريح کوؤ.

1. **کلني درسي پلان Annual lesson plan**: دا هغه نقشه ده چې ديو مضمون دپروګرام په ټولو موضوع ګانو پورې داړونده چارو دسرته رسولو لپاره په کار لويږي او ديو تعلمي کال په موده کې دطرح شوو موضوع ګانو، دوخت تنظيم، دکتاب حجم، ساعتونه او نور ضروري اړتياوې پکې په پام کې نيول کيږي. دغه پلان د طويلا المدته درسي پلان په نامه هم يادوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې لپاره چې ښوونکي خپله دنده په ښه توګه سرته ورسوي، زده کوونکي وپوهول شي او ښه زده کړه ترسره شي باید دکال په بهیر کې دهرلوست ځای اووخت ځانته روښانه کړي او دپلان جوړولو په وخت کې دهر لوست په اړوند درسي میتودونه وټاکي، کومکي درسي مواد او نور دضرورت وړشیان اماده کړي، دموضوع ګانو ترمنځ ټینګې اړیکې وساتي، دکال په بهیر کې عمومي رخصتي ګانې، ددرسي ساعتونو شمیر، دټولګي دباندي عملي کتنې، دعملي کارونو ویش او داسې نور دکلیزې له مخې په پام کې ونیسي یعني دا لاندي ټکي دکلني درسي پلان لپاره پام کې نیول کیږي.

- ښوونکي دنوي تعلمي کال مهال ویش له مخې دمضمون درسي ساعتونو شمیر دټاکل شوو ورځو سره په پام کې ونیسي.
- ښوونکي ته باید دکال پیل او پای معلومه وي، تعلیمي میاشتي مشخصې کړي.
- ښوونکي باید څلورنیم میاشتنۍ ازموینې، کلنۍ ازموینې، ددوبي، ژمي، دملي او مذهبي ورځو رخصتي په پام کې ونیسي.
- ښوونکي باید دخپلو درسي ساعتونو شمیر دتعلیمي کال په هره میاشت کې مشخص کړي.
- کیدای شي دځینو عمومي، ملي، مذهبي او دښوونکي ذاتي ضرورت درخصتیو په وجه دتعلیمي کال ددرسي ساعتونو شمیر زیات یا کم شي.
- ښوونکي دکتاب ټول مخونه په درسي ساعتونو ویشي او دهرې میاشتې لپاره دمخونو شمیر په اړوند ستون کې لیکي.
- بیا دهرې میاشتې ددرسي موضوع ګانو په اړوند درسي کومکي مواد او لوازم ولیکي.
- دښې زده کړې لپاره باید دلوستونو په اړوند ځانګړي میتودونه او طریقې په پام کې ونیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ښوونکي کولاي شي درسي کتاب دمخونو، کلمو یا کرښو له مخي وویشي او په ټاکلې اندازه یې په یو درسي ساعت کې تدریس کړي.

**ورځنی درسي پلان:** څرګنده ده چې ښوونکي کلني، میاشتني او اونیز درسي پلانونه جوړ کړي خو یو ساعته درسي پلان ته هم اړتیا لیدل کیږي. دې یو ساعته درسي پلان ته ورځني درسي پلان وایو. دا پلان له ښوونکي سره مرسته کوي چې دزده کوونکو سره دزده کړې په عملیه کې زیاته مرسته وکړي اودزده کړې هدفونه په بریالی توګه ترلاسه کړي.

یو ساعته درسي پلان له یوي منظمې امادګي څخه عبارت دي چې ښوونکي یې دتدریس دمخه ترتیبوي اوپه درسي ساعت کې یې تطبیقوي. په دې پلان کې دښوونکي فعالیتونه او هم دزده کوونکو فعالیتونه په ګوته کیږي او په دي توګه دښوونکي په تدریس کې زیاتې آسانتیاوې رامنځ ته کوي. پخوا دا نظر موجود وو چې ښوونه اوروزنه یوازي درس ورکول وؤ او ښوونځي هغه ځاي بلل کیده چې دادرسونه پکي تدریس کیدل. کله چې ښوونې اوروزنې پرمخ تګ وکړ دغې نظریې ورو ورو تغیر وموند او داسې فکر پیدا شو چې ښوونځي یوازي ددرس ورکولوځاي نه بلکه دفکر کولو، پوهیدلو، پوهولو دځان اونورو په وړاندې دمسئولیت احساسول او داسې نور دزده کړې لپاره زمینه برابروي. دزده کونکو جسمي، روزني، ذهني، ټولنیزو اوداسې نورو بنوته وده ورکوي. دښوونکي له خوا لارښوونه، څارنه، تشویق او تحریک صورت نیسي. ترڅو زده کوونکي په خپله فعالیت سرته ورسوي او په خپل ځان متکي شي او په ځان باور پیدا کړي. نو دهمدې دلایلو پر بناء ښوونکي باید یو ساعته درسي پلان ترتیب او په منظمه توګه یې په ټولګي کې په کارواچوي. مخکي له دې چې د درسي پلان په مختلفو اړخونو بحث وکړو، په کارده چې درسي پلان یو ځل بیا معرفي او بیایې په اهمیت خبرې وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمخه موورويل چې درسي پلان ديوې منظمي ذهني نقشې او تګلارې څخه عبارت دي چې ديو کار دسرته رسولو په اړوند په پام کې نيول شوي وي. په بل عبارت درسي پلان يوه سيستماتيکه طرحه او منظمه لاره ده چې ښوونکي پکې ټول هغه درسي فعاليتونه، چې په يو درسي ساعت کې سرته بايد ورسوي، اټکل کوي او ليکي يې. خو دابايد وويل شي چې درسي پلان دښوونکي يو فردي او مسلکي مهارت دي چې ددي مهارت په درلودلو سره کولاي شي ددرسي پلان څخه دتدريس په عمليه کې ديو مرکزي عنصر په توګه ګټه واخلي.

<u>**ددرسي پلان اهميت:**</u> دښوونې اوروزنې پوهان پلان ته ديو ښه لارښوونکي خطاب کوي ځکه چې کارونه ښه تنظيم او هر کار په خپل وخت داړتياوو سره سم او سرته رسوي او دخپلي دندې دبرياليتوب له کبله مخکې ټول دضرورت وړ مواد او شيان برابروي او دهرې ناڅاپې پيښې رامنځ ته کيدلو اټکل کوي، په لږ وخت کې په آسانۍ او برياليتوب سره هدف لاس ته راوړي.

ددندو ويش پکې موجود وي په دې معنا چې کوم کار بايد ښوونکي وکړي او کوم کار بايد زده کوونکو ته ورکړ شي. په درسي پلان کې دکار دڅارنې او ارزيابۍ لپاره هم وخت په پام کې نيول کيږي. ددرسي پلان ګټې دادي:

- درسي پلان په يقيني ډول دمختلفو درسونو ترمنځ، همدارنګه دمختلفو داسي فعاليتونو سره دموادو اړيکي ټينګوي ترڅو ښوونکي له موضوع څخه بهر نشي او په موضوع حاکم اوسي.
- درسي پلان ښوونکي ته وخت ورکوي چې دفعاليتونو لپاره مناسب ميتودونه وټاکي.
- درسي پلان دوخت له ضايع کيدو څخه مخنيوي کوي.
- درسي پلان له ښوونکي سره مرسته کوي چې درسي فعاليتونه قدم په قدم تعقيب کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- درسي پلان دهري ورځې کار د هدف خواته نږدې کوي او ښوونکي په تدريس کې دتشويش اوانديښنې څخه ساتي.
- درسي پلان دتدريس په وخت کې ددرس دموضوع محتويات او وخت، په انډول کې ساتي.
- درسي پلان ښوونکي ته وخت ورکوي چې هر فعاليت په خپل ځاي او وخت سره سرته ورسوي.
- درسي پلان ښوونکو ته لارښوونه کوي چې دزده کوونکو سويه او علاقه په پام کې ونيسي.

دپورتنيو توضيحاتو څخه څرگنديږي چې درسي پلان دښوونکي لپاره ځومره اهميت لري ځکه بې له دې څخه تدريسي اهدافوته رسيدل گران وي. ښه به داوي چې ددرسي پلان مرحلې وپيژنو.

**ددرسي پلان مرحلې:**

**۱. ددرسي پلان هدف:** په هر کار کې دهدف ټاکل ضروري دي. که هدف معلوم نه وي هيڅوک نه پوهيږي چې څه شي، څرنگه،چيرته او دڅه لپاره وکړي. کله چې هدف معلوم وي نو دغه پوښتنو ته ځواب ورکول کيږي. همدارنگه دهدف دلاس ته راوړلو لپاره لارې چارې په کار دي اوهدف ته درسيدلو لپاره لازم دي ټول امکانات په پلان کې ونيول شي. دلوست دهدفونو په اړه بايد دوه ډوله هدفونه په پام کې ونيول شي يوېې عمومي هدف او بل يې خصوصي هدف دي چې په لاندې ډول وړاندې کيږي.

**الف: عومي هدف:** څرنگه چې هر مضمون دځانگړي مقصد او هدف لپاره تدريس کيږي نو په ساعتونو او درسي پلان کې عمومي هدف دمضمون په اړوند تعينيږي چې له دغه ځانگي څخه زده کوونکي دځان او ټولنې لپاره په راتلونکي ژوند کې گټه واخلي مثلاً که دڅلورم ټولگي دجغرافيه په مضمون کې ابنا او خاکنا تدريس کيږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو ددې درس عمومي هدف دادي چې زده کوونکي دجغرافيه دمضمون په مختلفو موضوعاتو پوه شي اودځان او ټولنې په ګټه ورڅخه کارواخلي.

**ب: خصوصي هدف:** ښوونکي بايد دلوست موضوع په غور سره ولولي او دموضوع دمتن څخه هدفونه وټاکي ترڅو زده کوونکي دغه مطالب له دې درس څخه زده کړي چې همدا خصوصي هدفونه دي مثلاً که دالف (1) توري درس ورکوي او دالف دتوري له تدريس څخه زموږ خصوصي هدف داوي چې زده کوونکي دالف دتوري نوم، غږ او شکل وپيژني اوويويلاي شي او هم يې وليکلاي شي نو دتدريس څخه وروسته ګورو چې هدف ترلاسه شوي او که نه؟

که دجغرافيه په مضمون کې هدف ابنا او خاکنا وي نو ددرس خصوصي هدفونه دادي.

- زده کوونکي دابنا او خاکنا درس دکتاب له مخي ولوستلي شي او هغه بيان او تشريح کړي.
- زده کوونکي په نقشه کې ابنا او خاکنا وښودل شي.
- زده کوونکي داوبو او خاورو څخه ابنا او خاکنا جوړه کړاي شي.
- زده کوونکي دابنا او خاکنا نقشه جوړه کړاي شي
- زده کوونکي دابنا او خاکنا مثالونه ورکړاي شي.

1. **درسي کومکي مواد:** کله چې ښوونکي دموضوع هدفونه وټاکي له دې وروسته ښوونکي هڅه کوي درسي مواد په کار واچوي ترڅو هدف په آسانۍ سره لاس ته راشي. کيداي شي هدفونه دوه، درې يا زيات وي نو ښوونکي بايد دهر هدف لپاره ځانګړي مواد برابر کړي. ددرسي موادو دبرابرولو په وخت کې ښوونکي بايد دموادو دبرابرولو امکانات په پام کې ونيسي. که دځينو موادو دبرابرولو امکانات نه وي په دې صورت کې بايد له مودل، تصوير يا کومې بلې وسيلې څخه کار واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۲. دتدریس دمیتود ټاکل:** کله چې ښوونکي درسي مواد اووسیلي برابري کړي نو دښوونکي بله مهمه دنده د درسي میتود ټاکل دي. ځکه چې میتود دهدف دلاس ته راوړلو او هم درسي موادو د استعمال په اړوند ټاکل کیږي. باید داسې میتود په کارواچول شي چې دهدفونو په لاس ته راوړلو کې کومک وکړي. ښوونکي پورتني موضوعات باید ددرس څخه دمخه سرته ورسوي او بیا ټولګي ته ولاړ شي.

**۳. دتدریس دتطبیق او فعالیتونو مرحلې:** که څه هم دا مرحله دمخه په مشرح توګه ذکر شویده خو موږ یې بیا هم په لنډه توګه یادونه کوؤ.

**الف: هڅونه:** په دي مرحله کې په زده کوونکو سلام اچول، دټولګي تنظیم، دتیرې ورځې دکورني کار لیدل او اصلاح کول، دتیرې ورځې ددرس پوښتنه کول دي. ددي فعالیتونو هدف دادي چې دزده کوونکو ذهن او فکر وهڅوي، ذهنونه ته یې تمرکز وکړي او دزده کړې لپاره یې چمتو کړي.

همدارنګه که ښوونکي وکولاي شي دځینو پوښتنو له لارې په غیر مستقیمه توګه دزده کوونکو په واسطه موضوع ته داخل شي او بیا عنوان پرتخته ولیکي داهم دزده کوونکو په هڅونه او تشویق کې مهم رول لوبوي.

**ب: پرموضوع کار کول:** په دي مرحله کې په متن او موضوع کارکیږي داسې چې په هغي کې دښوونکي او زده کوونکي فعالیتونه جلا او مشخص شوي وي. ددرسي کومکي مواد او ټاکل شوي میتودونو په استفاده تدریس داسې ترسره شي چې زده کوونکي پکې زیاته برخه واخلي.

**ج: مشق او تمرین:** دا مرحله دنوي درس دښه پوهیدلو لپاره ده چې زده کوونکي پکې دموضوع په اړه مشقونه کار کوي. ګروپي کارونه هم په دي مرحله کې ترسره کیږي.

**د: ارزیابي اوکورني کار:** دا مرحله هم په زده کړه کې یوه مهمه مرحله ده چې باید دښوونکي له خوا سرته ورسول شي. دارزیابۍ پوښتنې باید داسې جوړې شي چې نیغ په نیغه دنوي لوست دځانګړي هدفونو سره اړیکې ولري او ښوونکي وکولاي شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ددې پوښتنو له مخې خپل نوي درکړ شوي درس ارزيابي کړي. دنوي درس له ارزيابۍ څخه وروسته ښوونکي ته نتيجه لاس ته راځي چې زده کوونکي يې په کوم ځاي کې دي، ښه پرمختګ يې کړيدي، زده کړې ښه صورت نيولي دي او که نه؟ که ښه پرمختګ شوي نه وي نو دځان څخه پوښتنه وکړي چې ستونزه چيرته ده چې زده کوونکي ندي پوه شوي، بايد دحل لاره يې ولټوي.**

**همدارنګه زده کوونکو ته مناسبه کورنۍ دنده ورکړ شي چې ديوې خوا مشق او تمرين وکړي او دبلې خوا دزده کړې درجه لوړه کړي او هم زده کوونکي دکار کولو سره آشنا او وظيفه شناس شي. داوظيفه دزده کوونکو دسويې سره برابره وي ترڅو هغوي وکولاي شي هغه ترسره کړي.**

**يادونه: دالف، ب، ج، او د په مرحلو کې وخت مراعات کول ډير اهميت لري ښوونکي ته په کار دي چې هغه مراعات کړي. که يو درسي ساعت 40 دقيقي وي نو ددغو څلورو مرحلو وخت به داسي وي.**

**الف: دهڅونې لپاره وخت: 3 نه تر 5 دقيقو پوري.**

**ب: په موضوع کار کولو لپاره وخت: 15 څخه تر 20 دقيقو پوري.**

**ج: دمشق او تمرين لپاره وخت: 10 څخه تر15 دقيقو لوري.**

**د: دارزيابي او کورني کار لپاره وخت 2 نه تر 4 دقيقو پورې.**

**بايدپه ګوته کړو چې دوخت دا اټکل په څلور واړو مرحلو کې يو دبل سره تړلې دي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ددرسي پلان نمونې:** اوس غواړو په ځينو مضمونونوکې دورځني (ساعتوار) درسي پلان نمونې وړاندې کړو لومړي داجتماعياتو مضمون لپاره يو درسي پلان او بيا درياضي لپاره يو درسي پلان وړاندې کوو.

1. مضمون: جغرافيه — ساعت: دريم
ټولگي: 4 — دزده کوونکو شمير: 35 نفره
موضوع: آبنااوخاکنا — وخت: 40 دقيقې.

**هدفونه:**

**عمومي هدف:** دجغرافيي دمضمون هغه موضوعات چې دڅلورم ټولگي لپاره په پام کې نيول شويدي په ښه توگه زده کړي ترڅو دخپل ځان او ټولنې په اړوند دژوند په بيلا بيلو برخو کې ورڅخه گټه واخلي.

**خصوصي هدف:** زده کوونکي به ددې لوست په پاي کې

1. آبنا وپيژني
2. خاکنا وپيژني
3. دآبنا اوخاکنا مفهوم دزده کړې څخه وروسته مثالونه وکړاي شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| ګڼه | قدمونه او وخت یې | دښوونکي فعالیتونه | دزده کوونکو فعالیتونه | درسي میتود | درسي مواد |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | هڅونه وخت: 5 دقیقې | په سلام سره ټولګي ته داخلیدل، دټولګي تنظیم، دغیرحاضرانو زده کوونکو پوښتنه، دتیرې ورځې د کورنۍ کار لیدل او اصلاح کول، دتیر درس ارزیابي، دنوي درس سره دهغې ارتباط او دزده کوونکو له لارې دنوي درس دعنوان پیداکول. | زده کوونکي خپل کورني کارښوونکي ته داصلاح لپاره وړاندې کوي، دتیر درس په هکله د ښوونکي پوښتنو ته ځواب ورکوي. همدارنګه د ښوونکي په مرسته دنوي درس عنوان پیدا کول. | سوال او ځواب، مباحثه | تخته، تباشیر کتابچه، قلم |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| ګڼه | قدمونه او وخت يې | دښوونکي فعاليتونه | دزده کوونکو فعاليتونه | درسي میتود | درسي مواد |
|---|---|---|---|---|---|
| 2 | په متن باندې کارکول. وخت:22 دقيقې | – ښوونکي له زده کوونکو څخه پوښتنه کوي چې زموږ دنني درس عنوان څه شي دي. – ښوونکي نوي عنوان پرتخته ليکي. – ښوونکي وظيفه ورکوي چې ددې عنوان لږه لږه برخه په زده کوونکو ولولي. – ښوونکي چارت ځوړندوي او دشکلونو په هکله پوښتنې کوي. – ښوونکي وايي چې دا څه شي دي؟ – ښوونکي وايي چې دا څه شي دي؟ – ښوونکي وايي چې دې نرۍ اوبو دوه وچې بيلي کړي | – زده کوونکي ځواب وايي چې زموږ دنني درس عنوان آبنا او خاکنا ده . – زده کوونکي هغه ګوري – زده کوونکي په خپله خوښه دعنوان لږه لږه برخه لولي. – زده کوونکي تصويرونه ګوري او پوښتنو ته ځواب وايي. – زده کوونکي وايي چې دا اوبه دي. – زده کوونکي وايي چې دا وچه ځمکه ده. – زده کوونکي وايي چې دا ابنا ده. | سوال او ځواب کتاب لوستل نمايشي سوال او ځواب عملي کار | تخته، تباشير کتاب، چارت او نقشه |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | څه ورته وايي. – ښوونکي وايي چې نړۍ وچه دوه اوبه سره بيلي کړي څه ورته وايي. – ښوونکي اوس نقشه ځوړندوي او زده کوونکو ته يې په نقشه کې ورښيئ. – ښوونکي درس خلاصه کوي. | – زده کوونکي وايي چې دا خاکنا ده . – زده کوونکي دښوونکي توضيحاتوته غوږ نيسي او نقشي ته ګوري. – زده کوونکي غوږ نيسي او ځان پوهوي. | | |
| 3 | مشق او تمرين وخت: 10 دقيقي | – ښوونکي زده کوونکي له ټولګي څخه بهر بيايي او زده کوونکي په څو ګروپونو ويشي. هر ګروپ ته وايي چې آبنا او خاکنا دځمکي پرمخ جوړې کړئ. | – زده کوونکي په ګروپي ډول هر يو ماکنا او آبنا جوړوي. | ګروپي کار | کتاب نقشه اوبه او خاوري |
| 4 | ارزيابي او کورني کار وخت: 3 | –ښوونکي پوښتنه کوي چې آبنا تعريف کړي | – زده کوونکي آبنا تعريفوي. – زده کوونکي | سوال او ځواب | کتابچه |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | دقيقي | – ښوونكي پوښتنه<br>كوي چې خاكنا<br>تعريف كړي<br>–ښوونكي پوښتنه<br>كوي چې څوک به<br>ابنا او خاكنا په نقشه<br>كې وښئ.<br>–ښوونكي پوښتنه<br>كوي چې دآبنا او<br>خاكنا مثالونه<br>وركړي. | خاكنا تعريفوي.<br>– يو زده<br>كوونكي آبنا او<br>خاكنا تپه نقشه<br>كې ښئ.<br>–مختلف زده<br>كوونكي مختلف<br>مثالونه وركوي. | | |

2. مضمون: رياضي  ساعت: پنځم

ټولګي: 4  دزده كوونكو شمير: 34

موضوع: دهم مخرج كسرونو تفريق  وخت: 45 دقيقي

**عمومي هدف:** درياضي دمضمون په هغو موضوعاتو چې دڅلورم ټولګي لپاره په پام كې نيول شويدي په ښه توګه پوهيدل، ترڅوو كولاي شي دخپل ځان، كورنۍ او ټولنې په اړوند دژوند په بيلا بيلوبرخو كې ورڅخه كار واخلي.

**خصوصي هدف:** زده كوونكي بايد ددې لوست په پاې كې:

1. دهم مخرج كسرونو دتفريق په عمليه پوه شي.
2. په ورځني ژوند كې ورڅخه كار واخستلاي شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

3. زده کوونکي وکولاي شي دهم مخرج کسرونو دتفريق په مفهوم په مقرون، نيمه مقرون او مجرد ډول پوه شي.
4. هغوي وکولاي شي هم مخرجه کسرونه دحسابي عمليي په واسطه تفريق کړاي شي.

| ګڼه | قدمونه اووخت | دښوونکي فعاليتونه | دزده کوونکو فعاليتونه | درسي ميتود | درسي مواد |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | هڅونه وخت: 5-7 دقيقي | په سلام سره ټولګي ته ننوتل، دټولګي نظم برابرول، دحاضرۍ سره دزده کوونکودشمير مقايسه، دتيرې ورځې ددرس ارزيابي، دکورني کارليدل او اصلاح، دنوي درس سره دتير درس ارتباط او همدارنګه دکسرونو تفريق ته دپوښتنو له لارې راتلل. دشمير دعددونو دڅلور ګونو عمليو په شان په کسري عددونو کې دڅلور ګونو عمليو پلي کول. | دښوونکي سره دروغبړ څخه وروسته داصلاح لپاره دکورني کار وړاندې کول، دښوونکي پوښتنو ته دتير درس په هکله ځوابونه ورکول، دښوونکي دپوښتنو په رڼا کې دنوي درس دعنوان پيدا کول. | سوال او ځواب بحث کول | تخته، تباشير کتابچه قلم |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| ګنه | قدمونه اووخت | دښوونکي فعاليتونه | دزده کوونکو فعاليتونه | درسي ميتود | درسي مواد |
|---|---|---|---|---|---|
| 2 | په اصل موضوع کار کول وخت: 25-20 | – دنوي عنوان يعني دهم مخرجه کسرونو تفريق پرتخته ليکل.<br>– که دوه عددونه جمع شي نو ددې عددونو هر يو په څه نوم يادوي.<br>– دجمع ديو جز دپيدا کولو لپاره د کومې عمليې څخه کار اخستل کيږي.<br>– دا عمليه څنګه سرته رسيږي.<br>– کولاي شو چې داعدادو په شان دا عمليه په کسرونو کې ترسره کړو؟ | – زده کوونکي عنوان ته ګوري.<br>– زده کوونکي وايي چې دجمع داجزاو په نامه يادوي.<br>– دتفريق دعملې څخه کار اخلي.<br>– که دحاصل جمع څخه يو جز تفريق کړو دوهم جز ورکوي.<br>– هو ځکه چې کسرونه هم اعداد وي. | سوال او ځواب نمايشي ميتود عملي کار ليکل او لوستل | قلم، کتاب تخته، تباشير د کاغذ تريسه چارت |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | — نور زده کوونکي دخپل ملګري دا عمليه ګوري. | — ښوونکي يو کاغذ را اخلي او زده کوونکو په واسطه هغه په شپږ برخو ويشي. | | |
| | | — زده کوونکي وايي چې $\frac{6}{6}$ . | — څنګه کولای شو چې دا شپږ برخې دکسر په شکل وليکو. | | |
| | | — زده کوونکي وايي چې $\frac{2}{6}$ . | — ښوونکي ددې شپږو برخو څخه دوه برخې يو زده کوونکي ته ورکوي او دا پوښتنه کوي چې دا به په کسر څنګه وليکو. | | |
| | | — زده کوونکي وايي چې 4 برخې. | — ښوونکي پوښتنه کوي چې زما سره څو برخې پاتې شوې. | | |
| | | — زده کوونکي وايي چې $\frac{4}{6}$ . | — دا څلور برخې په کسر څنګه ليکلای شو. | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | – ښوونکي پوښتنه کوي چې $\frac{6}{6}$ برخو څخه $\frac{2}{6}$ برخې کمې شي نو څو برخې به پاتې به شي.<br>– دا عملیه څنګه لیکلای شو.<br>– ښوونکي دا عملیه په لنډه توګه بیا تکراروي. | – زده کوونکي وايي چې که د $\frac{6}{6}$ برخو څخه $\frac{2}{6}$ برخې کمې شي پاتې $\frac{4}{6}$ کیږي.<br>– یو زده کوونکي تختي ته راځي او لیکي $\frac{6}{6}-\frac{2}{6}=\frac{4}{6}$.<br>– زده کوونکي غوږ نیسي او ځان پوهوي | | |

| ګڼه | قدمونه اووخت | دښوونکي فعالیتونه | دزده کوونکو فعالیتونه | درسي میتود | درسي مواد |
|---|---|---|---|---|---|
| 3 | مشق او تمرین وخت: 15- 10 دقیقي | – ښوونکي زده کوونکي په 5 ګروپونو ویشي. هر ګروپ ته مختلف شیان ورکوي چې هر | – زده کوونکي دښوونکي دهدایت مطابق دمقرون څخه نیمه مقرون ته او بیا مجرد حالت | ګروپي کار | مختلف ارزان شیان، قلم، کاغذ او نور |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | ګروپ به هغه شي په ځو مختلفو برخو ويشي او له هغي څخه به ځو مختلفي (نظر ګروپ ته) برخې اخلي او بيا ور څخه پوښتنه کوي چې ځو برخې پاتي شوې. دغه په کسرونو باندي ليکي. | ته راځي او دتفريق عمليه اجرا کوي. | | |
| 4 | ارزيابي او کروني کار | – په ځو زده کوونکو باندې په توره تخته دځو هم مخرجه کسرونو مثالونه حلوي.<br>– دوه دهم مخرجه کسرونو سوالونه دکورني کار په توګه ورکوي. | – زده کوونکي په نوبت راځي او يو يو سوال حل کوي.<br>– زده کوونکي سوالونه په کتابچو کې اخلي اوبيايې په کور کې حل کوي | ليکل او مباحثه | توره تخته تباشير، کتابچه |

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددي لپاره جې په ساعتوار درسي پلان کې په ښوونکي متمرکزتدریس او په زده کوونکي متمرکز تدریس په توپیرونو پوه شودهمدې ډول درسي پلانونو څخه یوه یوه نمونه وړاندې کوؤ.

## ددرسي پلان په ښوونکي متمرکز تدریس:

مضمون: دینیات
ساعت: پنځم
ټولګي: څلورم
ښوونکي: عزیزالله
موضوع: اودس
دزده کوونکو شمیر: 40

**هدف:**

**عمومي هدف:** ددې لپاره چې زده کوونکي په اسلامي عقیده، عاداتو، شرعي احکامو باندې پوه شي د الله (ج) رضا حاصله کړي او په عملي ژوند کې ورڅخه کار واخلي.

**خصوصي هدف:**

1. زده کوونکي دلوست په پاي کې دموضوع په هکله متن ولوستلي شي.
2. د اوداسه په مفهوم پوه شي او په سمه او شرعي توګه اودس وکولاي شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| ګڼه | قدمونه او وخت | دښوونکي فعالیتونه | دزده کوونکو فعالیتونه | درسي میتودونه | درسي مواد |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | هڅونه وخت: 5-3 دقیقي | په سلام سره صنف ته داخلیدل، روغبړ کول، حاضري اخستل، او دنوي لوست پیل. | دښوونکي سره دروغبړ څخه وروسته دحاضري نمونوته غوږ نیول اوښوونکي ته ځواب ورکول. | لکچر، لوستل غوږ نیول. | کتاب، توره تخته، تخته پاک، تباشیر. |
| 2 | په اصل موضوع کار کول. وخت:35-30 دقیقي | – ښوونکي دوه – درې ځلې لوست لولي.<br>– ښوونکي د اوداسه په هکله معلومات ورکوي.<br>– ښوونکي زده کوونکو ته وایي چې یو یو تن درس ولولي.<br>– ښوونکي کورنۍ وظیفه ورکوي. | – زده کوونکي ښوونکي ته غوږ نیسي او کتاب ته ګوري.<br>– زده کوونکي دښووکي معلومات ورکولو ته غوږ نیسي.<br>– زده کوونکي په نوبت سره د لوست موضوع لولي.<br>– زده کوونکي کورنۍ وظیفه | لکچر، لوستل غوږ نیول. | کتاب، توره تخته، تخته پاک، تباشیر. |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | | یاداشت کوي. | | |
| 3 | مشق او تمرین | دا مرحله د دوهمي مرحلي برخه ګرځي | | | |
| 4 | ارزیابي او کروني کار وخت: 5– 2 دقیقي | – بریالي: ته لوست ولوله.<br>– زمري: ته یې ولوله.<br>– احمد: اودس څه ته وایي.<br>– عبدالله: ته ووایه چې اودس څه شي دي. | – بریالي درس تر پایه لولي.<br>– زمري هم دبریالي عمل اجرا کوي.<br>– اودس دلاس اومخ مینځل دي.<br>– عبدالله هم داحمد خبره تائیدوي. | سوال او ځواب | کتاب، قلم، کتابچه |

## درسي پلان په زده کوونکو متمرکز تدریس:

مضمون: دینیات
ټولګي: 4
موضوع: اودس

ساعت : دریم
ښوونکي: محمد عمر
دزده کوونکو شمیر: 45

**هدف:**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**عمومي هدف:** داسلامي ټولنې اولاد داسې وروزل شي چې په شرعي حکمونو، اسلامي عقيدې او عادتو پوه شي او دالله(ج) درضا لپاره ورځخه په عمل کې ګټه واخلي.

**خصوصي هدف:**

1. دکتاب متن ولوستلي شي.
2. دموضوع په متن پوه شي.
3. په عملي توګه اودس وکولاي شي.

| ګڼه | قدمونه او وخت | دښوونکي فعالیتونه | دزده کوونکو فعالیتونه | درسي میتود | درسي میتود |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | هڅونه وخت:7–5 دقیقې | – په سلام سره ټولګي ته داخلیدل.<br>– دزده کوونکو سره روغبړ کول، او دهغوي داحوال پوښتنه.<br>– دکورنۍ وظیفې لیدل او اصلاح.<br>– دتیر درس | – دښوونکي سره دروغبړ اوداحوال پوښتني ځخه ورروسته<br>– دکورني کار وړاندي کول<br>– دښوونکي پوښتنو ته ځواب ورکول<br>– دښوونکي دپوښتنو په رڼا | بحث، سوال او ځواب | کتاب، تخته پاک تباشیر. |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | ارزيابي اونوي درس سره دهغې ارتباط. | کې دنوي او زاړه درس ارتباط پيدا کول او دنوي درس عنوان اخستل | | |
| 2 | په متن کار کول وخت:20–15 دقيقې | – دنوي درس په هکله لاربنوونه، په ډېرو زده کوونکو لږ لږ متن لوستل<br>– دزده کوونکو څخه دمشکلو الفاظو پوښتل<br>– دزده کوونکو په واسطه دمشکلو الفاظو وضاحت<br>– د اوداسه مفهوم پوښتل | – زده کوونکي غوږ نيسي او لږ لږ متن لولي.<br>– زده کوونکي مشکل الفاظ اظهاروي<br>– زده کوونکي توجه کوي او خپل ملګري خبروته غوږ نيسي<br>– زده کوونکي ځواب وايي | سوال او ځواب بحث، توضيح لوستل او عملي کار. | کتاب، تخته، تخته پاک، تباشير، کوزه، اوبه. |

| ګڼه | هدمونه او وخت | دښوونکي فعاليتونه | دزده کوونکي فعاليتونه | درسي ميتود | درسي مواد |
|---|---|---|---|---|---|
| | | – زده کوونکي | – زده کوونکي | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | د اوداسه ځاي ته بيول او ښوونکي عملاً اودس ورښئ.<br>– دښوونکي په واسطه دلوست لنډيز | عملاً اودس کول ګوري او بيا په خپله اودس کوي<br>– زده کوونکي لنډيز ته زياته توجه کوي. | | |
| 3 | مشق او تمرين وخت: 5– 2 دقيقې | – ښوونکي زده کوونکي په ګروپونو ويشي<br>– هغه زده کوونکي چې په هر ګروپ کې دي او اودس کول يې زده کړي وي توظيفوي چې دګروپ نورو غړو په مخ کې اودس وکړي. | – ګروپونه بيل بيل ځانونوته اوبه تيار وي<br>– دخپل ملګري اودس کولو ته توجه کوي اوبيا يې هر يو په خپله اودس کوي | عملي کار | اوبه، لوټه او داوداسه ځاي. |
| 4 | ارزيابي اوکورني | – څوک به متن ولولي | – ټول شاګردان دلوستلو امادګي | سوال او | قلم، کتابچه |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | کار وخت:<br>5–2 دقیقې | – احمده ولوله<br>– څوک وایي چې اودس څه ته وایي<br>– څوک وایي چې اودس څه شي دي<br>– بې اودسه لمونځ کېږي<br>– څوک کولای شي<br><br>– په کورني کار کې ورته وایي چې په خپلو کورو کې وګوري چې مشران موځنګه ادس کوي او وپوښتي چې اودس دڅه | ښئ<br>– احمد متن لولي<br>– شاګردان ځواب ته امادګي ښکاره کوي<br>– زده کوونکي ځواب ویلوته لاسونه جګوي<br>– زده کوونکي ځواب ته تیاري ښکاره کوي<br><br>– ټول هلکان اماده دي.<br>– زده کوونکي کورني کار یاد داشت کوي | ځواب | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | | لپاره کوي | | |

دپورتنيو درسي پلانونو له مخې ويلاي شو چې په ښوونکي متمرکزتدريس او په زده کوونکي متمرکز تدريس څه توپير لري ديو ښيګڼې او موثريت دبل په پرتله مقايسه کولاي شي.

يادونه: نن ورځ په دي باندې زيات تاکيد کيږي چې زده کوونکو ته دتدريس په فعاليتونو کې زياته ونډه ورکړ شي. هرڅومره چې زده کوونکي زيات فعال دي هغومره ښه زده کړه ترسره کيږي.

کله چې په درس کې زده کوونکي زياته ونډه واخلي نودې تدريس ته په زده کوونکو متمرکزتدريس يا زده کوونکي دفعاليت دمرکز په نوم يادوي ځکه چې زده کوونکي زيات فعاليتونه سرته رسوي اوښوونکي لارښوني اوکنترول کوي.خو دا ددې معني نلري چې ښوونکي کوم فعاليت نه کوي او يا لږ فعاليتونه سرته رسوي. که لږ څه په ژوره توګه پام وکړو په دي ډول تدريس کې دښوونکو فعاليتونه او دندې نورې هم زياتيږي ځکه چې که ښوونکي زيات فعاليت ونکړي زده کوونکي په کار نشي اچولي اودفعاليتونو تنظيم هم نشي کولاي. په دي توګه ويلاي شو چې دښوونکو فعاليتونه دهغه ډول تدريس په پرتله چې ښوونکي پکې دفعاليت کوي خوښوونکي دزده کوونکو دفعاليتونو او کارونو لارښوونه کوي اوکومک ورسره کوي ترڅو زده کوونکي زيات کار او فعاليت وکړي او دزده کړې عمليه په ښه اوبريالي توګه پرمخ ولاړه شي.

دنيکه مرغه زموږ دتدريس اصلي بنسټ همدا اوس په زده کوونکو باندي متمرکز تدريس دي چې زيات ښوونکي يې په دې ميتودکې دتدريس لپاره روزلي دي.

(پاي)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مأخذونه


1. دتدریس اصول، پوهنوال محمد نادر شاه نیکیار، کابل پوهنتون، 1368هـــ ش.
2. رهنماي تربیه معلم، هئیت تربیوي تعلیم اوتربیه، I.R.C، 1990م.
3. پلان گذاري تدریس و پروګرام تدریس اموزي، محمد عالم سالمي، ادلد، همبستګي بلجیم، 1999م.
4. دښوونکو لارښود، دملګرو ملتونو تعلیمي، علمي اوکلتوري موسسه، یونسکو، 2001م.
5. اصول تدریس، الحاج سعدالله صاحبزاده، اداره همبستګي بلجیم، 1999م.
6. اصول تدریس، حاجي شیر محمد، I.R.C، 1993م.
7. دتدریس میتودونه او په پرمختلفو ټولګیو کي تدریس، دملګرو ملتو تعلیمي او کلتوري موسسه، یونسکو، 2000م.

*8.* Inductive method on teaching since, Unesco. Regional workshop on methodologies of teaching science in primary level. 1992

*9.* Education an introduction to educational philosophy and history Mrs. Tanvir Khalid 1990

*10.* Management of autism spectrum disorders and associated disabilities in schools. Dr S Rama, 2007

*11.* Reaserach Methods in psychology. John. Y shaughnessy New York. 2003

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library